(یوویشتمه پېړۍ، افغانستان او راتلونکي لرلیدونه)
سیمینار په ویاړ

# پښتون، افغان، افغانستان

Download from; aghalibrary.com

لیکوال: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032319 5

# پښتون، افغان، افغانستان

PROPERTY OF ACKU
32319

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه
۲۰۱۱/۱۳۹۰ کابل

Download from; aghalibrary.com

a.b.!

# کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | **پښتون، افغان، افغانستان** |
| لیکوال | پوهاند داکټر محمد حسن کاکړ |
| خپرندوی | د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه_جرمني |
| شمېر | **۲۰۰۰** ټوکه |
| د خپرونو لړ | **(۱۲۵)** |
| چاپ کال | ۲۰۱۱ م / ۱۳۹۰ ل |
| کمپوزر | ذبیح شفق |

**چاپځی:**

**د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه**

www.danishpress.com


ACKU

# د خپرندويې ټولنې يادښت

پوهاند محمد حسن کاکړ د افغانستان د معاصرې تاريخ ليکنې يو ځلانده نوم دی، چې په خپلو ژورو علمي او رڼو څېړنو يې د هېواد د تاريخ ډېر تياره گوټونه رانه کړي دي. د هغه کتابونه او ليکنې د هېواد د نن او پرون په اړه داسې څه رازده کوي، چې زموږ نوی نسل د خپل سبا په جوړولو کې ترې ډېره گټه اخيستلی شي.

ستاسو په لاسونو کې کتاب د پوهاند کاکړ د همداسې اثارو څخه يو دی، چې زموږ د پروني هويت د څېړنې له لارې په منطقي او علمي توگه موږ خپل نن ته رارسوي او د نن په اړه راپورته شويو پوښتنو ته ځواب وايي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه وياړي، چې د تاريخ په يوه حساسه دوره کې د يوه نوموتي تاريخ ليکوال يو بل داسې اثر خپروي، چې د پښتون، افغان او افغانستان په اړه ډېر څه ترې زده کېږي او دا زده کړه زموږ لپاره خورا مهمه ده.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه دا اثر (پښتون، افغان، افغانستان) په جرمني کې د "يوويشتمه پېړۍ، افغانستان او راتلونکي لرليدونه" تر عنوان لاندې د جوړېدونکي سيمينار په وياړ خپروي، هيله ده چې د تاريخ مينه والو ته به په زړه پورې وي.

په درنښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني

۱۲ نومبر ۲۰۱۱

ACKU

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | الف |
| **لومړی څپرکی: پښتون** | |
| لومړنی خبرې | ۱ |
| اریایان او پارس | ۱۱ |
| اریایان او هند | ۱۲ |
| اریایان او اریانه | ۱۴ |
| ساکا او ستیان سره بېل تبرونه وو | ۲۷ |
| ساکا او هخامنشي امپراتوري | ۳۲ |
| د مقدونیې سکندر او اریانه | ۳۵ |
| سکندر په ختیځه اریانه کې | ۵۴ |
| سکندر په هند کې | ۵۷ |
| د سکندر وروستی وخت | ۶۰ |
| یونان-باختري دولت | ۶۵ |
| پارتیه | ۶۹ |
| د چین لوی دېوال بشپړېدل او په باختر باندې د هغه اغېزې | ۷۱ |
| یوچیان یا کوشانیان | ۷۳ |
| ساسانیان او یفتلیان | ۷۷ |
| پووندہ او مېشت ولسونو ته یو عمومي نظر | ۸۱ |
| پښتون په لرغونې زمانه کې | ۸۸ |
| **دویم څپرکی: افغان** | |
| افغان | ۱۲۲ |
| **درېیم څپرکی: افغانستان** | |
| اریانه | ۱۳۹ |
| خراسان | ۱۴۸ |
| افغانستان | ۱۵۴ |
| دافغانستان د پولو ټاکنه | ۱۷۱ |
| د ډیورنډ توافق لیک | ۲۲۰ |
| یادښتونه | ۲۲۴ |


ACKU

# سریزه

ACKU

دغه لیکنه په اصل کې یو تاریخي اثر او په مشخص ډول د لرغوني افغانستان د تاریخ یوه لنډه سروې ده د اریانه په تېره د لومړي مهالونو تاریخ کښل ګران څه، چې تر ډېره حده یو ناشونی کار دی. اساسي مشکل دا دی، چې د لرغوني اریانه په اړه تاریخي شواهد بیخي لږ او حتی د نه شته په حال کې دي او دا خو واضحه ده چې چېر ته شواهد نه وي، هلته تاریخ نه وي. دا چې د اریانه ویدي دوره او په خاص ډول د پاراداتـ! یا پیشدادیانو دوره افسانه ییز ماهیت لري، په اصل کې له همدې امله ده.

د اریانه اوستایي دوره په نسبي ډول تر یوه حده

روښانه ده د روښانتیا یو دلیل د زردښت د وخت زند اوستا شته والی او بل یې د یونانی تاریخپوه هېرودوت تاریخ نومي اثر دی، چې په زیاته اندازه د هخامنشي امپراتورۍ په اړه دی هغومره چې د نړۍ لومړني تاریخپوه هېرودوت په خپل دغه اثر سره د لویدیځې اسیا، منځنۍ اسیا او تر څه حده د سهیلي آسیا لرغوني تاریخ روښان کړی، بل تاریخپوه نه دی روښان کړی له همدې امله به وي چې ځینو تاریپخوهانو هخامنشي دوره د نړۍ ددغې برخې لومړنۍ تاریخي دوره ګڼلې ده

ددغې پراخې سیمې په هکله مقدوني سکندر (مخزېږدي ۳۵۶_۳۲۳) له یرغلونو نه وروسته تاریخپوهانو دغومره ډېرې لیکنې کړي، چې په هغو سره یې د هغه ټوله دوره تر زیاتې اندازې روښانه کړې او له هغه نه د وړاندې او وروسته دورو په اړه معلومات وړاندې کړي دي

د دوی د اثارو پر بنسټ کېدلی شي د لرغوني افغانستان ددغو دورونو تاریخ وکښل شي، که څه هم هغه به پوره نه وي په افغان تاریخپوهانو کې تاریخپوه احمد علي کهزاد دغه کار کړی او په دې اړه یې یو لوی اثر په دوه لویو ټوکونو کې د افغانستان پخوانی تاریخ په نامه کښلی دی، خو کهزاد د خپل وخت ټول یا حتی ډېر آثار په لاس نه لرل، له هغه نه وروسته په دې اړه ډېر نور

آثار هم خپاره شوي دي. ما په خپل دغه اثر کې له دغو نویو آثارو نه هم استفاده کړې ده، خو زما دغه لیکنه د لرغوني افغانستان د تاریخ یوه لنډه سروې ده. ددې لپاره چې د پښتنو ځرک پکې ومومم. ددغو اثارو پر بنسټ زه په خپلې دغې څېړنې کې په دغه نظر شوی یم، چې پښتانه په اصل کې ساکا دي، یا د ساکا کومه څانګه ده. ساکا چې له ستیانو نه جلا یو اریایی قوم و، په کومې نامعلومې لرغونې زمانه کې د اریایانو له لویې ډلې نه بېل شوی او بیا ډېری یې په لرغوني افغانستان یا اریانه کې مېشت شوي دي. په دې ډول پښتانه د افغانستان ډېر لرغوني اوسېدونکي کېږي. دغه ټولې موضوعګانې ددغې لیکنې په لومړني څپرکي کې بیان شوي دي.

په دوهم څپرکي کې د افغان نوم او د هغه تحول څېړل شوی دی. ګاونډیو ولسونو پښتانه د اسواکا، اسوه غانه او ابګان په نومونو یادول، چې هغه بیا په اسلامي افغانستان کې په افغان تحول وکړ. هغسې چې نور پښتانه افغانان بلل وروسته یې د افغانستان ټول اوسېدونکي هم په دغه نامه یادول. دا ځکه چې دغو افغانانو د یرغلګرو په برابر کې د خپلو ملي، وطني او عقیدوي ارزښتونو نه دفاع کوله.

په پای کې د افغان نوم دغومره حاوي، یو موټی کوونکی او تمثیل کوونکی شو چې د وطن ټولو

اوسېدونکیو هغه په دغه مفهوم ومنه او غوره شویو استازو یې په اساسي قانونونو کې هم ثبت کړ اوس افغان هغه څوک دی، چې د افغانستان قانوني تبعه دی په دغه ډول د افغان نوم هم افغانانو او هم نړۍ والو ته د ملي توب، ملي دولت او مدني ټولنې پېژندنکی شوی دی

وروستی څېر کی ددغو افغانانو هېواد، افغانستان ته ځانګړی شوی دی ځنګه چې په دغه هېواد کې انسانان له ډېر پخوا نه اوسېدل، هستوګنځي یې هم په ډېرو نومونو یاد شوی دی چې په هغو کې اریانه، خراسان او افغانستان یې ښه مشهور دي دلته د افغانستان د ښې پوهاوي پاره اریانه او خراسان هم معرفي شوي دي، خو په داسې حال کې چې اریانه او خاسان اوس وچ تاریخي نومونه دي، افغانستان ژوندی، په زړه پورې او خوځونکی مفهوم لري اوس یوازې دغه نوم دی،ې چې افغانان په حقوقي، روحي، هویتي او وجودي لحاظ ځانونه ورپورې تړي، خو له بده مرغه په نولسمې پېړۍ په تېره د هغې په اخر کې دغسې پېښې وشوې چې په هغو سره د ستر احمد شاه د وخت افغانستان هم کوچنی شو او همد اصلي افغانستان غټه برخه تر ښه بېرون وګڼل شوه په دغې برخې کې هم د افغانستان دغه تحول او هم د هغه د حدودو ټاکنه بیان شوې ده

د موقع په غنیمت ګڼلو سره زه دلته یو ځل بیا د افغان

کلتــوري ودې ټــولنې او د هغــې لــه محتــرم ســروال زريــن انځور نه مننه کوم ، چې زما دغه اثر هم خپروي ، لکه چې دمخــه يــې زمــا ډيــر اثرونــه خپــاره كــړي دي دغــې ټــولنې تراوسه يو سل او شل اثار خپاره کړي ، چې په دې ډول يې د پوهې په خپرولو او دا شان کلتور په شتمن کولو کې د قدر وړ غښ خدمت کړی دی

محمد حسن كاكړ

مى ۲۰۱۱

a-10

# لومړنۍ خبرې

۱۳۳

## پښتون

پښتون د افغانستان له هغو قومونو څخه دی، چې ددغه هېواد اصلي اوسېدونکي یا ډېر لرغوني اوسېدونکي دي، نور قومونه د تاریخ په اوږدو کې یو وخت بل وخت دلته مېشت شوي دي. څنګه چې افغانستان په اسیا کې د پراخو سیمو په مینځ کې پروت دی، لوی فاتحان او لوی ټبرونه له لرغوني مهال نه راپه دېخوا پکې ننوتلي، تېرېنه وتلي او څه یې پاتې شوي دي. له همدې امله ده، چې نن ورځ په دغه هېواد کې ډېر ټبرونه مېشت دي او څه باندې دېرش ژبې او لهجې پکې ویلی کېږي، خو پښتو او پارسو یې تر ټولو ډېرې خورې ژبې دي.

د هېواد ټول اوسېدونکي د افغانستان په ټولو اساسي قانونو کې د افغان په نامه یاد شوي دي او افغانان د قانون له نظر نه سره برابر حقونه لري او د ژبې، قوم ولي، جنس

او مذهب له نظر نه توپیر یکې نه شته او که څوک د امتیاز خاوند کېږي ، هغه به د شخصي وړ تیا ، وطن او خلکو ته د خدمت له امله وي ، یا باید همدغسې وي

ددغې لیکنې د بحث اصلي موضوع پښتون ، افغان او افغانستان دی ، په نورو ټبرونو او موضوع ګانو هغه وخت بحث کېږي ، چې په اصلي موضوع پورې تړاو ولري داچې پښتون څه وخت پیدا شوی ، معلومه نه ده په اصل کې د پیدایښت موضوع لانجمنه او ګرانه ده دغې موضوع انسانان سره وېشلي دي هغوی چې پیدایښت لوی څښتن ته منسوب ګڼي او هغوی چې پیدایښت د تکاملي عملیې نتیجه بولي داچې کاینات څه وخت پیدا شو ، په دې اړه هم ډول ډول نظرونه وړاندې شوي دي په ساینس پوهانو کې دغه نظر خور دی ، چې د کایناتو پیدایښت دیارلس عشاریه اوه ملیارد کاله پخوا د یوه غټ ټکر یا چاودنې (The Big Bang) نتیجه ده ، خو دا دغسې یو پېچلی نظر دی چې بیان یې ګران او درک یې لا هم ګران دی ، مګر هغو ته چې ساینس پوهان او په تېره فزیک پوهان دي ، ددغې لیکنې په تړاو به دلته دغومره وویل شي چې انسان د ځمکې له پاسه د درې سوه او درې سوه زرو کلونو په مینځ کې په افریقې کې پیدا شوی د انسان په اړه دا لومړنی تاریخي واقعیت دی په دې چې ددغه مهال انسانانو هډوکي په افریقې کې موندل شوي دي له دغو

انسانانو نـه ځینـو یـې اټکـل سـل زره کالـه دمخـه سـهیل لویـدیځې اسیا تـه او بیا لـه دغـو سیمو نـه د اسیا اروپا پراخـو تـودو سیمو تـه مهاجرت وکـړ لـه دغـو انسانانو نـه ځینـې یـې اټکـل دپـرش زره کلونـه دمخـه سـایبریا تـه ورسـېدل او بیا ځینـې یـې د کنګـل پـه دغـې دورې کـې د بېرنـګ لـه لارې امریکـې تـه لاړل(!) د کولمبیـا پوهنتـون یـو فزیـک پـوه لا پـه دې نظـر دی، چـې "پـه واقـع کـې نـور ټکرونـه هـم وو چـې یـوه یـې زمـوږ کاینـات رامینـځ تـه کـړ او نـورو ټکرونـو نـور کاینـات رامینـځ تـه کـړل" پـه دې حساب د شـته والـي پـه حوضـه کـې بـې شـمېره کاینـات وجـود لـري، چـې هـر یـو یـې کهکشـانونه (Glaxies) او هـر کهکشـان یـې نظامونـه او هـر نظـام یـې سـتوري لـري او زمـوږ ځمکـه د لمریـز نظـام یـو سـتوری دی چـې د هغـه پـه مـدار څرخـي، پـه داسـې حـال کـې چـې کاینـات نامحـدود او د پراخېـدلو پـه حـال کـې دی.

خـو دا معلومـه نـه ده، چـې انسـاني نژادونـه څـه وخـت جـوړ او څرګنـد شـول لـه نـژاد نـه مطلـب د انسـانانو هغـه زولـوجیکي ډلـه ده، چـې نسـبتاً ثـابتې ارثـي ځانګړ تیـاوې لـري او پـه خـاص ډول د رنـګ، ویښـتو، مـخ او بـدني جسـامت لـه نظـره لـه نـورو انسـانانو نـه تـوپیر لـري، لکـه سـپین پـوټکي اریایـان او تور پوټکي افریقایان.

تـاریخ پوهـان، ژبپوهـان، لرغـون پوهـان او انسـان

پېژندونکي په دغه نظر دي، چې پښتانه سپين پوټکي اريايان دي دغه نظر د نزدې دوو پېړيو په بهير کې تثبيت شوی، يانې وروسته له هغه چې اروپايانو په تېره انګرېزانو د افغانستان او د هغه د اوسېدونکيو په اړه څېړنې او ليکنې وکړې دغسې ليکنې وروسته له هغه دېرې شوې، چې فرانسوي لرغون پېژندونکيو ته د شلمې پېړۍ په اولې نيمايي کې اجازه ورکړل شوه، چې په افغانستان کې کندنې وکړي فرانسويانو اول د پروفيسر شلومبرزي، بيا د ا ګرشمن او ډاکټر برنارډ په مشري د سرخ کوتل ډېرينه ليکنه او د آی خانم يوناني ښار لوخ کړ فرانسويانو په دغه ډول د افغانستان تاريخ په روښانه کولو کې غټه ونډه لرلې ده.

افغان تاريخپوهانو هم د افغانستان د تاريخ په اړه په دغه مهال کې تر هر بل وخت نه ډېرې ليکنې او څېړنې کړې دي په دوی کې احمد علي کهزاد، مير غلام محمد غبار او عبدالحی حبيبي وتلي تاريخپوهان او د بې شمېره اثرونو خاوندان شول دوی په خپلو اثارو کې د افغانانو هويت په تاريخ کې تثبيت کړ او افغان پېژندنه يې د باندنيو پوهانو له انحصار نه وژغورله د دوی په نظر هم پښتانه په اصل او نسب کې اريايان دي په دغه اړه نور روايتونه هم وړاندې شوي دي، چې ډېر خپور شوی روايت يې دا دی، چې پښتانه د اسرائيلو د لسو ورک

شویو قومونو څخه هغه قوم دی ، چې له سوریې څخه وشړل شول او په غور کې مېشت شول ، خو دا یو جوړ شوی یا جعلي او بې بنسټه روایت دی ، چې د همدغه څېړکي په پای کې به پرې وغږېږم

پښتانه به هغه وخت د لومړي ځل لپاره څرګند شوي وي ، چې اریایان ډلې ډلې شول او له خپل اصلي ټاټوبي نه ولېږدېدل. اریایان له نن نه شپږ زره کاله دمخه په یوه ژبه ګړېدل ، چې هېڅ څرک یې نه دي لیدل شوي ، خو وروستیو داریک په نامه یاده کړې ده. اریایان چې سره ډلې ډلې او بېل بېل شول ، ژبې یې هم ډېرې او بیلې شوې ، خو پوهان په دې اړه چې د دوی لومړنی ټاټوبی چېرې و ، په یوه نظر نه دي. دوی ځکه په یوه نظر نه دي ، چې په دې اړه شواهد نه شته او نظرونه هم ډېر دي. ددغو نظرونو له مخې د اروپا بېلې سیمې لکه: جرمني ، سکندنویا ، د مدیتراني سیمې د اریایانو لومړی ټاټوبي ښودل شوی دی ، خو اروپایان چې په اسیا کې په نولسمې پېړۍ کې ډېر ښکېل شول او پوهانو یې چې هندي او ایراني ژبې وڅېړلې ، په دې فکر شول چې د دوی خپلې ژبې له دغو ژبو سره خوېندې دي. ماکس میولر (Max Muler) او نور ژبپوهان په دې نظر دي ، چې اریایان د هندو اروپایانو نیکونه دي. په دې ډول د اریایانو اصلي ټاټوبی په اسیا کې وګڼل شو[۲]

په دې اړه تاریخپوه کهزاد په باور تیا سره وایي ، چې "د اریایانو د پیدا کېدو او ظهور ځای او ځانګو د اکسوس د سرچینې او سردریا ترمېنځ سړه او یخه منطقه ده[۳]" خو نومیالی استرلیایي انسان پېژندونکی ګوردن چایلډ (Gordon Childe) په خپل اریان (The Aryan) نومي اثر کې د اریایانو د پیدا کېدلو په اړه د یاد شویو ګڼېو له تحلیل نه وروسته خپل نظر په دې ډول ښکاره کوي "د تاریخي مهالونو د اریایي ولسونو غټه برخه د ډبرې د دورې (Stone Age) د ناردیک (Nardic) د جنګي تبر خلکو له نسب څخه ښودل کېدلی شي د ختېځو لوښو او وسلو په مرسته به د هغو سرچینه په لړ و ډېر باور تیا سره له دغو مرکزونو څخه یوه ته ورسوله شي- سهیلي روسیه یا سکندنویا" خو دی د سهیلي روسیې د ګڼې احتمال پیاوړی ویني[۴] ډېر نور پوهان هم په همدغه نظر دي دغه نظر په دې هم قوي دی ، چې له سهیلي روسیې نه د اریایانو لومړی لېږد څرګند دی ، چې بیان به یې زر وشي

دغه سیمه د اروپا- اسیا (Eurasia) هغه برخه ده ، چې د اریایانو لېږد ترېنه څرګند دی دغه سیمه د اروپا- اسیا هغه پراخه برخه ده ، چې د هنګري له ختیځ ځنګلونو نه د مانچوریا تر شنو ورشوګانو او د سایبیریا له جنوبي څنډو نه د تبت تر لوړې سطحې پورې د نړۍ درېیمه برخه ځمکه په غېږ کې نیسي او منځنۍ اسیا یې زړی جوړوي

دغه ډېره پراخه سیمه چې د التای (Altai) غرونه يې په دوه برخو وېشي ، دغسې پراخ ډاګونه او ورشوګانې لري چې د څارويو د ساتنو او پوونده توب لپاره د نړۍ تر هرې بلې سیمې نه ډېره برابره ده[5] په څنډو کې يې له پخوا نه کرنه کېده. په دغې سیمې کې له ډېر پخوا نه د لوړ کلتور خاوند خلک اوسېدل. اریایان له همدغې سیمې نه نورو خواوو ته د اروپا په ګډون تللي دي[6]. سرمه تیان (Sarmatians) لومړني اریایان دي ، چې اروپا ته رسېدلي دي. د همدغې سیمې خلکو وحشي اس د لومړي ځل لپاره رام کړی او د اس کلتور يې د نړۍ نورو برخو ته یووړ. داسې هم دوی له اس نه لومړی د کشولو او بار وړلو او وروسته د سپرلۍ کار اخیستلی دی او د هغه په مرسته يې تر اروپا پورې ملکونه لاندې کړي او امپراتوري ګانې جوړې کړي دي.

اوس به په هغو دولتونو نظر واچول شي ، چې په جنوبي روسیې او شاوخوا سیمو کې د اریایانو په لېږد سره رامینځ ته شوي دي. له دغې سیمې نه د اریایانو لېږد له نن نه څلور زره کاله دمخه اټکل شوی. څنګه چې دغه اریایان د سپین پوټکو خلکو نیکونه دي او په اسیا او اروپا کې خورې ځانګې لري او ژبې يې سره ورته او په اصل کې سره یو دي ، د هندو اروپايي په نامه یاد شوي دي. دغه خلک د خپل لېږد په بهیر کې چې پېړۍ پېړۍ

یې نیولې په دوو برخو ووېشل شول لویدیځه او ختیځه برخه

لویدیځه برخه یې هغه ده، چې د تور سمندرګي له شمال نه د بالقان او باسفورس په لار وړې اسیا (Asia Minor) یانې ننني ترکیې ته ننوتل او د هغې له ځایي خلکو سره له ګډ کېدلو نه وروسته پرې لاس بري شوه او د هټایټ (Hittite) په نامه سلطنت یې جوړ کړ[7]

د هندو ایراني په نامه د اریایانو بله ډله د کسپین سمندرګي په غاړه د ختیځ خوا ته تاوه شوه او بیا دوه برخې شوه. یوه برخه یې له قفقاز نه واوښته د فرات په لور لاړه او هلته له ځایي خلکو هوریانو (Hurrians) سره مېشته شوه او وروسته یې د متاني (Mittani) په نامه دولت جوړ کړ[8] بله برخه یې چې تر هغې بلې نه ډېره لویه وه او په هندو اروپایي څانګې یاده شوه، د ختیځ په لور لاړه، له سر دریا او آمو نه واوښته په باختر کې مېشته شوه او بیا د پنجشیر او کابل پر سینونو ورښکته شوه[9] دا چې کهزاد د آمو او سردریا ترمنځ سیمه د اریایانو اصلي ټاټوبی ګڼي، موخه یې شاید د اریایانو دغه لېږد وي ګرشمن دا هم وایي، چې د اریایانو یوه بله څانګه چې ډېر دمخه د هند د لاندې کولو په مقصد په اراکوزیه (کندهار) او پنجاب کې مېشته شوې وه، د دغو اراییانو په مخ کې خنډ شوه چې په سیمو کې یې ورننوځي په نتیجه

ACKU

کې هغوی اړ شول ، چې د لویدیځ د لوړې سطحې په لور په هغې لارې یون وکړي ، چې له باختر نه د ایران (فارس) زړه ته رسېږي

ګرشمن چې د افغانستان په سیستان کې کندنې کړي په دغه ډول د کهزاد د هغه روایت ملاتړ کوي ، چې وایي اریایانو له باختر نه په ویدي دوره کې د ۲۰۰۰ او ۱۹۰۰ مخزېږدې شاوخوا کې په لېږد پیل کړی دی. کهزاد دغه لېږد او د هغه اوږد بیان د هغو سرودونو یا مذهبي سندرو له مخې کوي ، چې رالف ګریفت (Ralph. H.Griffith) په انګرېزي اړولي او عتیق الله پژواک هغه په پښتو یا فارسي ژباړلي دي [10] د ګرشمن او کهزاد د مهاجر تونو د (مغاړي کول پلټنه غواړي. دوی دواړه په دغې موضوع کې د صلاحیت خاوندان او لیکنې یې د باور وړ دي. د کهزاد لیکنه د هغه وخت پښتنو په اړه یوه مهمه سرچینه ده

په سهیلي روسیه کې د اریایانو له عمومي لېږد نه وروسته د سمریانو (Cimmerians)، ستیانو (Scythians) او سرمه تیانو (Sarmatians) واکمنې معلومه ده ، چې د زیږدې دریمې پېړۍ تر پیل پورې یې یو پر بل پسې کړې ده. ستیان چې له منځنۍ اسیا نه راولاړ شوي وو ، د هرودوت په وینا واکمني یې د ډان له سین نه د ډانیوب تر سین پورې جاري وه او په جنوبي روسیه کې یې یو

ACKU

پیاوړی دولت په پښو درولی و، چې درې پېړۍ وپایېده او په پای کې سرمه تیانو مات او عوض کړل له هغه وروسته په روسیه کې نور تبرونه په واک شول، لکه ګاتان (Goths)، هونان (Huns)، اواران (Avars) او نور تر دوی وروسته د سلاو (Slavs) تبرونه وو، چې د اومې، اتمې او نهمې زېږدي پېړیو په بهیر کې له لویدیځ یانې د ختیځې اروپا د کارپات (Carpath) له هسکو نه پکې خواره شول. دوی د سلاوانو د لوی تبر له ډلې نه په ختیځ سلاو یاد شوي دي. له دوی نه وروسته له سکندیانو نه ورنګي روسان (Varangians) په کییف کې اباد شول[11]، چې تراوسه په اروپایي او اسیایي روسیې واکمنې کوي. سرمه تیان هغه اریایان دي، چې اول اروپا ته ننوتل، لکه چې وروسته به ولیدل شي ستیان په اصل کې اریایان نه دي، خو په دغه نامه پېژندل شوي دي.

بله ډله خلک چې اصلي نوم یې معلوم نه دی په اناو (Anau) یاد شوي، چې د مک ګوان د لیکنې له مخې د امو په لویدیځ سهیل کې او د چایلد د لیکنې له مخې سیستان او مرو ته نژدې پراته وو[12].

اناویان چې اریایان وو د ځینو په نظر له اوس نه شپږ زره کلونه دمخه او د نورو په نظر دوه زره کلونه دمخه په کلو کې اباد وو، کرنه یې کوله، وحشي چتک یا یرغه

اس یې د لومړي ځل لپاره اهلي کړی و، لوښي یې انځورول او په ټولیز ډول د لوړ مدنیت خاوندان او د مصر او بین النهرین د کلتوري ژوند هم مهال وو(۱۳)، خو روسي انسان پېژندونکی الکزاندر بیلینیتسک (A.Belenitsk) وایي، چې د اناو د کندنې اهمیت لږ و په دې چې هغه یوه ځانګړې موقتي پېښه وه دده په وینا اناو د عشق آباد په اوه میلۍ کې د یوه کلي نوم و(۱۴)

## اریایان او پارس:

دا چې اریایان نننی ایران ته څه وخت او له کومې لارې ننوتل په یقین سره معلومه نه ده. په یوه روایت دوی په مخزېږدي یوولسمې پېړۍ کې هلته ننوتل په دوی کې مادان او پاړسوان یا پاړسیان د نامه خاوندان شول. مادانو د مخزېږدي اومې پېړۍ په نیمایي او پاړسوانو د شپږمې پېړۍ په نیمایي کې امپراتوري ګانې جوړې کړې. پاړسوان کوچیان وو او خپله مېنه یې پارسا (Parsa) ونوموله. پاچایي ټبر یې پازارګاد (Pasargadae) او پاچایي کورنۍ یې هخامنشي نومېده(۱۵). د هخامنشي کورنۍ سروال کوروس یا سیروس (Cyrus) په مخزېږدي ۵۵۰ کې مادانو ته ماتې ورکړه، چې پارس یې هم ترلاس لاندې و. سیروس او ځای ناستو یې له مصر نه تر اباسین پورې امپراتوري جوړه کړه، خو لاس لاندې

سیمې یې نیمه خپلواکو والیانو (Satraps) اداره کولې لکه چې وروسته به ولیدل شي سیروس د سردریا شاوخوا کې د ساکا د لوی ټبر د مساګیتا څانګې سره په جنګ کې له ۲۹ کلونو واکمنۍ نه وروسته ووژل شو [۱۶] د هخامنشي امپراتوري دوه پېړۍ دوام وکړ او د مقدونیې سکندر د څلورمې پېړۍ په دوهمې نیمايي کې هغه نسکوره کړه

## اریایان او هند:

ویدي سرودونه، اوستا او مهابهاراته (د هندوانو لرغونی حماسي اثر) هغسې چې په اریایي دوره کې د نورو څیزونو په اړه معلومات ورکوي، د ټبرونو په اړه یې هم ورکوي کهزاد ددغو ټبرونو په اړه اوږد بحث کړی دی، چې لنډیز یې دا دی [۱۷] د ویدي دورې یوه ډله ټبرونه په پنکه جانه یا د پنځو ټبرونو په نامه یادېده، چې ډېر مهم یې د بهاراته او پورو قومونه وو بهاراته چې تر ټولو لوی قوم و د بېړیو پېړیو په بهیر کې د سینونو پر غاړه یون وکړ، ترڅو له مخز ېږدې نه څوارلس سوه کاله دمخه له اباسین نه تېر شول شاعرانو او روحانیانو یې ددغه اوږده لېږد په بهیر کې نظمونه وپیيل، چې د ویدا (پوهې کتاب) په سرودونو یادېږي په دغو سرودونو کې جغرافیوي په تېره د سینونو نومونه د اریانه د هېواد دی بهارتیانو او نورو قومونو د اباسین او د هغه د یوه مرستیال سین په غاړه د هراپا او موهنجه دارو ښارونه او اوسېدونکي درای

ویـډیان (Draavidians) لانـدې کـړل او هغـوی یـې داسـا (Dasa) ونومـول چـې دغـه کلمـه د دووس پـه شـکل تراوسـه هـم ویلـه کېـږي لـه دوی سـره د اریایـانو جګـړې پـه ویـدي مذهبي سندرو کې مهمه موضوع ده

پـه هـر حـال، اریایـان بیـا د پنجـاب او ګنګـا پـه هـوارو کـې د مهاباراتـه پـه نامـه یـو سـتر حماسـي اثـر او نـور اثرونـه پـه سانسـکرت ژبـه کـې جـوړ کـړ او د هنـدویزم پـه نامـه یـې یـوه نوې ژونـد لاره غـوره کـړه، چـې د هغـې لـه مخـې یـې ټولنـه پـه څلـورو پوړونـو (Caste) وویشـله برهمنـان (Brahmans)، کشـتریان (Kashtariyas)، ویشـیا (Vaishyas) او شـودرا (Shudras) دغـه پوړونـه یـا طبقـې پـه ترتیـب سـره پـه دینـي لاربښـوونې، جنـګ، کرنـې او ښـکته چـارو وګومـارل شـوې شـودرا یـې ناپـاک ګڼـل او هغـوی لـه دینـه منـع وو، چـې ویـدي سـرودونه ولـولي یـا واوري دغـه طبقـې دغـومره ضـییقې ونیـولی شـوې، چـې د هـرې یـوې غـړی بـه تـر مـرګ پـورې د هغـې غـړی پـاتې وي داسـې هـم دغـو اریایـانو تـه تـور پـوټکي داسـا د مریـانو حیثیـت لاره پـه ټـولیز ډول دغـو اریایـانو د نـوي ټـولنیز او کـورني نظـام او داسـې هـم د سانسـکرت پـه تنظیمولـو سـره یـوه نـوې ژونـد لاره غـوره کـړه او خپـل نـوی هېـواد یـې بهاراتـه ورتـه ونومـوه پـه واقـع کـې دوی د نـوي دیـن او کلتـور او نظـام پـه رامېنځ تـه کولـو سـره ځانونـه لـه باختري اریایانو نه بېل کړل[۱۸]

## اریایان او اریانه:

په اریانه کې د ویدي دورې دغه ټبرونه پاتې شول الینایان (Alinas)، پکتیان (Paktians)، بهالانیان (Bahalanias)، شیوایان (Shivaians)، ویشانیان (Vishaninians)، انویان (Anuians)، دریوهویان (Druhyvians)، توරواشیان (Turvasaiahs)، یادویان (Yaduians) او پورویان (Puruians). د کهزاد دغه انویان شاید د مک گورن او چایلد هغه اناویان وي، چې دمخه یې بیان شوی دی. دادیکا دلته نه دی یاد شوی او هیرودوت هغوی د گندهاریو په ډله کې راوړي دي، چې وروسته به یې بیان وشي

په هر حال، دا هغه ټبرونه دي چې د کهزاد د لیکنې له مخې څه یې په باختر کې پاتې شول او نور یې له هندوکش نه واوښتل او تر اباسین پورې په هوارو او درو کې اباد شول او د لسو ملکانو له جنگ نه وروسته چې لسو ټبرونو پکې گډون کړی وو، له اریانه څخه ونه وتل او په خپلو سیمو کې پاتې شول

د کهزاد په وینا پکتیان یا پښتانه له باختر نه د ټبرونو د لیږد په وخت کې دوه برخې شول: "یوه څانگه یې له نورو قبیلو او کورنیو سره د هندوکش جنوب ته ښکته شوه او په اخر کې د اریانه په جنوب شرقي سختو منطقو او د غرو په لمنو کې میشت شوه او دغه ځای یې د

پکتیانو د استوګنې د ځای په نامه مشهور کړ " بله برخه یې په خپل ځای پاتې شوه او "د نورو ډېرو قبیلو په شان یې په باختر کې خپل ژوندون ته پسې دوام ورکړ (او) دغې ځانګې ویدي او اوستایي مدنیت په بخدي کې تېر کړ (۱۹)" کهزاد دا هم وایي، چې د هغو " یوې ځانګې د هغو مهاجرینو سره چې د لمر پرېواته خوا ته لاړل د هریرود په هغې خوا غرنۍ برخه کې د (اترک) او کشف او د حوزې د خزر سواحلو ته نږدې ځایونه ونیول او هغه ځای د دوی په نوم (پارتیا) یعنې د (پارتیانو) په ځمکه مشهور شو چې د اریانا یو ډېر غربي ولایت و " دې اضافه کوي، چې د هېرودوت د لیکنې له مخې "...یوه کوچنۍ ځانګه لا هم د غرب خوا ته مخکې تللې او د ارمنستان په غربي خوا کې یې استوګنه غوره کړې... او په دغه ځای کې هم په خپله دوی د پکتیس یا پکتوییس او خاوره او وطن یې د پکتیکا په نامه مشهور شو (۲۰)"

هېرودوت پښتانه د پکتیان (Pactyan) یا پکتیس (Pactycs) او هېواد یې د پکتیک (Pactyic) په نامه یادوي او د هند ګاونډیان یې ګڼي. وایي، چې " نور هندیان هغه دي چې د کسپتي روس (Caspatyrus) او د پکتیک (Pactyic) هېواد ګاونډیان دي. دی د دوی هېواد د هند په شمال کې ښيي او وایي چې "نور هندیان هغه دي چې د هند په شمال کې د کسپتي روس د ښار او د پکتیک د

هېواد ګاونډيان دي او دوی د باختريانو په شان ژوند کوي " دی دا هم وايي، چې "په هنديانو کې دوی تر ټولو ډېر جنګيالي دي[۲۱]" هېرودوت په نورو قرينو کې پکتيان بيا بيا ياد کړي دي بيلو او کهزاد بيا د پکتيانو د هېواد ساحه مشخصه کړې ده او ويلي، چې هغه له اوسنۍ پښتونخوا (د نولسمې پېړۍ پښتونخوا) سره سر خوري او د اباسين او هلمند سين ترمېنځ پر ته سيمه ده[۲۲]

دا هماغه سيمه ده، چې وروسته د ګندهارا او بيا په لر. تو پير سره د روه په نامه ياده شوې ده اصلي يا لومړنی افغانستان هم همدغې سيمې ته ويل کېده ددغه واقعيت په ملاتړ دا هم ويل کېږي، چې په دغې سيمې کې په ټولو دورو کې پښتانه هم مېشته وو او هم يې پکې کوچي توب کاوه کهزاد د هېرودوت کسپټي روس د کابل شاوخوا خلک ګڼي او اضافه کوي، چې دغو خلکو " د پکتيک (يا پښتني) د سيمې خلکو د عرف او عاداتو له کبله له باختريانو سره ډېر شباهت درلود[۲۳]" څنګه چې په باختر کې څه پښتانه پاتې شوي وو، طبيعي ده چې پکتيان به لکه څنګه چې هېرودوت وايي له باختريانو سره په ژوند طرز کې سره ورته وو

هېرودوت، چې د تاريخ پلار ګڼل شوی دی په مخزېږدي ۴۸۴ کال په کاريه (Caria) کې زېږېدلی چې په اناتوليې (نننۍ ترکيه) کې د يونانيانو سيمه وه

هېرودوت لــه ګرزنــده ژونــد ســره مینــه لرلــه، د پــارس او یونـــان د امپراتوریـــو دپرې برخـــې یـــې ولیـــدلې او د هغـــو ولســونو تکلونــه او عادتونــه یــې وکښــل، چــې یــې پــه خپلــه ولیـدل یـا یـې لـه نورو نـه واورېدل د تـاریخ پـه نامـه د هغـه پـڼ کتـاب د یونـان او هخامنشي پـارس جګـړې بیـانوي، خـو دده دغـه اثـر پـه اصـل کـې د جګـړو بیـان نـه دی هغـه پـه زیاتـــه انـــدازه د هخامنشـــي امپراتـــورۍ، د امیزانـــو (Amizons) یـــا جنګیـــالیو وژونکـــو ښـــځو او د ســـتیانو د حېرانوونکو تمرینونو بیان ته ځانګړی شوی

تـر هېـرودوت دمخـه یـو څـو لیکوالـو د ځینـو هېوادونـو او ولســونو تاریخونــه کښــلي دي، خــو د هغــوی راپــاتې پــاڼې نــامربوطې او نیمګــړې دي هېــرودوت پــه ټــولې نــړۍ کــې لــومړنی کــس دی، چــې د کســي کــوونکي اســتعداد یــې ښــودلی او د ډېــرو ملکونــو او مهــالونو بیــان یــې د ټــول پــه توګــه پــه منســجم ډول کـړی دی پــه خپــل اثــر کــې یــې اریــانونکي عادتونــه او عجــب مخوقــات هــم ذکــر کــړي، بــې لـه دې چـې خپلـې سرچینې پـه ګوتـه کـړي لـه دې املـه پـه ده بانـدې د درواغجـن او غولـول شـوي ګمـان هـم شـوی و، خـو پــه دې نــزدې وختــو کــې ارکیــالوجیکي کنــدنو دده لیکنــې تاییــد کــړې دي دده د تــاریخ لــه برکتــه ده، چــې پــه لرغـونې زمانـه کـې د یونـان او منځنـۍ اسـیا سـیمو تـرمنځ د ولسـونو تـاریخ دغـومره روښـان دی، چـې د نـړۍ بلـې سـیمې

تاريخ په دغه مهال کې هغومره روښان نه دی[۲۴].

هېرودوت د پکتيک هېواد پکتيان څلور ډلې خلک ښيي، چې د خپلو واليانو (Satraps) له لارې يې هخامنشيانو ته د کال ۱۷۰ تالان (Talents) باج ورکاوه. رچرد فرای د هېرودوت ددغه روايت په هکله شک ښکاره کوي[۲۵] دی دا هم وايي، چې د هخامنشيانو لاس بری هسې په نامه و او دغه ساتړپان يا له دننې خپلواکې نه پوره بهره من وو.

په هر حال، د هېرودوت دغه څلور ډلې خلک گنداري (Gandarii)، ستهگيدای (Sattagydae)، اپه ريتای (Aparytae) او داديکا (Dadicae) وو. گنداري، سته گيدای او اپه ريتا هم د خلکو او هم د سيمو په مفهوم نومونه دي، لکه چې اوس هم شينواري، خوگياڼي، مومند او اپريدي په دواړو مفهومونو يادېږي. کهزاد، غبار او تر هغو دمخه بيلو د داديکا په اړه اورډه غږېدلي دي[۲۶].
کهزاد د موضوع په اړه هم اوږد او هم په مشخص ډول غږېدلی دی. دوی ټولو گندهارا د کابل او اباسين ترمېنځ هېواد ښوولی دی او اوسېدونکي يې د گنداري په نامه ياد کړي دي، خو مشخص کړي يې نه دي. گندهارا البته د هېرودوت په وخت کې ډېر پراخ نه و. په دغه وخت کې ددغو ټبرونو ملکونه د کابل او پکتيک ترمېنځ پراته وو او پکتيک تر اباسين پورې غزېدلی هېواد و. د هېرودوت د

کتاب نقشه هم دوی په همدغه ډول ښيي ګندهارا وروسته په بودايي دوره کې له کابل نه تر اباسين پورې سيمې ته ويل کېده داسې ښکاري چې دغه ګندهارا د پکتيک ځای نيولی وي، ځکه چې له هغه وروسته د پکتيک نوم د هېواد په مفهوم ياد شوی نه دی په هر حال هېرودوت وايي چې ګنداريو او داديکا له دغسې الاتو نه کار اخيسته، لکه باختريانو، سغديانو، پارتيانو او خوارزميانو چې کار اخيسته[۲۷]

د کهزاد په نظر ګندارا يوه پخوانۍ کلمه ده، چې هم په ريګويدا او هم په اوستا کې راوړل شوې ده ګندهارا (Gandharra) يا ګندها (Gandha) په اصل کې د سانسکرت کلمه ده، د هغه روح په مانا چې په کافور (Incense) کې اوسېده او په ريګويدا کې د سوما (Soma) د ساتونکي په توګه ياد شوی دی[۲۸] ګندهارا په اوستا کې د ګندروا (Gandarwa) په نامه له کابلي کريس اسپه (Keresaspa) سره په جنګونو کې ياد شوی دی ګندهاريان په کوم وخت کې اول له هندوکش او بيا له امو نه واوښتل او سغدياني ته لاړل او نورو يې د لويديځ په لور ارغنداو ته مخه وکړه او هلته مېشته شول بيلو چې د نورو په شان دغه څلور قومونه پکتيان ګڼي وايي، چې په ارغنداو او هلمند کې ميشتو ګندهاريو په هلمند کې د ګندهار (Gandhar) په نامه يو ښار ودان کړو چې دغه نوم

د کندهار په بڼه تراوسه هم ژوندی دی ، خو دی د هغه وخت اوسېدونکي هندي نژاد ګڼي [۲۹]

اپه ریتا د ټولو پوهانو په نظر اوسني اپریدي دي ، چې د هېرودوت په وخت کې د سپین غره په سهیل کې اوسېدل او د ملک لویدیځه خنده یې له کسپتي روس یا اوسني کابل نه هم اوښتله کهزاد وایي ، چې اپه ریتای په زند او سانسکرت کې د غرني په مانا دی ستهٔ ګیدای د اپه ریتای ختیځ لور ته هېواد کې اوسېدل کهزاد سته ګیدای د دوو کلمو ترکیب ګڼي ، چې لومړی یې (ستا یا ست) د سل په مانا او بله یې (ګیدای) د غوا په مانا ده په دې ډول سته ګیداری د سلو غواوو خاوند یانې شتمن کېږي [۳۰] ، لکه په باختر کې په اوستایي دوره کې چې د زراسپه واکمنه کورنۍ له زر اسپو نه جوړ ترکیبي نوم و ، خو د بیلو په اند سته ګیدای د ځایي لیکوالو له ستهک شتهک او ختهک سره سر خوري [۳۱] ، خو ددغې توجیهه په اړه هغومره اتفاق نه شته ، لکه د اپریدو په اړه چې شته

د هېرودوت دادیکا او له پښتنو سره د هغو اړیکي یو څه شرح غوارې بیلو ، کهزاد او غبار دادیکا (Dadicae) د پښتنو یوه څانګه ګڼي غبار "از شعبه دادیکای پختانه" [۳۲] څخه ګرېږي او د کهزاد په وینا داسې ښکاري ، چې دادیکای " د پکتیانو پښتنو له څانګو او

ښاخونو څخه يوه څانګه ده [۳۳] " د بيلو په نظر دادي Dadi چې يوه وړه څانګه وه د سته ګيدای ګاونډی وه، د پخواني داديکا يا دادي تمثيل کوي او اوس په کاکړو کې اوبه شوي، خو خپل پخواني عادتونه يې ساتلي دي بيلو دا هم وايي، چې داديکا په اول سر کې د کاکړو د ملک اوسېدونکي وو، خو هغوی دوی ورو ورو لاندې او په ځان کې حل کړل [۳۴] غبار هم په دې نظر دی، چې څه داديک د ګندهاريو د فشار له امله له ملک نه ووتل او نور يې " در بين گندهاری ها تحليل شدند که تا هنوز بقايای داديک ها در حصص لمپاکا (لغمانات)، نجراو، تگاو وغيره بنام ديگان ها ياد ميشوند [۳۵]" دغه څه له دېنه هم معلومېږي، چې د ديګان يا ده ګان نوم له ابګان، اوګان او اسوه غانه سره ورته دی، چې لومړنی يې د کلي اوسېدونکی او وروستی يې د سورو هېواد کېږي ديګان په ټولو ليکنو کې کليوال ياد شوي، چې سر و کار يې له کرکيلې سره و او ځينې يې پښتو ژبې هم وو او هغسې چې داديکا په اسلامي دوره کې تاجيک شوي، چې وروسته به يې بيان وشي، داسې هم ابګان په همدغه وخت کې افغان شوي دي تاجکان اوس هم افغان ته "اوغان" او هزاره ورته "اوغون" وايي، چې هماغه پخواني "اوګان" دي

د غبار په وينا هغه داديکا، چې د ګندهاريو د فشار له

امله له خپل ملک نه ووتل ، د چترال له لارې په بدخشان او نورو سیمو کې خپاره شول "قسمتی از شعبه دادیکای پختانه در همان عهود قدیم از ولایت پاختیا در شرق شمال و شرق ولایت باختر ریخته و صفحات چترال و بدخشان را اشغال و از انجا قسماً بماوراوالنهر پراگنده شدند و همچنان در وادی وسطی افغانستان و صفحات بلوچستان و سیستان منتشر شدند [۳۶]" دادیکا یا دادیک بیا په منځنۍ اسیا کې په اسلامي دوره کې په تاجیک یا تاجک یاد شول. صدرالدین عیني وایي ، چې "... بعد از اسلام به اینها (خلق فارسی زبان اسیای مرکزی و خراسان) نام (تاجیک) و به زبان شان (زبان فارسی) یا این که (زبان تاجیکی) لغت داده شده است [۳۷]" خو د رچرد فرای په وینا ساسانیانو عربان د عراق د تای (Tayy) قوم له مخې تاجکان ونومول او سغدیانو هم همدغسې وکړل په سر کې ټول مسلمانان ، چې په هره ژبه ګړېدل په دغه نامه یادېدل ، خو په پای کې هغه د منځنۍ اسیا فارسي ژبي مسلمانانو ته ځانګړی شو[۳۸] عیني له دادیکا څخه نه غږېږي او د منځنۍ اسیا خلک سغدیان ګڼي "اینها همان سغدیان بودند که در شهرهای مرکزی ماوراوالنهر در کناره ها ، وادیها و کوهای زر افشان و باختریان و تخاریان تقسیم بودند [۳۹]" عیني ساکا هم نه یادوي ، چې د منځنۍ اسیا لرغوني خلک وو ، دی دا هم نه وایي

چې سغدیانه تر مخزېږدې ۱۷۰ پورې د باختر یوه برخه وه د فرای په وینا "په اول کې باختري سلطنت د یوې پراخې سیمې منځی و، چې سغدیانه، مرو او په لویدیځ کې هرات یې برخې وې، خو څه وخت چې په سغدیانه کې خلک ډېر شول، دغه سیمه بېله شوه او شاید په مخزېږدې ۱۷۰ کې د ځایي واکمنو تر لاس لاندنې پوره خپلواکه شوې وي "[۴۰]

بدخشان ته د دادیکا دغه لېږد، لکه څنګه چې غبار وایي شاید ډېر پخوا په مخزېږدې پنځمې پېړۍ کې شوی وي بدخشان تر هغه دمخه او وروسته د دادیکا خلکو غتّه او مهمه مېنه وه. بدخشان په جغرافیوي مفهوم په سهیل کې د بروغیل کوتل او په شمال کې د آق سو یا مرغاب سین ترمېنځ سیمې ته ویل کېږي، یا ویل کېده د پنجه نهر یې له مېنځ نه تېرېږي او تېرېدل ترېنه ګران نه دي قومونه د تاریخ په اوږدو کې له هغه نه یوه خوا بله خوا تېر شوي دي د بدخشان د هوارو اوسېدونکي تاجکان او د پامیر د څنډو او هسکو اوسېدونکي د غلچه ژبو ویونکي دي، لکه مونجي، واخي، روشاني، سنګلیچي او نور [۴۱] دلته د بحث موضوع له تاجکو او په خاص ډول د غلچه ژبو ویونکو سره د پښتو نږدې والی دی، چې په څو اړخونو کې څرګند دی د توکم له نظر نه یووالی او د تاریخ له پلوه نږدې والی له دغو پاڼو نه څرګند دی

پښتنو او دادیکا، لکه چې دمخه ویل شوي، د پېړیو په بهیر کې سره ګډ ژوند کړی امریکایي انسان پېژندونکی ج شورمان وایي چې د سلیمان د غرو درو خلکو اقتصاد لکه هسې چې مونټ ستیورټ الفنسټن د نولسمې پېړۍ په پیل کې شرح کړی ددغې پخوانۍ کرنې او مالداري اقتصاد مخلوط دی، چې زیاتره په غرنیو تاجکو کې لیدل کېږي دی په مشخص ډول وایي، چې "اصلي افغانان" د هغو غرنیو اریایي خلکو یوه برخه جوړوي، چې ننني تاجکان د هغو ډېر ښه تمثیل کوونکي او پاتې شوي دي [۴۲] دغه نږدې والی ددغو خلکو له ژبو نه لا ښه څرګند دی د اریایي ژبو نامتو ژبپوه مارګن سټېرن وایي، چې پښتو په اصل کې د اریایي د هغې شمال ختیځې ژبنۍ ډلې یوه برخه ده، چې د پامیري ژبې او د سرخ کوتل د ډبرینې لیکنې بخدي ژبې د هغې اوسني تمثیل کوونکي دي [۴۳] دی له دغه واقعیت نه دغه نتیجه اخلي، چې پښتانه او تاجکان په لرغونو مهالونو کې یا په یوې سیمې کې اوسېدل او یا سره چم ګاونډي وو، دی په مشخص ډول دغه نظر وړاندې کوي، چې "د پښتنو لومړنۍ سیمه او ددغو پامیري ژبو اولنی محل، همکورنۍ، ممکن جغرافیوي نږدې والی ولري او د پښتو لرغوني ځانګې په هغه ځای کې وي چې له یوې خوا د منجي له محل او له بلې خوا د سنګلیچي او شغني له محل

سره نږدې وي او داسې هم د ساکا له یوې ژبې سره یې تماس لرلی وي، چې له ختنې ژبې سره نږدې وي ".[۴۴]
مارګن سترن په عین حال کې دا هم وایي، چې کېدی شي د پښتو لرغونې بڼه پاړسوانه Parswana وي، چې له پاړسو Parsu نه راوتلې وي [۴۵] پوهاند مجاور احمد زیار په خپل اثر پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې د خپل استاد دغه نظر شرحه کړی دی [۴۶] زه دلته په دغې موضوع باندې د تاریخ له نظره رڼا اچوم او په سر کې وایم، چې څه وخت چې د لفظي ورته والي پر بنسټ حکم کېږي، هغه باید په تاریخي واقعیتونو سره تایید شي او که نه دغسې حکم به هوایي وي، خو په هغه حال کې چې لفظي ورته والی بیا بیا لیدل کېږي، لکه د مور کلمه چې په ټولو اریایي ژبو کې سره ورته ده
مارګن سترن او نور پوهان په دې کې سره یو دي، چې پښتو د اریایي شمال ختیځې ژبنۍ ډلې یوه برخه ده، چې د ساکا له کومې ژبې سره به یې تماس لرلی وي پښتانه چې د ګړنې ډلې په توګه هر وخت له اریایي ټبر نه بېل شوي وي او هسک شوي وي ممکن اول په بخدي کې څرګند شوي وي په هر حال، له پامیري غرنیو خلکو او له دادیکا سره د دوی په ګاونډیتوب کې پوښتنه او شک نه پیدا کېږي د دها Dahae په نامه د ساکا یوه لویه او پیاوړې څانګه د بخدي په سیمه کې اوسېدله

داسې هم پښتانه د ساکا د لوی قوم د مساکیت له څانګې سره هم په مخز ېږدې پنځمې پېړۍ کې په یوې سیمې کې اوسېدل د ساکا دغه څانګه د سغدیانې په شمال کې اوسېدله او د ساکا څو څانګو یا قومونو د مخز ېږدې ۱۴۰ او ۱۳۰ کلوو ترمېنځ له تخاریانو سره په بخدي ودانګل او د یونان باختري واکمني یې ختمه کړه او بیا وروسته د یوچیانو په فشار سره سیستان ته بښکته شول ددغې غټې پېښې بیان به زر وشي او لکه چې دمخه ویل شوي سغدیانه تر مخز ېږدې ۱۷۰ پورې د بخدي تر لاس لاندې سیمه وه، خو داسې شواهد نه شته چې پښتانه به د جوړښت په لومړي پړاو کې د پارس له خلکو سره په یوې سیمې کې یا د یوه بل په ګاونډیتوب کې اوسېدلي وي پارسیان د اوسني ایران په سهیل کې د فارس په سیمه کې او پښتانه په بخدي کې او پښتونخوا کې اوسېدل هو، لکه چې ویل شوي بخدي په مخز ېږدې پنځمې پېړۍ کې د هخامنشي واکمنو لاندې کړې وه، خو پښتو د ژبې په توګه تر هغه دمخه هسکه شوې وه، چې تاریخي بېلګې به یې زر راوړل شي، نو د مارګن ستړن دغه حکم چې پښتو به له پارسوانه څخه وتلې وي، تر سوال لاندې کېږي مهمه دا ده چې که یوازې په لفظي ورته والي باندې بسنه کېږي، په هغه حال کې دا هم ویل کېدلی شي چې پارسوانه ممکن له پښتو نه راوتلې وي،

خو دغه حکم هغسې د منلو وړ نه ښکاري ، لکه د مارګن ستړن حکم چې د منلو وړ نه دی

## ساکا او ستیان سره بېل ټبرونه وو :

ساکا هم د قوم ولي او هم د ژبې له نظره له پښتنو سره ډېر نږدې دي او شاید په اصل کې سره یو وي . یا پښتانه د ساکا کومه څانګه وي ، دغه موضوع به وروسته پوره وڅېړله شي دلته به ساکا په عمومي ډول معرفي شي په سر کې به دغه موضوع روښانه شي چې د ډېرو پوهانو لیکنې یې ګډې وډې کړي دي او هغه دا چې ستیان او ساکا دواړه یو قوم او اریایي دي ، په داسې حال کې چې دوی په واقع کې سره بېل قومونه دي او ستیان لا اریایي نه دي ، خو دوی هېرودوت د وخت راهیسې یو قوم ګڼل شوي دي ځکه چې په هغه وخت کې د پارس خلکو ستیان ساکا بلل د هېرودوت په وینا "ساکا (Sacae) چې ستیان (Scythians) دي لوړې مخروطي ډوله جګې خولۍ په سر کوي دوی پر تګونه اغوندي او ځای لیندي او چړکۍ او پر هغو برسېره تبرګي ګرزوي ، چې دوی یې ساګاریس (Sagaris) بولي دوی امیرګایان (Amyrgian) ستیان وو ، خو ساکا ورته ویل کېده ځکه چې پاړسوان ساکاته ستیان وایي [۴۷] "

دا چې ستیان او ساکا سره بېل ټبرونه وو ، د شلمې

پېړۍ په پای کې د قبرونو په لوښېدلو سره تثبیت شوی ، دوی په بېلو سیمو کې خواره وو او ژوند لارې یې هم سره بېلې وې دوو انسان پېژندونکو ګوردن چایلډ او کم بال J.D.Kimball دغه واقعیت تثبیت کړی او د لرغوني زماني جغرافیه پوه سټرابو Strabo ستیان په اروپا کې په نښه کړي ، په داسې حال کې چې د ساکا خلکو لومړنۍ مینه د لویدځې التای Altai غرونو او د کسپین ترمینځ سیمې وې او ددغو دوارو ټېرونو ژوند لارې او کلتور هم سره متفاوت وو

لکه چې دمخه ویل شوي ستیانو د روسیې په سهیل کې د سمریانو Cimmerians دولت ړنګ کړ او دوه پېړۍ یې واکمني وکړه او بیا د اثور امپراتورۍ ته نوتل او د پارس له لویدیځ نه یې تر مصر پورې یرغلونه کول [۴۸] وروسته اریایي قوم سرمه تیان Sarmatians پر دوی غالب شول او دوی د لویدیځ پر لور لاړل ګوردن

چایلډ د ارکیالوجي شواهدو له مخې وایي ، چې ستیان له ختیځ نه بلغاریې ، هنګري او ختیځ جرمني ته د یرغلګرو په توګه ننوتل دی هم وایي ، چې ستیانو په سهیلي روسیې کې دوه پېړۍ واکمني کړې [۴۹] نامتو جغرافیه پوه سټرابو د زوکړې کال مخز یږدې ۶۴ د لویدیځې اروپا په راین Rhine او برتانیې ته نږدې [۵۰] د ستیانو یادونه کوي دا به د اتلانتیک سمندر و چې

ستیان یې په پای کې پرځای ودرول، چې څو پېړۍ دمخه له منګولیا نه د لویدیځ په لور د کوچیانو په توګه خوځېدلي او په زېږدې لومړۍ پېړۍ کې یې له خپلو کورنیو سره ځانونه لویدیځې اروپا ته ورسول او بیا ورک شول

د چایلډ په وینا د ستیانو په اړه ژبني شواهد دغومره لږ دي، چې د هغوله مخې د دوی په اړه هېڅ ډول حکم نه شي کېدلی هنر یې د اریایانو له هنر څخه اغېزمن و، خو هغه ځانله ځانګړتیا لرله خو د ستیانو د مړو خښولو رواجونه په څرګند ډول دغسې غیر اریایي او غېر هندي وو، چې د اریایانو له هېڅ ځانګې سره جوړ نه راتلل د مشر په ګور باندې به د هغه مېرمنې او نوکران وژل کېدل او د ویر کوټې شاوخوا به اسونه سوري کېدل او نېغ درول کېدل دغه رواجونه د لوړې اسیا په غیر اریایي کوچیانو کې په ټولو دورونو کې د منیانو (Minns) غوندې لیدل شوي دي ددغو ځانګړتیاوو له مخې ګوردن چایلډ "ستیان د هونانو، تار تارانو او پیشنګزانو (Peschenegs) مخکښان" ګڼي او په دې کې هېڅ شک نه کوي [۵۱] د مړي په سر دغه روایت په اصل کې د هېرودوت روایت دی د تورات اجوج ماجوج همدغه ستیان دي او په قرآن مجید کې دوی د ځمکې پر سر مفسدان ګڼل شوي دي

له دغې شرحې نه جوته ده، چې ستيان نه يوازې ساکا او اريايي نه وو، له پښتنو سره په چم ګاونديتوب کې هم نه اوسېدل په داسې حال کې چې ساکا او پښتانه هم په ژبه او هم په قومي جوړښت کې سره ډېر نږدې وو

ساکا د سپين پوټکو اريايانو يو لوی ټبر يا د څو لويو ټبرونو يو لوی کانفدريشن يا لوی اتحاد وو، چې له مخز پېږدې اتمې نه تر دريمې پېړۍ پورې د ارال له لوی ډنډ نه نيولې په سغديانه او فرغانه کې آن تر کانسو Kansu پورې د تيان شان Tien Shan د غرو دواړو خواوو او د التای په غرنيو درو او پراخو دښتو کې خپاره وو او کوچياني ژوند يې لاره کم بال لا وايي، چې په دغو نږدې وختونو کې د ساکا د خلکو ګورونه ان د منګوليا د التای د غرونو په سهيل کې هم موندل شوي دي [۵۲]
تاريخپوه رنه ګروسې Rene Grousset هم وايي چې له عيسوي کال نه دمخه ساکا په فرغانه او کاشغر ته نږدې د تيان شان د غرو په دواړو خواوو کې اوسېدل دی هم د کم بال په شان وايي، چې د تيان شان او د تارم Tarim حوضه آن تر اتمې زېږدې پېړۍ پورې د هندو اروپايي ژبو سيمې وي په دې ډول د ترک او مغلو د قومونو پراخه سيمه د هندو اروپايي ژبو ويونکيو سيمه هم وه، چې يوچيان، ساکا او سرمه تيان يې لوی ټبرونه وو او ترفان، کاراشار يا کار شهر Kara Shahr او کوچا

Kucha د دوی مهمې سیمې وې کاشغر تـه نـږدې يې ختيځ اريايـان او پـه کيوچـووان Kiuchuan کې د کوچا اريايـان تخاريـان وو، چې يوچيـان ورتـه منسـوب وو دا اورل سټاين Avrel Stein و، چې پـه شـلمې پيړۍ کې پـه ختن کې يې د سـاکا ژبـه کشـف کړه چې "ختيځـه ايرانـي" ده [۵۳] پـه دغـو سيمو کې د اريـايي ټبرونـو دغـه شـته والـی هغـه نظـر پيـاوړی کـوي، چې وايـي د اريايـانو اصـلي هېـواد د چين او منګوليا سهيل کې ګان سوياکان سوکي لټوي [۵۴]

کـم بـال د لـومړي داريـوش د وخـت د ليکنـو لـه مخـې وايـي، چې پـه هخامنشـي دوره کې سـاکا شـايد ددغـو درېيـو سـترو ټبرونـو يـو کنفدرېشـن و مسـاګيتای Massagetae، هاماورګـه Haumavarga او تګـراکس هـارده Tigraxhauarda مسـاګيتای پـه فرغانـه کې اوسـېدل او د مېشـته کېدلو پـه حـال کې وو هاماورګـه لـه سـردريا نـه اخـوا سـغديانه نيـولې وه او تکـراکس هـارده د کسـپين پـه ختيځـه کې پـه دهسـتان کې اوسـېدل [۵۵] فـرای د سـاکا ټبرونـه د زړې پاړسـو د ليکنـو لـه مخـې پـه دې ډول ښـيي سـاکا هاماورګـه، سـاکا پارادريـا لـه سين نـه اخـوا، سـاکا تيګراخـاده Tigrakhauda د مخروطـي جګـو خوليـو خاونـدان، سـاکا پاراسـغدام Saka Para Sugdam او د هوارو سـاکا [۵۶] د سـاکا د هېـڅ ټبر سيمه پـه دقيـق ډول پـه ګوتـه کېدلی نـه شـي دغـومره ويـل کېدلی شي چې سـاکا پـه

هخامنشي دوره کې د لویدیځ کاشغر. ختیځ کسپین او سردریا یا جیحون ترمنځ سیمو کې کوچیانی ژوند لاره او کلي او ښارونه یې نه لرل او د اپیساکوی Apaisakoi خانګې یې په فرغانه کې کرنه کوله او ماهي نیول

## ساکا او هخامنشي امپراتوري:

د ساکا اړیکي له هخامنشیانو سره له پیل نه ترخه وو سیروس غوښتل چې د اراکس Araxes سین یا سردریا جیحون د هغه د امپراتوري ختیځه پوله وي دا د مساګیت ساکا سیمه وه او د هغو واکمنې تومیریس Tomyris ورته خواب واستوه چې د دوی د هېواد د لاندې کولو تکل ونه کړي د هېرودوت په وینا سیروس هغې ته د واده وړاندیز وکړ، خو هغه پوهېدله چې دی غواړي په دغه پلمه د دوی هېواد لاندې کړي بیا نو د سیروس، د هخامنشي امپراتوري مؤسس او د مساګیتانو ترمېنځ جګړه ونښته او "د مساګیتانو دریېمه برخه پوځ په دوی توی شول او د سیروس د پوځ هغه برخه چې یې شاته پرې ایښې وه، د هغوی له مقاومت سره سره له مېنځه یووړه دغو مساګیتا یوه لویه مېلمستیا جوړه کړه، همدا چې دوی دښمن لاندې کړ او ځانونه یې په خوړو او واین سره ډک کړل، ویده شول پارسیانو ناځاپه په پټه پرې ودانګل، ډېر یې ترېنه ووژل او نور یې ترېنه یرغمل

کـرل ، چـې پـه هغـو کـې د مسـاګیتانو قومنـدان سـپاراګه پایســـس Sparagapises د واکمنـــې تـــومیریس زوی هـــم و " هغـې بیـا د یـوه پیغـام پـه تـرخ کـې لـه سـیروس نـه وغوښـتل ، چـې " مشـوره درکـوم چـې زوی مـې همـدا اوس راکـړه او زمـوږ لـه ملـک څخـه ووځـه کـه دغسـې ونـه کـړې د مسـاګیتانو پـه خـدای ګـوټې لمـر بانـدې قسـم کـوم چـې د تـا د ټولو وینو لـه نـه مړ یـدو سـره سـره بـه درتـه سـبق درکـړم " خو سـیروس د هغـې غوښـتنه ونـه منلـه او د ملکـې زوی چـې لـه پاړسـیانو سـره یـرغمـل و ، ځـان وواژه بیـا نـو د دواړو خـواوو تـرمنځ جګـړه حتمـي شـوه تـومیرویس خپـل ټـول پوځـونـه غونـډ کـړل او پـر پاړسـیانو یـې بریـد وکـړ اول لـه لیـرې نـه یـوه بـل پـه غشـو ویشـتل ، ترڅـو چـې خبـره لاس پـه لاس د چړکیـو او نیـزو جنـګ تـه ورسـیده د هیـرودوت پـه وینـا "د پاړسیانو ټول پوځ لـه مینځـه لاړ ، چـې پـه هغـو کـې پـه خپلـه سیروس هـم و چـې لـه نهـه ویشـت کلونـو واکمنـۍ نـه وروسـته اپـه مخـزیـږدې ۵۳۰ لـه مینځـه لاړ " هیـرودوت دغـه جنـګ تـر نـورو ډیـر شـدید ګڼـي او وایـي ، چـې ملکـې تـومیریس بیـا د سـیروس جسـد تـه پـه خطـاب کـې وویـل ، چـې "زه ژونـدۍ او سـوبمنه یـم ، خـو تـا سـره لـه دې هـم پـه چـل ول سـره لـه خپل زوی نه پـه محرومولو سره برباده کړې یم "[۵۷]

د منځنـــۍ اسـیا خلکــو تـــاریخي رســـالت لکـــه چـــې د امپراتورانـــو او امپراتوریـــو لـــه مینځـــه وړل دي ، چـــې د

امپراتـور سـیروس پـه وژلـو سره یـې پـرې پیـل وکـړ وروسـته د بخـدي والـي بیسـوس د هخامنشـیانو وروسـتی امپراتـور دریـیم داریـوش لـه منځـه یـووړ، چـې د مقـدوني سـکندر تـه تښـتېده ډېـر وروسـته د ساسـانیانو امپراتـور، دریـیم یزدګـرد پـه مـرو کـې د خسـرو نومي ژرنده ګـړي پـه لاس ووژل شـو، چـې لـه فـاتحو عربـو نـه تښـتېده او هلتـه پـه مـرو کـې د خسـرو ژرنـدې تـه ننـوتلی و پـه اتلسـمه پېـړۍ کـې شـاه محمـود هوتـک د صـفویانو او بیـا احمـد شـاه درانـي د مغولـو امپراتـوري لانـدې کـړه، پـه داسـې حـال کـې چـې پـه بلـې پېـړۍ کـې افغانـانو د انګلـیس امپراتـوري پوځونـه دوه ځـل مـات کـړل او پـه شـلمې پېـړۍ کـې یـې د شـورویانو امپراتـوري پوځونـه لـه خپـل ملـک نـه پـه زور وایسـتل شـورویانو تـه دا دغسـې ضـربه وه چـې ډېـر ژر یـې د امپراتورۍ په سقوط کې یو مهم عامل شو

پـه هـر حـال، د بهسـتون د لیکنـې لـه مخـې لـه سیروس نـه لـس کالـه وروسـته داریـوش سـاکا چـې شـاید مسـاګیت سـاکا بـه وي لانـدې کـړل او د هغـو یـو مشـر سـکون خـا (Skunkha) یـې وواژه، ځکـه چـې مسـاګیتانو د زرتشـتي د نیکـي خـدای ګـوتې اهـورا مـزدا چـې د هخامنشـیانو رسـمي دیـن و، نـه منـه خـو د هخامنشـیانو واکمنـي پـه مسـاګیتانو بانـدې یقینـي نـه وه د فـرای پـه وینـا "زمـا پـه نظـر د هخامنشـیانو لـه خـوا د سـاکا د ډول ډول ټبرونـو او د ختـیځ د

نورو ولسونو پاڅونونه او بیا بیا لاندې کېدل، چې د زړې پارسو پر اساس دي، باید په هېڅ ډول په تاریخي ډول ثابت شوي ونه ګڼل شي، که څه هم هغه به په زړه پورې وي [۵۸] " د فرای د نظر په ملاتړ باید وویل شي، چې د سکندر د یرغل په وخت کې په ختیځ کې د هخامنشي پوله د سردریا سین و، خو هیرودوت د مساګیتا په اړه دا هم وايي، چې "کله یو سړی زوړ شي، خپلوان یې سره ټولېږي، د پسو او وزو په ګډون یې وژني، غوښې یې پخوي او په لویې مېلمستیا کې یې خوري، خو څوک چې له ناروغي نه مړ شي، مړی یې ښخوي"

## د مقدونیې سکندر او اریانه:

د مقدوني سکندر په یرغلونو او له هغه وروسته په مخزېږدي ۲۲۰ کې په چین کې د لوی دېوال په بشپړېدلو سره په ټولې اسیا کې ستر بدلونونه یو په بل پسې راغلل د هخامنشي امپراتوري د لویدیځ له خوا د سکندر په لاس نسکوره شوه او له ختیځ نه پوونده ټبرونه د لویدیځ په لور نویو مېنو ته وکوچېدل په اریانه کې اول د یونانیانو او وروسته د ختیځو پوونده ټبرونو له خوا نوي دولتونه جوړ شول

سکندر ۳۵۶ ۳۲۳ مخزېږده د خپل پاچا پلار فلیپ له وژل کېدلو نه وروسته په ۳۳۶ کې په شل کلنۍ کې د

مقدونیې پاچا شو د ارسطو دغه شاګرد د یوه واړه او شډل هېواد پاچا و اول یې د هغه لوی، منظم او پیاوړي پوځ په مرسته چې له خپل پلار نه ورته پاتې و، ټول یونان د خپل پلار په شان یو ځل بیا متحد کړ او بیا یې د خپل پلار هغه پروژه له سره ونیوله، چې اسیایي یونانیان د هخامنشي له واکمنې نه ازاد کړي او دغه امپراتوري هم نسکوره کړي او په خپله د عمومو پاچا شي د همدغه مقصد لپاره په ۳۳۴ مخزېږدي کې له هل سپانټ Hill spont نه تېر شو، چې د اسیا لویې وچې په لویدیځه څنډه کې پروت دی او په دې ډول د هخامنشي امپراتورۍ په لویدیځې برخې کې ننوت، خو هخامنشي امپراتور داریوش که څه هم د لویې امپراتورۍ واکمن، د لوی پوځ او ډېرو شتو خاوند و، دفاعي سیاست غوره کړ له سکندر سره د یوې وړې نښتې په ترڅ کې پاچایي کورنۍ د سکندر لاس ته ورغله، چې هغه په عزت ورسره سلوک وکړ داریوش له سکندر سره دیپلوماسي شروع کړه، ان تر دې چې په درېیم وړاندیز کې یې له هغه نه وغوښتل چې له لور سره یې واده وکړي او په ولور کې یې له فرات نه تر لویدیځ پورې د امپراتورۍ سیمې ومني، خو سکندر دغه وړاندیز هم رد کړ، لکه دمخه چې دوه نور وړاندیزونه یې هم نه و منلي په ۳۳۱ کې یې په ګاګه میله Gauga mela کې د هغه لوی پوځ ته ماتې ورکړه

او بیا یې د سوسا Susa او پرسي پولس Persi polis ښارونه تر ینه ونیول او داریوش د شا خوا ته روان شو. خو د بخدي والي بیسوس Bessus چې له خپل بخدي پوځ سره په پاچایي کمپ کې و، په دامغان کې هغه ووژه [۵۹] او خپل ځان یې پاچا اعلام کړ له هغه وروسته د بخدي یا باختر په پراخه ځمکه کې د سکندر ستونزې ډېرې او ټینګې شوې په دغه وخت کې خوارزم، بدخشان، مرو، سغدیانه، هري هرات د باختر سیمې وې او مېشتو او پوونده ټبرونو یې د بیسوس او سپتامنز Spita menes په مشري له سکندر سره ډېر ګوریلایي جنګونه وکړل

اول داریا هرات والي، ساتي برزن، د بیوس متحد د سکندر یو ټولی پوځ له مینځه یووړ، خوسکندر دغه پاڅون په سختۍ سره غلی کړ له هغه وروسته قومندان فیلوتاس د سکندر پر ضد دسیسه کې له خپلو ملګرو سره اعدام شو د پوځي افسرانو له خوا دا یوه خطرناکه دسیسه وه، چې ناکامه شوه سکندر بیا بخدي ته د تګ په لار کې د هندوکش له خاواک کوتل نه په اوښتلو سره ډېرې ستونزې او تلفات وګالل بیوس چې ګمان نه کاوه چې سکندر به په دغې سختې لارې بخدي ته ورسېږي، له خپل متحد سپتامنز سره سغدیانې ته لاړ په دې هیله چې سکندر به له امو نه تېرېدلی ونه شي او دی به په سغدیانه کې په دفاعي جنګ لاس پورې کړي سکندر

وروستــه لــه دې چــې پــه بلــخ کــې ســغديانې تــه د تــګ پر بکړه وکړه ، خپل پوځ يې د خپلو انجنيريانو په مهارت سره د ښمو له څرمنو نه جوړو جالو کې د کلف په برخه کې له آمو نه په پينځو ورځو کې تېر کړ له آمو نه د سکندر او د هغه د پوځ په اريانوتکي ډول تېرېدل او د بيسوس له خوا د بخدي پرېښوول سپتامنز او ملګري يې انديښمن او په دې فکر کړل ، چې اوس د مشر د عوض کولو وخت رسېدلی دی دوی بيسوس سکندر ته په لاس ورکړ ، چې هغه وروسته په ۳۲۸ کې په اقباتانه کې په ډېرې بې رحمۍ سره ووژل شو[۶۰]

سکندر په دې فکر چې سپتامنز يې متحد شوی دی اول مراکندا سمرقند او بيا سردريا تنې ، حيجون ، جکسارتز ته مخه وکړه ، چې د مساګيتا او دهای Dahae ساکاو سيمې وې دهای په بخدي کې هم يو لوی او قوي قوم و سردريا ، لکه چې دمخه ويل شوي دي ، د هخامنشي ختيځه پوله وه سکندر چې هلته حصارونه وموندل اجير سر تېري يې پکې ځای پر ځای کړل او په دې يې پيل وکړ ، چې هلته دغسې يو ټينګ نظامي حصار ولري ، چې له هغه نه د قومونو د ايل کولو لپاره د خيز تختې په شان کار واخلي ، خو په دغه کار سره د سکندر اصلي ستونزه پيل شوه اول سغديان او بيا باختريان يې پر ضد جګ شول سکندر سپتامنز او د هغه

ملګري کتانز (Catanes) نه ددغو پاڅونونو په ځپلو کې مرسته وغوښتله، خو هغوی چې ددغو پاڅونونو اصلي محرکان وو، د هغه غوښتنه رد کړه او سپتامنز په همدغه وخت کې سمرقند محاصره کړ. د دواړو خواوو ترمنځ نښتې ښې معلومې نه دي، خو د مولف پیټر ګرین په وینا د سکندر له پوځ نه "اته زره کسان په اخري ناهیلي دفاع کې مړه شول او اوه زره پاتې يې د دوو پاتې حصارونو له پوځي واحدونو سره یوځای قتل عام شول"[61] د لاس په لاس جنګ په وخت کې سکندر پرمخ او غاړه په تیره ولګېد، د یو څه وخت لپاره يې لید او د آواز نلونه زیانمن شول او مقدونیان په داسې حال کې چې هک پک او وارخطا شول، سکندر يې کامپ ته يووړ.[62]

"سکندر د لومړي ځل لپاره له دغسې قوم سره باید جنګ وکړي، چې هغه هېڅ فکر نه کاوه. هغه وخت چې دښمنان يې په مخ کې سواره تېرېدل، دده پرهارونه لا هم ښه شوي نه وو او په خاص ډول په سختۍ سره ګړېدلی شو. سره له دې هم د خپلو ملګرو غونډه يې وبلله. دا دښمنان نه وو، ې وېره وونکې وو، بلکې بې وخته وخت و باختریان پاڅېدلي وو، ساکا یو بل خطر پېښ کړی وو، په داسې حال کې چې سکندر په صفونو کې درېدلی نه شو، سورېدلی نه شو او خپلو سړیو ته يې هدایتونه او زړه ورکولی نه شو. ددغو دوو خطرونو له امله

ACKU

سکندر خدای ګوتې ګرمول او شکایت یې کاوه، چې هغه څوک چې په اولو ورځو کې دغومره چټک و چې هیڅ څوک ترېنه تښتېدلی نه شو، اوس لټ پروت دی او دا چې خپل سري یې هم په سختۍ سره یقین کوي چې ناروغي به پلمه نه وي [۶۳]"

سکندر په دغه حال کې هم خپل یو قوماندان د منیدېموس په نامه له پوځ سره د سمرقند په ښار کې د سپتامنز د محاصره کولو په مقصد واستوه. سپتامنز داهایان د هغه د راتګ په لار کې په یوه ځنګله کې ځای پر ځای کړي وو، چې په دښمن باندې ګوریلایي بریدونه وکړي. د اهایان دغسې ماهر سواره وو، چې په یوه اس باندې دوه کسه سپرېدل او هدفونه یې ویشتل. د هغو په دغو ګوزارونو سره اول یوناني قوماندان او بیا د هغه مرستیال په ځمکه ولوېدل. پاتې پوځ د سپتامنز له خوا محاصره شو او په دغې نښتې کې دوه زره پلي او درې سوه سواره په ځمکه ولوېدل "سکندر د مصلحت له مخې دغه غمیزه پټه وساتله او هغوی یې چې د جنګ له ډګر نه ستانه شوي وو، په مرګ وترټل چې دغه خبر خپور نه کړي [۶۴]" سکندر شاید په ټول ژوند کې دغومره ناارام شوی نه وي، لکه اوس چې شو "هلته یې په پوره یوازیتوب سره شپه په ویښه تېره کړه، زیاتره به یې د خپلې خیمې څرمنې ځګولې چې د خپلو دښمنو اورونه

وګوري چې د شمېر اټکل يې وکولی شي " په سباوون مهال کې له خپلې خيمې نه بيرون ووت او خپلو سرتېرو ته يې ځان ښکاره کړ، چې هغوی يې په ليدلو سره د پسرلي د ګلانو په شان وغوړېدل او د هر ډول قرباني لپاره يې تياری وښود څه وخت وروسته چې سکندر ته د تګ تياری بشپړ کړی و، د مساګيتانو شل لويان ور ته په جرګه ورغلل دمخه د مساګيتانو د ورو ځانګو دوه جرګو ورسره ليدلي وو، چې هغه ښه سلوک ورسره کړی و

د روم تاريخپوه کونټس روفوس (Quintus Rufus) د زېږدي لومړۍ پېړۍ په نيمايي کې په خپل اثر (د سکندر تاريخ) کې ليکي، چې "زه به هغه روايت بې له کوم تغيير نه نقل کړم، چې موږ ته رسېدلی دی زما د راويانو په وينا د ساکا يوه مشر په دې ډول خبرې پيل کړې "

" که خدايګوټو اراده کړې وای چې ستا قد دې ستا له حرص سره برابر وي، نړۍ به دې نيولې ونه شي ته به ختيځ په يوه لاس کې ونيسې او لويديځ په بل کې ته هغه څه غواړې چې ور ته رسېدلی نه شې له اروپا نه اسيا ته مخه کوې، له اسيا نه بېر ته اروپا ته ځې که ته ټول انسانان لاندې کړې، بيا به اماده اوسې چې له ځنګلونو، واورې، سينونو او سريله حيوانانو سره جنګ وکړې ته نه

پوهېږي چې غمې ونې ډېر وخت نیسي چې وده وکړي او یوه ګړی نیسي چې قطع شي دا احمق سړی وي ، چې مېوې ته یې ګوري او لوړوالي یې ته اندازه کوي پام وکړه چې سر ته د رسېدلو په لار کې له ځانګو سره چې په لاس کې دې نیولي ونه لوېږي زمری کله کله د وړو مرغانو ښکار وي او اوسپنه کله په زنګ سره خوړله کېږي هېڅ ځیز دغومره زړور نه دی ، چې ونه ترټل شي ، حتی د ضعیف له خوا "

"موږ له تا سره څه وکړو ؟ موږ هېڅکله ستاسې په هېواد باندې پل نه دی ایښی ، موږ دې په خپلو بې پایه ځنګلونو کې په ناپوهی ژوند ونه کړو چې ته څوک یې او له کوم هېواد څخه یې؟ موږ د هېڅ چا مریان کېدلی نه شو او نه غواړو د بل چا باداران اوسو د ساکا د نژاد په اړه چې یو څه نظر درکړو ، موږ د یوه جوړه غویو ، لوبې ، غشي ، لیندې او جام خاوندان یو له هغو نه له خپلو دوستانو سره [په ګډه] او د دښمنانو پر ضد کار اخلو موږ دوستانو ته هغه فصلونه ورکوو ، چې زموږ د غویو په زیار سره تولید شوي وي او له هغو سره موږ له جام نه کار اخلو ، چې خدایګوټو ته یې وړاندې کوو خپل دښمنان له لیرې نه په غشو او له نژدې نه په لندو سره ولو موږ په دغه ډول د [اثور] پاچا او له هغه وروسته د مادانو او پارسو پاچا ته ماتې ورکړه او مصر ته زموږ لار خلاصه ده "

ACKU

"او تـه پـه ویـاړ سره ادعـا کـوې چې پـه داړه مـارو پسې راغلی یې ، خو تـه ټولو خلکو تـه چې ورسره مخ شوی یې ، داړه مـار یـې تـا لیـدیا ونیولـه ، سـوریه (آثـور) دې لانـدې کـړه ، پـاړس دې پـه لاس کـې دی ، بخـدیان دې تـر واک لانـدې دي ، هنـد تـه دې سـترګې نیـولي دي ، اوس تـا حرصناک ، نه مړېدونکي لاسونه زموږ. پـه رمـو پسې غزولي دي تـه ولې شتمنیو تـه اړه لرې؟ هغـه ستا حـرص نور هـم پـاروي تـه لـومړی کـس یـې چې لـه حـد نـه د ډېرو ثېزونو پـه لرلو سره دې ولږه پیدا کړې ده ددې لپاره چې نور هـم ولـرې تـر هغـو نـه دې لا زیـات زړه کېږي ، چې یې نـه لـري آیـا ددې درک نـه کـوې چې د باختر پـه شاوخوا کې څـومره ډېـر ټـال شـوی یـې؟ کلـه چې تـا باختریـان لانـدې کـول سغدیانانو جګړې پیل کړې ، ستا پـه برخـه کې بـری جنګ زېږوي فرق نـه کـوي چې پـه ځواک او قوت کې لـه نورو نـه څـومره ډېـر دمخـه شـي حقیقـت دا دی چې هـېڅ څـوک بېګانه بادار نه غواړي "

"بس لـه تنې اسـر دریـا) نـه واوړه ، د سـاکا سیمه بهٔ در تـه معلومـه شي ، خـو تـه بـه سـاکا هېڅ نیـولی ونـه شې موږ بـه پـه خپلـو لـږو وسـیلو سره سـتا لـه پـوځ نـه چې د ډېـرو ولسـونو ولجې ورسره دي ، ډېـر چټـک اوسـو بیـا نـو کـه څـه هـم تـه بـه فکـر وکـړې ، چې مـوږ څـومره لیـرې یـو ، مـونږ بـه دننـه پـه خپـل کامـپ کې ووینې موږ پـه برابري چټکې سره پـه مخ

او په شا ځو ماته ويل شوي دي، چې په يوناني ضرب المثلونو کې د ساکا په دښتو باندې ټوکې مسخرې کېږي، خو موږ دښتې او نامېشته ملکونه تر ښارونو او بډايو کرنيزو ځمکو نه غوره بولو، نو ته خپله شتمني ټينګه ونيسه هغه ښويېدونکې ده او د ميل پر خلاف يې نيول کېدلی نه شي راتلونکی نظر اوس ته د سم مصلحت ښه ښوونکی وي په خپلې شتمنۍ باندې يو څه بنديز ولګوه، ته به يې لا په اسانۍ سره کنټرول کړې زموږ خلک وايي چې شتمني پښې نه لري، يوازې لاسونه او وزرونه لري څه وخت چې هغه خپل لاسونه غزوي، وزرونه يې هم ونيسه "

"په پای کې که ته خدايګوټی يې، دا دې دنده ده چې انسانانو ته ګټه ورسوې، نه دا چې د هغو شتمني لوټ کړې که انسان يې تل په ياد ولره، ې دا هغه څه دي چې ته يې دا هوښياري نه ده چې په ذهن کې دې هغه څه وګرزوې چې له خپل ځان نه دې غافل کړي ته به وکولی شې د هغو په دوستۍ ډډه وکړې، چې نه غواړې پرې حمله وکړې ځکه چې دوستي د برابرو ترمېنځ ډېره ټينګه وي او هغه انسانان سره برابر ښکاري، چې د يوه بل قوت يې نه وي ازمېلی پام کوه چې هغوی چې لاندې کړي دي دي خپل دوستان ونه ګڼې د بادار او مريي ترمېنځ دوستي نه وي حتی د ارامۍ په وخت کې دا د

جنګ حال ګڼي فکر مه کوه چې ساکا د دوستۍ تصوېبولو لپاره لوړه کوي، د دوی لوړه دا ده چې دوی په خپل قول عمل کوي دغه ډول احتیاط د ژمنو لاسلیک کول او د خدایګوټو شاهد نیول یوناني رسم دی زموږ په نظر زموږ رښتینی دین په قول عمل کول دي او هغوی چې یې نه کوي نو خدایګوټي غولوي او ته هغه دوست ته اړتیا نه لري، چې روغ نیتی ته یې په شک ګورې، خو په موږ کې به ته دغسې خلک ومومې چې اسیا او اروپا دواړه وساتي موږ د بکترا (بلخ) ګاونډیان یو، دغومره ده چې تنې موږ سره بېلوي موږ له تنې نه د باندې ملک کې آن تر تریس (Thrace) پورې اوسېږو او ویل کېږي چې له تریس نه وروسته مقدونیه پر ته ده موږ ستا د دواړو امپراتوریو ګاونډیان یو فکر وکړه چې اوس ته غواړې موږ ستا دښمنان اوسو یا ستا دوستان "

سکندر د هغو په ځواب کې دغومره وویل، چې دی به په خپل بخت چې پرې اعتماد لري، ډډه وکړي او د دوی مشوره به هم په نظر کې ولري او له احمق او خطرناک عمل نه به ډډه وکړي [۶۵]

له دغه متن نه څرګنده ده، چې د ساکا دغه لویان له سلیم عقل، پراخ نظر او عقلي استدلال نه ښه بهره من او په کافي اندازه زړور وو، چې سکندر ښو عملونو ته متوجه کړي او مشورې ورکړې دا به له دې امله و چې دوی له

ژوند سره علاقمن، د باداري او غلامۍ مخالف او د خپلواک ژوند غوښتونکي وو ځينې ممکن تعجب وکړي، چې کوچيان او هغه هم د دوه زره او درې سوه کلونو دمخه کوچيان او دغسې پاخه فکرونه

خو د ساکا او سکندر ترمېنځ دوستي او اعتماد ممکن نه و د سکندر نظامي وضع له مساګيتانو سره په مقابله کې لا هم خطرناکه وه سپتامنز هم ژوندی او فعال و او سکندر يې په باختر او سغديانه کې له غښو ستونزو سره مخ کړی و له بلې خوا سکندر چې د هخامنشي امپراتوري لاندې کړې وه، عزم کړی و چې د ساکا قومونه هم لاندې کړي، خو له هغو سره په مقابله کې له خپل دغه عزم نه واوښت او هند ته د تګ په فکر شو په دې ډول هغسې چې د تېې سين سر دريا د هخامنشي امپراتوري پوله وه، دده د امپراتورۍ پوله هم شوه او ساکا پر ځای پاتې شول

د سکندر په امر د ساکا له هيئت نه لا دمخه له سردريا نه د تېرېدلو لپاره دولس زره کښتۍ تياري شوې وې، چې له تختو، لرګيو او تېرونو نه جوړې شوې وې ساکاوو که څه هم د سکندر پوځيان په پرله پسې ډول په لندواو غشو ويشتل بيا هم پوځ له سين نه تېر شو او د دوی ترمېنځ جګړه ونښته، چې اخري برې د سکندر د پوځ شو د ساکا تلفات چې ډېر وو، معلوم نه دي د يونانيانو

هم يو شمېر سواره او پلي تلف او ټپي شول ساکا چې نه لاندې کېدونکي نوم ګټلی وو، د سکندر په زور قايل شول او د روغې جوړې په مقصد يې يو هيئت ورواستوه سکندر هم د معمول په شان د هغه هر کلی وکړ، خو د بېر ته تګ په لار کې په هغې سيمې کې چې دمخه يې درانه تلفات ورکړي و، " د اطرافي سيمو د سوزولو او د جنګ وړ کسانو د وژلو امر ورکړ [۶۶]" سکندر سغديانې ته ستون شو، په داسې حال کې چې سپتامنز دمخه له سمرقند نه باختر ته تللی و په سغديانه کې سکندر څه وخت چې د دېرشو مساګيتي بنديانو د وژلو امر ورکړ، له نه فکر کېدونکي حال سره مخ شو دغه بنديان چې له لوړو کورنيو څخه وو، ددې پر ځای چې خپګان وښيي خوښي وښووله سکندر حېران شو او له هغو نه يې په خپله واورېدل چې که بل څوک د دوی د اعدام امر ورکړی وای، دوی به خپه وای او اوس چې د نړۍ فاتح دغه امر کړی دی، دوی پرې وياړي سکندر په دغه ځواب سره وغوړېد او هغوی يې وبښل او هغو هم د وفا او خدمت وعده وکړه او په خپل قول ټينګ ودرېدل [۶۷]

سکندر بلخ ته ستون شو، په همدغه وخت کې له يونان او سوريې څخه څه باندې څوارلس زره پلي او سپاره ملاتړ ور ته ورسېدل او هغه چې تر دغه وخته پورې د ساکا له ټبرونو نه ډېر تلفات ليدلي وو، د هغو په

لاندې کولو کې نور هم ټینګ شو چې واکمني ته یې غاړه نه ایښودله او دغسې خلک چې سپیتامنز د هغه پر ضد لمسول کم نه وو، خو تر هغه دمخه سکندر په مخ زېږدي ۳۲۸ کې په مراکندا سمرقند کې په یوه لوی مصیبت اوښتی و او هغه دا چې د کلای ټس (Clitus) په نامه خپل یو لوړ رتبه افسر یې په یوې مېلمستیا کې د جر او بحث په وخت کې په داسې حال کې چې ټول نیشه وو سمله لاسه په نیزې سره وواژه. دغه وخت د ځوانو افسرانو او مشر افسرانو ترمنځ حساسیتونه پیدا شوي وو او سکندر هم د ختیځو واکمنو په شان د زورواکۍ لار نیولې وه، خو کلای ټس دغسې وفاپال افسر و چې هم یې د سکندر له پلار سره په صداقت خدمت کړی و او هم یې په خپله سکندر په یوې نښتې کې له مرګ نه ژغورلی و. سکندر چې لږ په حال شو، خپل مخ یې په نوکانو شوکارې کاوه او خپلو ساتونکیو ته یې زارۍ کولې، چې ژوند یې ختم کړي او له دغه خجالت نه یې وژغوري. درې ورځې شپې یې په خپلې خیمې کې په ولړه تېرې کړې او "څه وخت چې ساتونکي او خادمان یې پوه شول چې دی غواړي ځان هلاک کړي، په خیمه یې ورننوتل او پرې غالب شول چې ډوډۍ وخوري" پر هغه برسېره پوځیانو ددې لپاره چې د سکندر د خجالت بار سپک شوی وي په رسمي ډول اعلام کړه، چې د کلای ټس وژنه جایزه وه[۶۸] حقیقت دا

ACKU

دی ، چې د جنګونو فشار په مقدونیانو بد اثر کړی و او سره بې اتفاقه کړي یې وو ، خو دا ګډ خطر و چې دوی یې متفق کول په بخدي او سغدیانه کې د سپتامنز په مشرۍ مقاومت روان و او په یادې شوې مېلمستیا کې د مقدونیې قومندانانو ته طعنه ورکړل شوې وه ، چې په جنګ کې د سپتامنز له لاسه مات شوي وو [۶۹]

سکندر د ژمي تېرولو لپاره د بخدي په لار کې د ساکا پولو ته نږدې زنیپا (Xenepa) نومي ځای ته ورسېد ، چې یوه کلي لرونکې ښېرازه سیمه وه او یو شمېر بخدیانو هلته پناه وړې وه "دوی ناڅاپه د سکندر په یوه جنرال امینتاس (Amyntas) ودانګل ، جګړه یې تر ډېره وخته روانه وساتله خو چې اوه سوه تنه یې تلفات ورکړل په شا شول خو تلفات یې هم واړول اتیا تنه مقدونیان یې له منځه یووړل او درې نیم سوه یې ټپي کړل ، خو د بخدي خلکو سره له دې هم ښنه وګټله [۷۰]" سکندر چې دمخه په غونډیو او هسکو ځایونو کې چونۍ جوړې کړې وې او ځایي اجیر سرتېري یې پکې پر ځای کړي وو ، اوس د هغه په ګټه تمامې شوې "سپتامنز ته اوس ډېره ګرانه شوه چې خواړه او اسونه ولري ، دا خو لا پرځای پرېږده چې د یوې خوندي مېنې خاوند وي " سره له دې هم سپتامنز له مساګیتي ساکانه درې زره سواره تنظیم کړل او د یوې لوېې حملې بندوبست یې ونیوه ، خو په

هغې نښتې کې چې د کوی نس (Coenus) په قومندانۍ د مقدوني پوځ او سپتامنز د ملېشاوو ترمېنځ وشوه، لومړني غالب شول او د سپتامنز اته سوه سواره او د مقدونیانو تر هغه ډېر کم تلف شول او په خپله سپتامنز له مساګیتانو سره دښتې ته په شا شو د سپتامنز د مرګ په اړه دوه روایتونه راپاتې دي

د مؤلف ارین په روایت له سپتامنز نه زیاتره باختریان او سغدیان جلا شول او مساګیتانو یې کامپ چور کړ او هغه یې له ځان سره بوتله او چې یې واورېدل سکندر له پوځ سره د دوی په لور روان دی، سپتامنز یې وواژه او سر یې هغه ته واستوه [۷۱] دغه روایت په ډېرو اثرونو کې راوړل شوی، خو هغه د اعتبار وړ نه ښکاري سکندر ته ګرانه وه، چې مساګیتان په خپلې سیمې کې لاندې کړي. دا هم عجیبه معلومېږي چې مساګیتان به د یوه غېر یقیني خطر نه د بچ کېدلو لپاره سپتامنز یانې هغه څوک ووژني، چې "د ټول ولس د خلکو د جنګ محرک و او مشرانو یې ورسره اتحاد کړی و" [۷۲] د روم تاریخپوه روفوس روایت ګرد سره بېل دی. د هغه په روایت سپتامنز چې د نېشې په حال کې ډوب ویده و، مېرمنې یې په توره د هغه سر له غاړې نه پرې کړ. مېرمن یې له جنګونو او کوچې ډوله ژوند نه په تنګه شوې او ترېنه یې په وار وار غوښتې وو، چې په خپلو اولادونو

رحم وکړي او لـه جنګ نـه لاس واخلي او سکندر تـه تسلیم شي ، خو هغـه د هغې زارۍ نـه منلې او ور تـه یې ویـل چې ده ته "مرګ له تسلیمۍ نه لږ دردناک دی [۷۳] "

حقیقـت چـې هـر څـهٔ وي ، سـپیتامنز د نـن ورځ‌ا پــه اصطلاح دغسـې یـو ګوریلایي قومنـدان و ، چـې د خپلـواکۍ د مـدافعانو پـه ملاتـړ یـې د سکندر "نـه ماتېـدونکی" پـوځ پـه باختر او سغدیانه کـې تـر دوو کلونـو نـه ډېـر ټـال کـړ او ډېـر یـې ترېنـه لـه مېنځـه یـووړل د نـړۍ دغـه نـامتو قومنـدان هغـومره چـې لـه سپیتامنز نـه ستونزې لیـدلې دي ، لـه بـل چـا نه یې نه دي لیدلي

د سپیتامنز پـه مـرګ سره منظم مقاومـت لـه مېنځـه لاړ ، خــو پــه بدخشــان او سـغدیانه او ځینــو نــورو ځــایونو کــې دغسـې سـختې غرنـۍ سیمې لا هـم وې ، چـې لویـانو یـې د سکندر واکمنـي نـه منلـه د بدخشـان پـه غرنیـو حصـارونو کـې څلور دغسـې لویـان وو ، چـې پـه خپلـو لـوړو او ټینګـو کلاګـانو کــې یــې ځانونــه خونــدي لیــدل سـکندر د مخزېـږدې ۳۲۸ کـال پـه سره ژمي کې پـه پـای کـې پـرې غالـب شو ، خـو "پـه دغــه مــارش کــې یــې نــږدې دوه زره ســر تېري د ســړو او نمونیـا نـه لـه لاسه ورکـړل " بـل غرنـی حصـار د "سـغدیانې غـر" وچـې نـه لانـدې کېـدونکی ګڼـل کېـده او د بلـخ یـوه مشـر اوکسـیارتز (Oxyartes) خپـل سـر تېري لـه خـوراکي څیزونـو او خپلـې کـورنۍ سـره هلتـه ځـای پرځـای کـړي وو دوی

دغومره ډاډه وو چې د سکندر د پیغام په برابر کې په ریشخند سره ځواب ورکړی و، چې دوی به "یوازې وزر لرونکو سرتېرو ته تسلیم شي" او چې د سکندر انجینران او ډېر نور په شپه کې غره ته وختل دوی بیا ورته تسلیم شول [۷۴]

سکندر په دې ډول له درې کلو جګړې کولو او سختو ستونزو له ګاللو او د ډېرو انساني تلفاتو له ورکولو نه وروسته په مخ ېږدي ۳۲۷ کې په دې بریالی شو، چې باختر یاني بلخ، بدخشان، هرات او تر سردریا پورې سغدیانه لاندې کړي ده د خپلې واکمنۍ د خوندي کولو لپاره یو لړ نوي کارونه وکړل او پخواني یې سرته ورسول غټ کار یې هغه شپږ لویې نظامي چونۍ یا حصارونه وو، چې د سکندریې په نامه ورو ورو ښارونه او د سوداګرۍ د ودې لامل شول پورته یادې شوې سیمې د پخوا په شان د بخدي یا بکتریا نه تر لاس لاندې سیمې وې، چې یوازې ارین نژاد خلک پکې اوسېدل او سکندر د بخدي نوی والي امینتاس (Amyntas) ته یې لس زره پلي سرتېري او درې نیم زره سواره تخصیص کړل

د سکندر بل کار دا و، چې د باختر او سغدیانې له لوړو کورنیو څخه یې دېرش زره ځوانان راټول کړل او مقدوني ډوله نظامي روزنې لاندې ونیول په دغه مقصد چې اوس به یرغمل او وروسته به پوځي افسران وي سکندر دوی

دغومره مهم ګڼل، چې هغوی یې خپل "ځای ناستي" ونومول یاني هغوی چې د افسرانو په توګه به د مقدوني ساتونکو ځایونه نیسي د سکندر بل اساسي مدني نوښت داو، چې د باختر د یوه محلي واکمن اکسیارتز (Oxyartes) له لور رخشانې سره یې په خاصو مراسمو سره واده وکړ، لکه چې وروسته د هغه ځای ناستي سلوکوس نیکاتور د سپتامنز له لور اپامه (Apama) سره واده وکړ او د دوی یو زوی بیا په یونان- باختري دوره کې پاچا شو[۷۵] دا ټول په دغسې حال کې چې سکندر په دغو سیمو کې ډېرې ستونزې لیدلې او ډېر سر تېري یې له مېنځه وړل شوي وو او عنعنه پال افسران یې ناراضي وو سره له دې هم سکندر په دغو او نورو کارونو سره د لاندې شویو ولسونو او یونانیانو ترمېنځ د برابرۍ او خپلوۍ اړیکې ټینګ کړل، که څه هم استاد یې ارسطو غیر یونانیان "بربریان" ګڼل سکندر د بل کال د پسرلي په اخر کې له زر اسپه (بلخ) نه د هند په لور وروسته له هغه روان شو، چې په بخدي کې یې خپل شل زره ناروغ او ټپي سر تېري له ځایي خلکو سره ځای پرځای کړل دده په څه باندې یو لک پوځ کې له مقدونیانو او یونانیانو سره باختریان، سغدیانیان، ساکا او نور هم ملګري وو په دې حساب سکندر په تاریخ کې لومړنی کس کېږي، چې د ختیځو او لویدیځو ولسونو په نږدې کولو کې یې نوښت

کړی او په دغه چلند سره یې په باختر کې د یوه نوي او ډینامیک مدنیت د هسکېدلو لپاره ډګر هوار کړی، چې وروسته به یې بیان وشي

## سکندر په ختیځه اریانه کې:

سکندر د مخزېږدي ۳۲۷ کال په پسرلي کې له زراسپه (بلخ) نه د هند په نیت له څه باندې یو لک یوناني او باختري پوځ سره روان شو او په لسو ورځو کې د کوشان کوتل له لارې له هندوکش نه واوښت او بګرام ته ورسېد، چې هلته یې دمخه یوه چاوڼۍ جوړه کړې وه دلته د هند د تاکسیلا پاچا او نور پاچا زامنان ور ته ورغلل او د خپل رقیب د پنجاب پیاوړي پاچا پورس (Pourus) د لاندې کولو په مقصد یې د مرستې وعده ورکړه د همدغه مقصد لپاره دوی پیلان او نور سوغاتونه هم هغه ته وړاندې کړل سکندر د کابل سین پر غاړه ته ترڅو ننني جلال آباد ته نږدې د نیاسا (Nysa) ښار ته ورسېد، چې مؤسس یې د ډایونیسس (Dionysus) په نامه یو خدای ګڼل کېده او سکندر هغه په خپل حال پرېښود سکندر دلته خپل پوځ دوه ځایه کړ، وړه برخه یې د دوه قوماندانانو په سروالۍ د خیبر له لارې د اباسین یا انډوس (Indus) ته د رسېدلو په مقصد وګمارله او په خپله یې د پوځ له لویې برخې سره د کونړ (خوسپس او

باجوړ لار ونیوله [۷۶] په کونړ ي اسپه سیان (Aspasians) او په باجوړ کې د هغو یوه څانګه ګوراییـنان (Guraeans) او په سوات کې یې بله څانګه اساسي نیان (Assacenians) په کلاګانو کې اوسېدل اسپه سیان په سانسکرت کې اسواکا (Asvaka) یا اسوه غانه یادېدل، چې وروسته په اسلامي دوره کې په افغان یاد شول

د خیبر د لارې پوځ بې له کوم خطرناک مقاومت نه په ځه باندې یوه میاشت کې اباسین ته ورسېد، خو سکندر په کونړ کې له ټینګ مقاومت سره مخ شو د مؤلف ګرین په وینا "له هغې غرنۍ سیمې نه چې دی تېر شو ګرانه وه چې جوړه وکړي او له ډېرو دغسې قوي خلکو سره مخ شو چې ځانونه یې لوړې درجه جنګیالي ثابت کړل په یوې نښتې کې غشي یې له اوږې نه تېر شو او د جنګ تر پایه پورې (چې د ۳۲۷ له نومبر نه د ۳۲۶ تر فبرورۍ پورې اوږد شو) حال یې چې په دقیق ډول وښوول شي، خورا لړزنده او عصبي به بیان شي زیاتره دیوال لرونکي ښارګوټي چې ده پرې ودانګل ددې پرځای چې خپل ورونه پرانېزي ټینګ مقاومت وښود او څه وخت چې په پای کې لاندې شول، اوسېدونکي یې د انتقام په ډول ټول له تېغ نه تېر کړل [۷۷]" سکندر د انداکا (Indaca)، اندراج ؟)، برکوټ (Birkot) بریکوټ) او آري ګاین (Arigaion) هرنای یا ارنوایي) ښارګوټو له لاندې کولو نه

وروسته د چترال ښار هم لاندې کړ، چې د اسپه سيو ډېر مهم ښار و[۷۸] د اساسنيانو په ملک کې د مساګا (Massaga) ښارګوټي له څلورو ورځو نښتو نه وروسته په سختۍ سره ونيول شو او د هغه اوه زره هندي سرتېري اجيران يې، چې د اسپه سيانو واکمن استخدام کړي وو، ووژل. دوی د جنګ په اخر کې يونانيانو ته تسليم شوي وو[۷۹] د اساسنيانو په سيمه کې د اورنوس (Ornos) غر و، چې د اوسني سوات او بونير خلکو ورته پناه وړې وه. سکندر د هغو د لاندې کولو په نيت هم شو، لکه چې د سغديانه غره کې يې هم همدغسې کړي و. يونانيان معتقد وو، چې د دوی د خدايګوټو دايوني سوس (Dionysus) او هېراکليس ډېر دمخه هند لاندې کړی وو، سکندر وغوښتل چې د هغو تقليد وکړي، بلکې تر هغونه لا زيات وکړي نو يې هلته په جګړه کې په خپله برخه واخيستله "... او تر احتياط نه زيات له انرجي نه کار واخيست او په پای کې چې له هرې خوا نه پرې ګوزارونه کېدل، په ځمکه ولوېد "او سخت ټپي شو اخري بری سره له دې هم د مقدونيانو شو او سکندر لومړی کس و، چې د غره سرته وخته. د اباسين په لويديځ کې د هغه اخري عمل ډېر زيږ و. له پلوتارک نه روايت دی، چې "... وروسته له هغه چې هغه په يوه ښار کې ورسره اوربند وکړ، پرې يې ښوول چې ولاړ شي، د تګ په وخت کې

يې پرې نابيره وداګكل او ټول يې ووژل او دغه عمل د هغه په نظامي سوانح کې د يوه داغ په شان نښتی دی، په نورو ټولو حالاتو کې هغه د يوه پاچا په شان د رواج له مخې جنګ کړی دی "[۸۰] د سکندر تاريخي بيوګرافي ليکونکی پروفيسر پيټر ګرين وايي، چې "د هندوش اهندوکش! جنګي قومونو سکندر له دغسې ډېر سخت مقاومت سره مخ کړ، چې هغه هېڅکله تجربه کړی نه و"[۸۱].

## سکندر په هند کې:

سکندر د ۳۲۶مخزېږدي کال په اپريل کې د خپل پوځ د دوارو برخو په سروالي له اباسين نه او د هند په برخه کې چې له اټک نه يو څو ميله لېرې په شمال کې پروت دی، تېر شو او د تاکسيلا نوی پاچا امفي په نظامي مرسته د پاچا پورس د لاندې کولو په نيت د پنجاب په لور روان شو. تکسيلا د اباسين او جيلم د سين ترمېنځ يو لوی ښار و او له جېلم نه اخوا د پاچا پورس علاقه وه، چې په هند کې تر ټولو پياوړی پاچا و. ده هم د ېسوس په شان فکر کاوه، چې سکندر به له خپل پوځ سره د جېلم له سين نه تېرېدلی ونه شي، خو سکندر له هغه نه تېر شو، لکه چې دمخه له امو نه تېر شوی و. په هغې جګړې کې چې د پورس پاچا "پوځ او د سکندر د پوځ ترمېنځ

ونښـتله ، د هنـد لـه پـوځ نـه نـژدې شـل زره پلـي او درې زره سواره تلـف شـول يونانيـانو هـم تلفـات ورکـړل پـه پـای کـې پاچـا پـورس سـکندر تـه تسـليم شـو او د دواړو تـرمينځ روغـه وشـوه او دواړه سـره مخـامخ شـول پـورس د سـکندر د يـوې پوښتنې پـه برابـر کـې چـې اوس څـه درسـره وکـړم وويـل چـې "دغسـې سـلوک راسـره وکـړه ، چـې يـو پاچـا يـې بايـد وکـړي " سـکندر بيـا وپوښـته ، چـې کـه کـوم بـل څـه رانـه غـواړې؟ پـه ځـواب کـې يـې واوريـدل چـې "زمـا پـه دغـې غوښـتنې کـې هـر څـه پراتـه دي " سـکندر پـه دغـه ځـواب سـره خـوښ شـو او پاچايي يې بېرته ورته ورکړه [۸۲]

د غالـب او مغلـوب پاچايـانو دغـه محـاوره د احمـد شـاه درانـي او د پنجـاب د مغلـو مغلـوب وايسـرای ميـر معـين الملـک محـاوره راپـه يـادوي ، چـې څـه بانـدې دوه زره کالـه وروسـته لـه هغـه لاهـور تـه نـژدې شـوې وه معـين الملـک د احمـد شـاه ددغـې پوښـتنې پـه ځـواب کـې ، چـې کـه زه سـتا لاس تـه درغلـی وای ، څـه بـه دې راسـره کـړي وای؟ وويـل چـې "مـا بـه دې سـر پـرې کـړی او هغـه بـه مـې خپـل شاهنشـاه تـه استولی وای " احمـد شـاه بيـا وپوښـته ، چـې اوس چـې تـه زمـا پـه لاس کـې يـې څـه درسـره وکـړم؟ هغـه بيـا وويـل چـې "کـه سوداګر يـې خـرڅ مـې کـړه ، خـو تـه پاچـا يـې يـو عـادل او زړه سـواندی پاچـا احسـان راسـره وکـړه او ومـې بښـه " احمد شاه همدغسې وکړل [۸۳]

خو سکندر د خپل بري په هسکه او د ځواني په قوت کې د خپل پوځ په برابر کې مغلوب شو له جنګ نه ستومانو او له خپل وطن نه مسافر سر تېرو او افسرانو يې نور نه غوښتل جنګ وکړي او دمخه ولاړ شي سکندر ډېر کوښښ وکړ، چې هغوی له خپل عزم نه واړوي، خو بريالی نه شو که څه هم د اوږدې وينا په ترڅ کې يې ورته وويل چې تاسې زما په قومندانۍ ډېر هېوادونه لاندې کړي او نږدې ده چې ټوله نړۍ ونيسو او " دغسې امپراتوري به هېڅ پولې ونه لري، خو هغه چې خدای د ټولې نړۍ لپاره ټاکلي دي " دا يې هم ورته وويل، چې "لاندې شوې نړۍ په تاسو پورې اړه لري، د شتمنۍ زياتره برخه يې لا دمخه د تاسو په لاسونو کې لوېږي او هغه وخت چې ټوله اسيا لاندې شي، زه به له دېنه هم وړاندې لاړ شم چې يوازې ستاسې غوښتنې پوره کړم له هغه نه چې تاسې خيال کوئ ډېر شته او قدرت به ولرئ زه به هغوی چې پاتې شي، د هغو د رخې وړ وګرزوم چې غواړي ستانه شي "

کوي نس (Coenus) يوه افسر د نورو له خوا د اوږدې مودې وينا په ترڅ کې د ټولو د ګټې او مصونيت په خاطر وويل، چې ټول موجود پوځيان "... له تا سره د جنګ خطرونه او سختۍ ګالي او له هغو نه ځينې وژل شوي، ځينې چې په زخمونو سره معيوب شوي وو، د اسيا په بېلو

ښلو برخو کې پاتې شوي دي او ډېر نور له ناروغۍ نه مړه شوي دي او په دې ډول له هغه لوی پوځ نه کم پاتې شوي او د يو څو نورو روغتيا او پښتوانې قوت او عزم له منځه تللی دی دوی هر يو په ټينګه غواړي خپل پلار او مور يا خپلو مېرمن او بچيان، که ژوندي وي، ووينې ټول د خپل کور اشنا خاوره غواړي په دې هيله چې له سره يې ووينې او ژوند وکړي، نه په غريبۍ او بې نومۍ سره، د ښخوا په شان، بلکې په هغې خزانې چې د تا له برکته يې ګټلي په ښه نامه او شتمنۍ سره کوښښ مه کوه ددغسې کسانو قومنداني وکړې، چې نه غواړي درپسې لاړ شي، که د هغو زړه درسره نه وي، ته به د هغو پښتوانۍ زړور تيا يا پښتوانې روح ونه مومې صاحبه! که تر هر څه لوړ يو څيز وي، چې يو بريالی کس پرې پوه شي، هغه دا دی چې څه وخت پر ځای ودرېږي»[۸۴]

## د سکندر وروستي وخت:

سکندر بيا نه يوازې "پر ځای ودرېد" بلکې پر شا ولاړ او په سره اوړي کې د بلوچستان د ګاکرو له پاسه د مقدونيې په لور روان شو او وروسته له هغه چې په دغې سختې لار او تودخې کې يې ډېر سر تېري هلاک شول، بابل ته ورسېد تر هغه دمخه د سوسه (Susa) په ښار کې د باختر او فارس ملکونو له لوړو کورنيو نه په يوه روايت

نهه زره او په بل روايت لس زره نجوني د پوځ سر تېرو او افسرانو ته په لوړو مراسمو سره واده کړې. د داريوش يوه لور يې له ځان سره او د هغه د کورنۍ نورې نجونې او داسې هم د نورو لوړو کورنيو نجونې يې له خپلو افسرانو سره جوړه کړې، چې په هغو کې د سپتامنز لور اپامه هم وه، چې سلو کوس نيکه تور ته يې واده کړه. وروسته په بابل کې يې خپل وطنوال په دې ډول مخاطب کړل

"غواړم درياده کړم چې هغه وخت چې زمونږ په خدمت کې شامل شوئ، ستاسې حال څنګه و؟ اول به د خپل پلار له وخت نه شروع وکړم، هغه وخت چې هغه ومونږلى تاسې خوار، بې وزلي او کوچي خلک وئ، چې د غرو په لمنو کې مو وړې رمې پيولې، چې هغه مو د غرنيو ګاونډيو قومونو په مقابل کې له جنګ نه پرته ساتلى نه شوې، هغه هم زياتره وخت په نابريالي ډول. د اغوستلو لپاره هغه د پوټکو پرځای کالي درکړل او له سپېرو غرو نه يې ښېرازو هوارو ته ښکته کړئ او درته يې وښووله چې له دغو قومي خلکو سره وجنګېږئ، ددې لپاره چې مجبور نه اوسئ د خپل ژوند د خونديتوب لپاره سختو ځايونو ته پناه يوسئ. هغه ښارونو ته راوستلئ، عادل قانونونه او ضابطې او مدني رواجونه يې درکړل. په دغو بربريانو باندې يې واکمن کړئ، يانې هغوی چې تل يې زورولي، ځپلي او مريي کولئ او تاسې يې له لاس لاندې

کسانو څخه خپلواکي. ته ورسولئ "سکندر وروسته له هغه چې د خپل پلار له خوا د يونان د لاندې کولو قصه وکړه، په خپلې قومندانۍ سره يې د هخامنشي امپراتورۍ، مصر، باختر، سغديانې او هند دلاندې کولو بيان وکړ

"ما له خپل پلار نه د سرو او سپينو زرو يو څو جامونه او د شپيتو تالانو (Talents) يوه خزانه او پينځه سوه تالان پور په ميراث وموندل اته سوه نور تالان مې پور کړل او له دغسې هېواد نه روان شوم، چې حتى تاسې يې مړولى نه شوئ "اوس "مصر، سايرين (Cyrene) چې بې له جنګ جنګ نه مې ترلاسه کړل، ستاسې دي سوريه، فلسطين او بئن النهرين ستاسې دي د بابل، باختر، سوسه او د ليديا شتمني، د پارسيانو شتمني او د هنديانو شتمني ټولې ستاسو دي او سرخلاصى سمندر ستاسو دى له تاسو نه واليان، جنرالان او لوى واکمنان هسک شوي دي زه له دغو ډېرو غنيمتونو نه، له دغه تاج او زېړې چپنې نه پرته څه لرم؟ ما هېڅ شيز د ځان لپاره ساتلى نه دى له تاسو نه هېڅ څوک له دغو شتمنيو نه پرته چې تاسې لپاره ساتل کېږي، زما شخصي خزانې ته ګوته نيولى نه شي زه د هېڅ شيز ساتلو لپاره اړتيا نه لرم، ځکه چې زه هغه څه خورم چې تاسې يې خورئ د تاسو په شان خوب کوم په رښتيا کوم خواړه چې زه يې خورم زياتره وخت

نظر د تاسو له خوړو نه چې ښه دي، لا ساده دي او زه پوهېږم چې زیاتره وخت زه هسې ویښ ناست یم، چې وګورم تاسې په ارامۍ او مصؤنیت سره خوب وکړئ له تاسو نه ځینې ګیلې کوي، چې ستونزې او سختۍ مو ګاللي دي، آیا له تاسو نه څوک ویلی شي چې تاسې هغه ستونزې ګاللې دي چې ما نه دي ګاللي؟ له تاسو نه څوک ویلی شي، چې هغه زما لپاره ډېرې سختۍ تېرې کړې نظر د بېته چې ما یې په اړه سختۍ ګاللي دي؟ راځئ اوس هر یو چې له تاسو نه زخمونه لري ځان لوڅ کړي او زه به خپل زخمونه وښییم زما د بدن هېڅ برخه البته د مخې برخې له داغونو نه خالي نه ده او نه داسې وسله شته چې زما په بدن باندې یې نښې نه وي پرې ایښې زه د لاس په لاس جګړه کې په توري سره ټپي شوی یم، زه په غشو او د منجلیقونو په ګولیو سوری شوی یم، زه بیا بیا او ټول ستاسې په خاطر په کاڼو او سوټیو وهل شوی یم ما ستاسې د ودونو لپاره جشنونه نیولي، لکه څنګه چې مې د خپل واده لپاره جشنونه نیولي دي او د تاسې ډېرو ماشومان به زما د ماشومانو خپلوان وي [85]" خو دده د وینا اخري برخه ربښتیا نه شوه، ځکه چې دی په همدغه بابل ښار کې د مخزېږدي ۳۲۳ کال د جون په دیارلسمه د دره دېرش کلونو په منګ په ظاهر کې د شدیدې تبې له امله مړ شو

په نړۍ کې د سکندر په شان قومندان، هغه هم ځوان قومندان، تېر شوی نه دی. ده د خپل وخت نږدې ټوله معلومه نړۍ په لنډې مودې کې لاندې کړه په هغو یې هېڅ رحم نه کاوه، چې ورسره جنګېدل او مغلوبېدل ځنګه چې ده بېحسابه جګړې ګټلې، بېحسابه انسانان هم وژل شوي دي، که څه هم هغوی یې بښل چې ورته تسلیمېدل له بلې خوا ده په بابل کې د یوې سترې غونډې په ترڅ کې د مغلوبو او غالبو ولسونو د زرګونو نارینه او ښځینه ځوانانو په جوړه کولو سره ددغو ولسونو ترمېنځ د "یخلاینې او اتحاد" بنسټ هم کېښود، په دغه مقصد چې "د لاندې شویو او فاتحانو ترمېنځ توپیر له منځه یوسي [86]" ده لا دمخه په باختر کې د همدغه مقصد د واقعي کېدلو په لور عملي ګامونه اخیستي وو، چې نتیجه یې هلته د یوه نوي ډینامیک مدنیت هسکېدنه شوه. په واقع کې دده په یرغلونو سره د ختیځ او لویدیځ ترمېنځ د لومړي ځل لپاره د سوداګرۍ او پوهاو لار خلاصه شوه، خو دده د خپلې وینا له مخې ده مغلوب ولسونه لوټ کړل، په دغه مقصد چې خپل خوار مقدونیان او یونانیان شتمن کړي، نو د ساکا مشرانو هغه وینا سمه وختله چې ورته یې ویلې وو، چې "ته لومړی کس یې چې له حد نه د ډېرو څیزونو په لرلو سره دې ولږه پیدا کړې ده" له دې ټولو سره سره یا د هغو له امله

ACKU

سکندر او کارونه یې اوس هم د معما په شان دي او تاریخپوهانو ددغې معما د پوهېدلو په مقصد ډېر اثار کښلي او لا یې هم کاږي سکندر په نړۍ کې د هغو له ډلې نه دی، چې په اړه یې بیخي ډېر آثار خپاره شوي دي په خاص ډول د یادونې وړ ده، چې د سکندر له امله د اریانه د ولسونو تاریخ د لومړي ځل لپاره ډېر روښان شو، خو تراوسه په قانع کوونکې توګه یقیني شوې نه ده، چې سکندر ولې دغسې نه فکر کېدونکي کارونه وکړل، چې یې وکړل

## یونان- باختري دولت:

د سکندر له مړینې نه زر وروسته "سپېڅلی اتحاد" له منځه لاړ او امپراتوري یې له یو ځه کړکېچ نه وروسته د هغه د څلورو جنرالانو ترمېنځ ووېشل شوه مقدونیه او یونان د کساندر (Cassander)، مصر د بطلیموس (Ptolemy)، تریس او وړه اسیا د لای سماکوس (Lysmachus) او بابل، پارس، باختر د سلوکس نیکاتور (Selecuz Nicotar) شول په دې ډول نیکاتور چې د بابل والي و، په ۳۱۲ کې د سکندر د امپراتورۍ د پراخې برخې واکمن شو، خو په مخزیږدي ۳۰۵ کې مجبور شو چې د هندوکش ختیځې خوا سیمې د هند پاچا چندرا ګوپتا موریا ته پرېږدي، چې د سکندر له مړینې نه

وروسته پاچا شوی او د پتالي پوتره یا پتنه ښار یې مرکز گرزولی و ده د نیکاتور ټول هغه کوښښونه شنډ کړل، چې د امپراتورۍ د ختیځو برخو د خوندي کولو لپاره یې کول د یوه تړون له مخې نیکاتور ومنله، چې د پینځه سوه پیلانو په عوض دغه سیمې د گد روسیه بلوچستان په گډون چندراگوپتا ته پرېږدي سره له دې هم د موریا کورنۍ په گندهارا یانې کابل او کندهار باندې حاکمه شوه په دې ډول د هندوکش غرونه د سلوکوس او د موریا کورنۍ ترمېنځ پوله شول دغه امپراتوري د چندرا گوپتا د لمسي، اشوکا په دوره کې له هرات نه تر بنگال او میسوري پورې پراخه وه او بودایي دین هم یکې خپور شو بودیزم حتی په چین کې هم د مذهبي ډلو په کوښښ سره لار وموندله، خو د اشوکا له واکمنۍ وروسته د موریا امپراتوري چې د هند لومړۍ امپراتوري وه، مخ په ځوړ شوه او په مخزیږدي ۱۸۵ کې له ۱۳۶ کلونو عمر نه ورسته له مینځه لاړه د چندرا گوپتا تر وخت پورې د هندیانو ژبه، سانسکرت یوازې ویل کېده او له هغه وروسته ولیکل شوه [۸۷]

باختر ته د نیکاتور توجه هم هغومره ډېره وه، لکه د سکندر چې وه دی هم د سکندر په شان د باختریانو زوم و او په هغه برسېره ډېر یونانیان او مقدونیان لکه چې دمخه ویل شوي، په باختر کې پاتې شوي وو لکه چې

ویل شوي سکندر برسېره پر دې چې شل زره ټېپي او ناروغ یونانیان یې له ځایي خلکو سره پرې ایښې و، د باختر او سغدیانې له لوړو کورنیو څخه یې دېرش زره ځوانان نظامي خدمت ته جلب کړي وو برسېره پر دې په اریا (هرات)، اراکوزي (کندهار)، بلخ (بکترا) او داسې یې هم په سغدیانه کې یو لړ نظامي چوڼۍ جوړې کړې وې، چې هغه ورو ورو په ښارونو بدلې شوې او یونانیان پکې اوسېدل سلوکوس (۳۱۱-۲۸۱) مخزیږدي) او د هغه ځای ناستي زوی انتیاکوس (Antio chus) په باختر کې د یونانیانو ځای پر ځای کولو ته لا هم دوام ورکړ دوی د نویو ښارونو بنسټ هم کښېښود چې په دغه عمل سره یې د یوناني کولو حرکت پیاوړی کړ ددغه حرکت غټه بېلګه د آی خانم ښار دی، چې په ختیځ باختر کې د امو او کوکچې سیندونو د یوځای کېدلو په برخه کې په مخزېږدي ۳۰۰ کې یې بنسټ کښېښودل شو بنسټ ایښودونکی په خپله نیکاتور و دغه ښار هم د یوناني ښارونو په شان د یوې جګې غونډۍ په اړخ کې ودان شو اصلي نوم یې یوناني و، چې تراوسه هم معلوم شوی نه دی ښار د یونانیانو او په خاص ډول د هغو د واکمنې ډلې لپاره جوړ شوی و او هغه ځانګړ تیاوې یې لرلې، چې یوناني ښارونو لرلې لکه د واکمن ماڼۍ، جمنازیېم، تیاتر، پراخ انګړونه او ډبرینې پیې ستنې[۸۸]

آی خانم د باختر مرکز شوی و، چې والي یې له هغه نه د سلوکوس تر لاس لاندې باختر او سغدیانه اداره کوله مهمه دا ده، چې د باختر والي دیودوتس (Diodotus) په مخزېږدې ۲۵۶ کې باختر خپلواک اعلام کړ او په دې ډول یې د یونان- باختري خپلواک دولت بنسټ کېښېښود، چې څه باندې یوه پېړۍ یې په باختر کې عمر وکړ. دغه دولت چې په شمال کې ډېر ځایونه د مرو په ګډون له لاسه ورکړل، د ختیځ په لور یې ډېر پرمختګ وکړ. نه یوازې د هندوکش د سهیل ټولې ځمکې یې د اریا (هرات) په ګډون د موریا له واکمنو نه ونیولې، د مخزېږدې ۱۹۰ او ۱۸۰ کلونو ترمېنځ یې د شمالي هند لویه برخه هم لاندې کړه، خو واکمنو یې ونه شو کولی دغه پراخ ملکونه سره یو موټی وساتي، ځکه چې په دوی کې دوه واکمنې کورنۍ هسکې شوې: د ډیمتریوس (Demetrius) کورنۍ په شمالي هند کې او د یوکراتیدس (Eucratides) په باختر کې. دغه وېش په ختیځ کې د یونان واکمنې د خوندي ساتلو د هیلې لپاره د مرګ ژېپره شوه. دا په دغسې حال کې چې سرتېري یې چې یوناني وو، وار په وار په جنګونو کې له لاسه ورکول، بې له دې چې نوي یوناني ملاتړان ترلاسه کولی وشي، نو واکمنان یې کمزوري کېدل[89]. په پای کې، چې زر به ولیدل شي، په یونان- باختري دولت باندې د مرګ

ځپېږه لـه بانـدې نـه حوالـه شـوه، لکـه چـې پـه هخامنشـي امپراتـورۍ بانـدې هـم دغسـې شـوي و خـو یونـان-بـاختري ښـه پرمختللـې او روښـانه دوره وه. هغـه د زرو ښـارونو پـه نامـه یادېـده، لـه زراعتـي او کلیـوالي حـال نـه تېـره شـوې، مـدني او ښـاري دورې تـه رسـېدلې وه. پـه دغـې دورې کـې محلـي او ترانزیتـي سـوداګري وده کړې وه، چـې لـه املـه یـې نقـره یـي سـکې پرېمانـه پـه چلنـد کـې وې. ددغـه نـوي مـدنیت ترڅنګـه د باختریـانو او ښـاري یونانیـانو او د کلیـو او بانډو خلکـو پـه دغسـې فضـا کـې سـره ګـډ ژوند کـاوه، چـې د اروپایـانو او اسـیایانو د ورورۍ او همکـارۍ لـوړه بېلګـه ګڼـل شـوې ده. د مؤلف هولټ پـه وینـا: د نولسـمې پېړۍ اروپـایي پوهـانو پـه بـاختر کـې د لرغـوني نـړۍ ډېـر ښـه اړخونـه وموندل: ځینـو لا د بېلـو کلتورونـو د خلکـو تـرمنځ دغـه ورورۍ لـږ تـر لـږه پـه ځینو برخـو کـې داسـې ګڼلـه، چـې نـړۍ یې د عیسویت د هسکېدلو لپاره هواره کړې وې[۹۰]

## پـارتیـه:

د پـارت دولـت، چـې د یونـان- بـاختر پـه لویـدیځ کـې هسک شو، د وروسـتي پـه زیـان تمـام شو، کـه څـه هـم هغـه ورتـه د سلوکیدي خطـر مخـه نیولې وه. پارتیـه د دامغـان، شـاه رود، جـوین، سـبزوار، نیشـاپور، طـوس، ترشـیز لـه سیمو او د هریـرود لـه حوضـې نـه جـوړه وه[۹۱] دا هغـه سـیمه

وه، چې په منځنيو پېړيو کې د خراسان په نامه ياده شوه پارتيه دوه کاله وروسته له هغه په مخزيږدي ۲۵۴ کې سر هسک کړ، چې د يونان باختري دولت په بلخ کې د ديودوتس په سروالۍ په واک رسېدلی و د پارت د دولت د بنسټ ډېره ارساس (Arsaces) ايښې وه، چې په ارساک (Arsak) يا ارشاک يادېده دی د پرنای (Parnae) څانګې مشر و، چې د پوونده دهای (Dahae) قوم يوه برخه وه او هغه مساګيتا (Massagetae) ته منسوب وه دوی چې په اصل او نسب کې ساکاوو د کسپين او ارال ترمېنځ سيمو کې اوسېدل [92] د ګرشمن په وينا د ايران په خاوره کې د پارني ننوتل د ستي (ساکي) قومونو د هغه لوی حرکت مخکښ ګڼل کېدلی شي، چې يوه پېړۍ وروسته د هغو پرغل ايراني اد پارس) دولت نسکور کړ او د يونان باختري واکمني يې ختمه کړه

په هر حال د پارت واکمني اول تر څه حده د ارساک د ورور تيريداتس (Tiridutes) او په پوره ډول د متريداتس (Metridates) په پاچايي کې په يوې امپراتوري بدله شوه ددغې کورنۍ هر پاچا د پارتيا د مؤسس ارساس (Arsases) په لقب يادېده او وروستي پاچايي ارته بانوس (Arta banus) د دېرشم ارساس لقب درلود لومړی متريداتس له مخزېږدي ۱۶۰ نه تر ۱۴۰ پورې ماد، ايلام، پارس، کاراسين (Characene)، بابل،

اثوریه په لویدیځ کې او ګډ روسیه او ممکن هرات او سیستان په ختیځ کې لاندې کړ په دې ډول د پارت امپراتوري په اروپا کې د روم د امپراتورۍ رقيبه شوه، چې د سلوکوس امپراتوري یې لاندې کړې او په خپله یوه لویه امپراتوري جوړه شوې وه، خو هرات او سیستان چې د مخزېږدې لومړۍ پېړۍ پورې د پارت د امپراتورۍ یوه برخه وه، له هغه وروسته د ګوندوفاریس (Gondophares) په مشرۍ خپلواک شو دی چې په ختّه ساکاو له سیستان نه تر اباسین نه اخوا پورې یې دغسې یوه لویه امپراتوري جوړه کړه، چې تر زېږدې دریيمې پېړۍ پورې پرځای وه، چې له هغه وروسته ساسانیانو لاندې کړه، د ساساني اردشیر پاچا د پارتیه وروستۍ پاچا ارتبانوس په له مېنځه وړلو سره د پارتیه امپراتوري په زېږدي ۲۲۴ کې ختمه کړې وه[۹۴].

## د چین د لوی دېوال بشپړېدل او په باختر باندې د هغه اغېزې:

په اصل کې دا د چین د لوی دېوال بشپړېدل و، چې د یونان-باختري دولت د نسکورېدلو لامل شو دغه دېوال د چین په نامه د واکمنې افسانوي مؤسس شهه هوانګ تي (Shih Huang Ti) په دوره کې په ۲۲۰ مخزېږدي کې بشپړ شو چینایان له ډېر پخوا نه د دفاعي دېوالونو په

جوړولــو معتقــد شــوي او پــه شــمال او شــمال لويــديځ سـرحدونو کــې يــې د پــر د پوالونـه درولـي وو شـه هوانـک ټـي پاچـا هغـه تـرميم او نـور هـم پيـاوړي کـړل او لـه يـوه بـل سـره ونښـلول ، چـې ټـول اوږدوالـي يـې څـوارلس سـوه ميلـه شـو دغـه د پـوال دغـومره پـراخ و ، چـې د سـړک پـه ډول تر ېنـه کـار اخيسـتل کېـده او پـه ټـول اوږدوالـي کـې يـې د څـارنې دغسـې برجونـه جـوړ شـول ، چـې د لنـدو دوه غشـو پـه انـدازه سـره ليـرې وو ، پـه ورځ کـې د دود پـه علامـو او پـه شـپه کـې پـه رڼـا سـره د يرغلگـرو خبـر ورکـول کېـده هغـه ددغسـې سـتر ديـوال لپـاره د بزگـرو ، جنگـي بنـديانو ، گـدايگرو ، جانيـانو او مريـانو لـه بېگـار نـه اسـتفاده وکـړه فکـر کېـږي ، چـې يـو ميليـون انسـانان بـه د هغـه پـه جوړېـدلو کـې تلـف شـوي وي [۹۵] د چـين کـورنۍ نـه وروسـته د هـان کـورنۍ واکمنـه شـوه او واکمنـي يـې څلـور پېـړۍ اوږده شـوه د د پـوال درولـو اصـلي موخـه پـه چـين بانـدې د مغلـي پوونـده قومونـو د يرغلونـو او ورانيـو مخنيـوی و د هسـيونګ نـو Hsiung Nu قـوم چـې وروسـته پـه هونـانو Huns يـاد شـول او د تـرک مغـولي خلکـو يـو لوی پوونـده قـوم وا و پـه ختيځـې سـايبيريا کـې اوسـېدل ، لـه هغـه وروسـته د لويـديځ پـه لـور مخـه وکـړه دوی د مخزېـږدې درپيمـې پېـړۍ پـه نيمـايي کـې سـره يـو مـوټی شـول او د شـان يـو Shan Yu پـه مشـرۍ يـې يـو پيـاوړی ولس جوړ کړ [۹۶]

## یوچیان یا کوشانیان:

د چین د یوال په بشپړېدلو سره دغسې پېښې په یوې بلې پسې وشوې، چې له امله یې تر باختر او هند پورې ډېر ولسونه له خپلو مېشت ځایونو نه بېځایه شول. په پیل کې هونانو په مخزیږدې ۱۷۷ کې د لویدیځې کانسو Kansu په یوچیانو Yue Chih وداننګل او هغوی یې اړ کړل، چې د لویدیځ پر لور کوچ وکړي. د دوی وړه ډله یا واړه یوچیان د تبت شمال ته او لوی یوچیان منځنی اسیا ته د ایلې درې ته وکوچېدل. څو کاله وروسته یوچیان د هونانو او ووسون Wusun قوم په ګډون مجبور شول د جنوب په لور مخه وکړي او د خپلې مخې کوچي قومونه پرار ته اړ کړي. په دې ډول د تارم سیمه د لومړي ځل لپاره د ترکمن مغلي قوم هان شوه[۹۷] ددغه حرکت په لړ کې یوچیانو د ساکا په قومونو باندې لنګر واچوه او سغدیانه یې ترینه ونیوله او د ساکا قومونه له آمو نه تېر شول او باختر یې ترلاسه کړ. په دغه وخت کې په یوچیانو او ساکا پورې اړوندې پېښې رڼې نه دي، خو دغومره څرګندې ده چې ساکي قومونو باختر د هغه له واکمن هلیوکلیس Heliocles نه د مخزیږدې ۱۴۰ او ۱۳۰ کلونو ترمنځ ونیوه او د آی خانم ښار پاچایي ماڼۍ یې په ۱۴۵ کې وسوزوله، په داسې حال کې چې یونانی اوسېدونکي یې له ښار نه دمخه وتلي وو. د شاوخوا محلي

خلکـو د ښـار ودانـۍ ونیـولې او د پـرار شـویو شـتمنی یـې خپلې کړې څـه وخت وروسـته د چینـي ترکسـتان یوچیـانو هـم پـه آی خـانم ودانګـل او وران یـې کـړ یـوازې پـه غونـډۍ بانـدې د آی خــانم حصــار پــاتې و، چــې پــه هغــه کــې د تیموریانو تر وخته پورې ژوند کېده[۹۸]

سـاکي نـامتو قومونـو، چـې بـاختر لانـدې کـړ د سـترابو د لیکنــې لــه مخــې دا دی آسـي (Asii) یــا اسـیویي (Asioi)، پاســـیه نـــوی (Pasionoi)، توخـــاروی (Tokhario) او ســاکارالای (Sakaraulai) دوی ټـول د سـردریا (Jaxartes) د شـمال لـه ملکونـو څخـه وو یـوازې توخـاروی د یوچیـانو زړی شـمېرل کېـدلی شـي[۹۹] د امـو سـین شـاید پـه همدغـه وخـت کـې د سـاکا د یـوه ټبـر هـاما ورګـه څخـه د هـامو یـا آمو پـه نامـه یـاد شـوی وي آمـو یونانیـانو دمخـه لـه وخـش نـه (Wakhash) څخه په اکسس (Oxus) اړولی و[۱۰۰]

یوچیـانو هـم پـه خپلـې نـوې مېنـې سـغدیانه کـې ډېـره توختـه ونکـړه، پـه مخزېردې ۱۲۶ کې لـه آمو نـه تېـر شـول، آی خـانم یـې نـور هـم وران کـړ او بـاختر یـې لـه سـاکا قومونـو نـه ونیـوه زیـاتره سـاکا بیـا پـه درنګیانــه او اراکوزیــه ورښـکته شـول پـه کومـو کـې چـې سـاکا دمخـه مېشـته شـوي وو درنګیانــه د ســاکا پــه مېشـــته کېـدلو سـره اول پــه ساکسـتانه او بیـا پــه سیسـتان یـاد شـو او سیسـتان د دوی دایمـي هېـواد شـو سـاکاوو وروسـته کابـل او پنجـاب هـم

لاندې کړ او کله چې په هند کې یوچیان پرې لاس برې شول، دوی بیا مالوان او ګجرات ته لاړل او هلته یې تر زېږدي څلورمې پېړۍ پورې واکمني وکړه[۱۰۱]

په باختر کې د یوچې د لوی ټبر پينځه څانګې ځای پرځای شوي وي، دوی چې په اصل کې سپین پوټکی اریایي وو، د ساکا لوی ټبر ته منسوب وې د هرې څانګې مشر یابغو (Yabghu) په خپلو یوچیانو، باختریانو او یونانیانو باندې واکمني کوله باختر دوی سره وېشلی او د ځایي مشرانو په مرسته یې اداره کاوه څه باندې نیمه پېړۍ وروسته د زېږدي لومړۍ پېړۍ په نیمايي کې د کوی- شانګ (Kuei-Shaung) د څانګې مشر، کجولو کدفیزس وکولی شول ددغو څانګو مشران سره یو موټی کړي او د یوه دولت بنسټ کښېږدي له هغه وروسته دغه دولت د نورو ملکونو په لاندې کولو سره د کوشان امپراتوري شوه پاچا کدفیزس وروسته د هندوکش په سهیل کې کي پن (Ki-Pen کاپیسا)، کاوفو (کابل) د یونان- باختري وروستی پاچا هرمایوس (Her maeus) او غزني او داراکورني شمال سیمې له پهلوایاونه ونیولې (هندیانو پارتان د پهلواها په نامه یادول) هرمایوس د هندوکش په سهیل کې د یونان- باختري دولت وروستی پاچال ګڼل کېږي کدفیزس تر اباسین پورې ټولې سیمې لاندې کړې او وروسته له ۳۸ کلونو پاچايي نه مړ

شو دده د دورې سکې دغومره ډېرې دي، چې ځينې د هغو له مخې وايي چې دده د واکمنۍ موده اتيا کاله وه دده لمسی پاچا ويماتاکتو Vima Takto په خپلو سکو کې خپل ځان ستر ژغورونکي Store mergas ښوولی[١٠٢] د کوشاني پاچايانو ډېر نوميالی کنشکا نومېږي، چې امپراتوري يې له ګنګا نه نيولې تر تارم حوضې پورې غزېدلې وه په لويديځ کې يې پارتيه ګاونډۍ وه، خو سرحدونه يې چې د سکندر له امپراتورۍ نه وروسته ډېره پراخه امپراتوري وه د هر پاچا په وخت کې ناثابته او د تغيير په حال کې وه د کنشکا پای تخت په ژمي کې پوروشاپورا پېښور او په اوړي کې باګرام و د کنشکا په وخت کې بودايي دين دننه په امپراتوري کې ښه خپور شو او د مذهبي مبلغانو له لارې يې چين ته هم لار ومونده دغه ډېره پراخه امپراتوري د کنشکا کورنۍ د پاچايانو په وخت کې د سوداګرۍ په ښې پرمختيا سره په ښه حال وه په تېره د پاچا هوشکا Huviska په وخت کې چې ممکن د خپل عظمت هسکې ته رسېدلې وه، خو د پارس د ساساني امپراتورۍ مؤسس اردشېر په ۲۲۶ ز ېږدي د کوشاني پاچا واسيوډېوا ته ماتې ورکړه او په دې ډول يې د کوشاني واکمني ختمه کړه

## ساسانیان او یفتلیان:

اردشېر د خپل ورور پاچا شاهپور له مرګ نه وروسته پاچا شو پلار یې پاپک او نیکه یې ساسان نومېده، چې د پارس په پلازمېنه استخر Stakher کې د اناهیتا Anahita خدای ګوتي په معبد کې مذهبي مشر و د اردشېر پاچايي په ساساني ياده شوه، لکه د پار تا پاچايانو چې د خپلې پاچايي مؤسس ارساس لقب غوره کړی وو، اردشېر لا جنرال و چې د پارت پاچا ار ته بانوس لښکرې یې په دریېم ځل جنګ کې په سوسیانه کې ماتې کړې او په ۲۲۶ مخزبردي کې یې د پاچايي اعلام وکړ، خو دی زر له دغسې یوه پیاوړي ائتلاف سره مخ شو چې له ارمني، پارتي، کوشاني او هم له رومي لښکرو نه جوړ و، خو دغه ائتلاف له دوه کاله جنګ کولو نه وروسته له منځه لاړ په داسې حال کې چې د ارمنستان خسرو نومي پاچا چې په اصل کې د ارساس له کورنۍ څخه و، مقاومت ته لس کاله نور هم دوام ورکړ په پای کې دی هم مات شو له هغه وروسته اردشېر ددغسې امپراتورۍ خاوند شو، چې له فرات نه تر مرو، هرات او سيستان پورې غزېدلې وه اردشېر له څلوېښت کاله پاچايي کولو نه وروسته له هغه مړ شو، چې له پارس نه یې د پار تا د لاس په لندولو، د باختر په لاندې کولو او د نورو دښمنانو په ځپلو سره د ساساني امپراتورۍ په نامه د هخامنشي

امپراتوري ژوندی کړه ځای ناستی زوی یې پاچا شاهپور چې د رومیانو او کوشانیانو ترمینځ ګیر و، په پرله پسې ډول په ارمني مسئله کې ښکېل او تل د کوچي قومونو تر فشار لاندې واقع و چې غوښتل یې د قفقاز له کوتلونو څخه واوړي او دده امپراتوري دغومره پیاوړې نه وه، چې له ټولو سره مقابله وکړي ددغې مقابلې پرځای یې په کوشاني امپراتورۍ ودانګل، چې د ورېښمو او نورو څیزونو د ترانزیتي سوداګرۍ له امله ښه شتمنه وه. د نقش رستم د معبد په دېوال باندې د شاهپور له قول نه لیکل شوي، چې بریالی پوځ یې پېښور چې د کوشانیانو د ژمي پلازمېنه وه، ونیوله. د اباسین ناوه یې ترلاسه کړه او د شمال خوا ته په وراندې تګ کې له هندوکش نه واوښت او باختر یې لاندې کړ هلته دا هم ویل شوي، چې شاهپور له آمو نه هم تېر شو او سمرقند او تاشکند یې هم ونیول بیا د لویدیځ په لور تر سورېې پورې لاړ او انتیاک یې هم ونیو، چې د سورېې مرکز و خو په ۲۷۲ زېږدي کې د هغه له مړینې نه وروسته په امپراتورۍ کې یې ناارامي پیدا شوه دوه زامن یې یو په بل پسې د لنډ وخت لپاره واکمن شول، په همدغه مهال کې رومیان په لویدیځ او کوشانیان په ختیځ کې د ساسانیانو په تاوان دمخه ولاړل، خو دوهم شاهپور چې په واک شو، د دواړو د تېري مخه ونیوله، خو له ختیځ روم سره مقابله ښه

اوړده وه او پــه مړينــې ســره يــې د امپراتــورۍ فيــوډالي ارستوکراتان لـه زردشتي روحانيـانو سره يـو مـوټي شول او دغـه امتيـاز يـې ترلاسـه کړ ، چې دوی بـه لـه هغـه وروسـته د واکمنـې کـورنۍ غـړي د پاچـايي لپـاره غـوره کـوي پـر هغـه برسېره د پينځمـې پېړۍ پـه لـومړۍ څلورمې کـې د يفتلـي دولـت پـه نامـه يـو قـوي دولـت د يوچيـانو يـا کوشـانيانو ځـای ونيو او هغه ساسانيانو ته يو لوی ګواښ شو

يفتليـان سـوچه پوونـده قـوم و ، خـو د هويـت پـه اړه يـې اخـتلاف دی ځينـې يـې سـپين هونـان ګڼـي ، خـو مـک ګـورن دغـه نظـر د اعتبـار وړ بـولي چـې وايـي يفتليـان پـه خـاص ډول د ترفـان لـه تخـاري ويونکيـو خلکـو څخـه يـانې اريـايي نـژاد دي دغـه نظـر ددغـه واقعيـت انعکـاس دی ، چـې د يوچيـانو او د ترفـان د خلکـو ژبـه هندواروپـايي وه پـه هـر حـال پـه ۴۰۲ زېـږدي کـې چـې مغـولي اوارانـو (Avars) د خاګـان يـا خاقـان پـه سـروالۍ يـوه امپراتـوري جـوړه کـړه ، يفتليـانو کاشـغر تـه مخـه وکـړه او د کـارا شـهر يـا کارابـښار (Kara Shar) ، کوچـا يـا کوڅـه (Kucha) ، کاشـغر او خـوتن (Khutan) ښـاري دولتونــه يــې لانــدې کــړل او څــه وخــت وروسـته يـې لـه کاشـغر نـه سـغديانه لانـدې کـړه ، خـو نـه پـه کاشـغر او نـه پـه سـغديانه کـې مېشـته شـول او د بـاختر پـه لـور يـې مخــه وکــړه او د يوچيــانو وروســتی پاچــا کيــدارا (Kidara) يـې پـرار تـه اړ کـړ او هغـه اول پـه کابـل او بيـا پـه

شمالي هند کې د کیداري سلطنت جوړ کړ. خو د هغه په پرار سره زیاتره یوچیان په باختر کې پاتې شول یفتلیانو په باختر کې واکمني پیل کړه او د بادهاغس Badhaghis یا د باد سیمه یې مرکز وګرزوه دا وخت شاید د زیږدي ۴۲۵ کال و دوی وروسته له هندوکش نه هم واوښتل، کابل او کندهار یې لاندې کړل او یوه لویه امپراتوري یې جوړه کړه

یفتلي دولت دغومره پیاوړی شو، چې یو ځل یې د ساساني امپراتوري پاچا پیروز په جنګ کې مات او د ښځه اړ کړ، چې ورته باج ومني، خو هغه له هغو سره په بل جنګ کې مات او ووژل شو د ساساني بل پاچا خسرو ۵۳۱ ۵۷۹ د ترکانو په مرسته چې د مغولو او اریایي خلکو مخلوط وو، یفتلیان مات کړل او د امو سین یې د ختیځ امپراتورۍ پوله وګرزوله پاچا خسرو په لویدیځ کې د بیزانس له امپراتورۍ نه هم ډېرې سیمې ترلاسه کړې، خو په پای کې د بیزانس یا ختیځ روم امپراتور هیراکلیس دغه سیمې د وړې اسیا او ارمنستان په ګډون ترینه بېرته ونیولې او بیا یې د خضرانو په مرسته د دجلې ناوه هم لاندې کړه او ستیسفن Ctesiphan ښار یې محاصره کړ، خسرو هم ژوند له لاسه ورکړ په دغو جنګونو سره دواړه امپراتوري ګانې ناتوانې شوې، په داسې حال کې چې په ساساني امپراتورۍ کې دننه واړه

دولتونه هسک شول ، لکه هسې چې په کوشاني امپراتورۍ کې هسک شوي وو دغې وضع د ساساني وروستي پاچا په واکمنۍ کې د خليفه عمر په وخت کې عربي پوځونو ته موقع ورکړه ، چې اول د بين النهرين په قاديسه کې او بيا د همدان په جنوب په نهاوند کې دغه پوځونه مات کړي دريېم يزدګرد هم لکه د هخامنشيانو وروستی پاچا درېيم داريوش په شان ختيځ ته په شا شو ، چې په پای کې په مرو کې د خسرو نومي ژرنده ګري په لاس ووژل شو[۱۰۳] او د هغه په مرګ سره د ساساني ۴۲۵ کلنه امپراتوري هم ختمه شوه

له هغه وروسته په سيمه کې د اسلام په نامه دغسې ژوند طرز رواج شو ، چې له پخوانيو ژوند طرزونو نه يې ګرد سره توپير لاره

## پوونده او مېشت ولسونو ته يو عمومي نظر :

اوس ددې وخت دی ، چې له دغې لنډې تاريخي سروې نه وروسته ددغو پوونده او مېشتو ولسونو د کلتور او دولتي نظام په اړوند عمومي تبصرې وشي او بيا په هغو کې د پښتون او پښتنو څرک ولټول شي

د لرغوني مهال دغه لنډه تاريخي سروې په عمومي ډول په مېشتو ولسونو باندې د پوونده ولسونو د يرغل او واکمنۍ لنډ بيان دی دغه حرکت وروسته له هغه پياوړی

ACKU

شو، چې په مخزېږدي دربیمې پېړی کې د چین لوی دېوال بشپړ شو او د هسیونګ نو لوی مغولي التایي قوم د کاشغر په مېشتو اریایي ولسونو باندې فشار راوړ او وروستیو بیا د لویدیځ خوا ته مخه وکړه. دغه لوی حرکت څو پېړی دوام وکړ، چې په هغه سره د کاشغر او منځنۍ اسیا اریایي قومونه یو په بل پسې په پای کې ان تر شمالي هند پورې ورسېدل سوچه پوونده او ماهر سوار کار هسیونګ نو هم پرځای پاتې نه شول او په دوهمې او دربیمې پېړی کې تر تور سمندرګي پورې ورسېدل دوی دلته د هونانو (Huns) په نامه یاد شول او د هغه ځای اریایي ولسونه ګاتان (Goths) او ونډالان (Vandals) یې اړ کړل، چې د لویدیځ په لور کډه وکړي په خپله هونان هم د زېږدي څلورمې پېړی په شاوخوا کې د اروپا پولو ته ورسېدل په داسې حال کې چې د ګاتانو یوه څانګه د ګال (Gaul) په لور لاړه، بله څانګه یې د وزي ګات (Visigoth) په نامه ایتالیې ته ورښکته شوه او په ۴۱۰ کې یې د روم امپراتوري مرکز روم چور کړ واندلان د لویدیځ لور په حرکت کې هسپانیې ته ورسېدل، چې د روم امپراتورۍ یو ښېرازه ولایت و دوی بیا له مدیترانیې نه شمالي افریقا ته ورښکته شول او د هغه ځای د روم امپراتوري ټولې سیمې یې ونیولې دوی بیا له مدیترانې نه بېر ته واوښتل او په ۴۵۵ کې یې د روم ښار چور او

وران کړ ، خو هونانو ، ګاتانو او ونډالانو يو بل هم زغملی نه شو د هونانو وروستی واکمن اتيلا په ۴۵۱ کې د روم او وزي ګاتانو د ګډ پوځ له خوا مات شو ، هونانو بيا په روم ودانګل خو هلته يې هم ماتې وخوړه او ورو ورو د تاريخ له ډګر نه ووتل او په ځايي خلکو کې حل شول ، لکه ډېره موده وروسته چې وانډالان او وزي ګوټان په هسپانيې او فرانسې کې ورک شول

د جنګونو او چور او لوټ په دغې دورې کې يو څوک يوازې د خپل کور له شاوخوا نه خبر و ، يوازې د خپلو ګاونډيو په اړه يې معلومات لرل ، هغه هم زياتره ناسم ژوند خورا ګران شو ، زياتره خلکو د خپلو کورونو شاوخوا ځمکې په لاس کرلې او حاصل يې هم زياتره وخت د زورورو او ظالمو له خوا لوټېده لويديځه اروپا د يوې پېړۍ په بهير کې له ۴۵۰ نه تر ۵۵۰ پورې ډېره هيبتناکه شوه دغه دوره په تاريخي لحاظ د سپينې تختې په شان دی مور دغومره پوهېږو ، چې د لوټمارۍ او د مرګ دورې په پای کې اروپا ګرد سره بدله شوه د روم په نسکورېدلو سره لويديځه يا اروپايي رومي امپراتوري وشړېدله او د يوې لويې اقتصادي او اجتماعي مؤسسې پرځای په سلګونو وړې نامصؤنې ټولنې هسکې شوې په واقع کې اروپا بيا هېڅکله يو ملت نه شو چې له يوه مرکزي ښار نه اداره شي [۱۰۴] دا د هغې دورې پيل و ،

چې وروسته فیوډلزم ونوموه، که څه هم د هغې په هسکېدلو کې نور عوامل هم دخیل وو

خو په همدغې دورې کې په منځنۍ اسیا او شمالي هند کې فاتحو پوونده ولسونو په خپلو لاس لاندې سیمو کې دولتونه په پښو ودرول او امپراتوري ګانې جوړې کړې دا به له دې امله و، چې دغه ولسونه په اصل کې له یوه توکم یا نژاد څخه و پر هغه برسېره د مېشتو ولسونو سیمې زراعتي وې ښاري مدنیت هم پکې خپور و او ترانزیتي سوداګرې په تېره د وریښمو سوداګري له امله ودانې او شتمنې وې د همدغې ودانۍ له امله و، چې د یونان باختري دولت د زرو ښارونو دولت په نامه یادېده دغه شمېر به مبالغه وي، خو دا یقیني ده چې په باختر او سغدیانه کې کلي او ښارونه ودان وو او سکندر نور هم پرې اضافه کړل د ښارونو شته والي ممکنه کړه، چې ډول ډول صنعتونه او صنعت کاران هسک شي او د کلالي او نقره یي لوښو جوړولو صنعت پرمخ ولاړ شي، چې د شبرغان د طلا تپې طلایي ګاڼې یې غټه بېلګه ده، چې د یوې پرمختللې صنعتي دورې تمثیل کوي د مېشتو ولسونو دغه هر اړخیز شتمن توب و، چې پوونده قومونو یو وخت بل وخت پرې ودانګل، که څه هم دوی اریایي او په زیاته اندازه د یوه قوم خلک وو

په دغو سیمو کې زردښتي او بودایي دینونه هم خپاره

وو ، لکه چې هندويزم په هند کې خپور و دوی ټولو خپل معتقدان اخلاقي او پرنسيپي ژوند او ښو کړو او حتی کرنې ته هڅول ، خو هغه هغومره چې په خواصو کې خپاره وو ، په عوامو کې نه وو د هغو تر څنګه د محلي خدايګوټو لمانځنه هم کېدله مهمه دا ده ، چې خلک په عقيده کې د زغم خاوندان وو پارتياني او کوشاني واکمنو چې هر يوه يې په پراخو هېوادونو باندې څو پېړۍ واکمني کړې ده ، نه مذهبي تعصب ښوولی او نه يې په لاندې شويو ټولنو کې مذهبي کول هڅولي دي زردشتي او بودايي دينونه په هڅونې سره منل شوي او خپاره شوي ، نه په زور او جبر سره په اصل کې پوونده ولسونه له دين سره علاقمن نه وو ، خو ساساني واکمنان چې په عمومي ډول د مېشته ولس يا ولسونو واکمنان وو ، زردښتي دين يې رسمي دين ګرزولی او پرې ټينګ ولاړ وو او د دوی په وخت کې په پنځمې پېړۍ کې چې قحطي خپره وه ، يهودان د پخوا په شان ځپل کېدل ، خو عيسويان چې په دوو مخالفو ډلو وېشل شوي وو او له روم نه يې هم فاصله نيولې وه ، په خپل حال پرېښودل شوي وو نستوريان (Nestorians) معتقد وو ، چې د حضرت عيسی طبيعت هم خدايي او هم انساني دی ، په داسې حال کې چې مانوفزايتان (Monophysities) معتقد وو ، چې دغه دواړه طبيعتونه د هغه په انساني طبيعت کې يوځای شوي دي

دغه فلسفي بحث چې عيسويان يې هر چېرې بې اتفاق کړي وو، په ساساني امپراتورۍ کې يې هم بې اتفاق او کمزوري کړي وو په همدغې دورې کې و، چې د ماني (Mani) د ښوونو پر بنسټ د مزدک حرکت هسک شو، چې پلويان يې هڅول کېدل له کرکې او جنګ نه ډډه وکړي، شتمني سره ووېشي، ښځې سره په ګډه ولري او د برابري ژوند وکړي دغه کمونستي ډوله حرکت اول د کيقباد پاچا تر سيوري لاندې پرمختګ وکړ، خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې هغه هم ترېنه واوښت او وځپل شو[۱۰۵].

د يادولو وړ ده، چې په زردښتي او بودايي ولسونو کې د دين په نامه کړاوونه او وژنې نه دي ليدل شوي د ځينو فاتحو پوونده او مېشتو ولسونو اجتماعي دودونه هم سره ورته وو په اوستايي دوره کې د کورنۍ غړو يانې خوېندو او ورونړو او نيايانو او خورزو ترمېنځ واده دود و د امو په پاسنۍ برخه کې د ناټاکه (Nautaka) واکمن سي سي ميترس (Sisi Mithres) لا له خپلې مور نه دوه زامن لرل له بلې خوا په يفتليانو کې په يوه وخت کې د ښځې لپاره د څو مېړونو لرلو رواج عام و، چې هغه په معمولي ډول سره ورونړه وو دغه رواج د منځنۍ اسيا په نورو هندو اريايي ټولنو کې نه دی ليدل شوی اوس هم د هندوستان د همالې په ملنګ نومې سيمې کې د ښځې لپاره په يوه

وخت کې د څو مېړونو کولو رواج ژوندی دی، خو هغه د ورکېدلو په حال کې دی [۱۰۶]

فاتحو پووندو ولسونو له لومړۍ ورانونکې مرحلې نه وروسته د خپلو لاندې شويو مېشته ولسونو سياسي طرز يا پوره يا په اوښتې بڼه خپل کړ. د هند تاريخپوهې روميلا تهپر په نظر فکر نه کېده، چې د پهلواها پارتيانو او ساکا مالدار به لوی سلطنتونه جوړ کړي، خو له موجودو دولتونو سره د دوی په تعامل سره دغسې يوې طرح تکامل وکړ، چې پووندو قومونو مېشتې ټولنې لاندې کړې او دغه عمل په پای کې د سلطنتونو د هسکېدلو لامل شي. په عمومي ډول فاتحو مالدارو له مېشتو ولسونو نه د هغوی د ساتنې په برابر کې باج ترلاسه کاوه. د باج حصول د مالدارو د څانګو مشران پياوړي کړل او دوی بيا ارستوکراسي جوړه کړه. مالداران هم بزګران کېدلی شول، خو دوی زياتره غوره ګڼله چې په بزګرو باندې حکومت وکړي [۱۰۷]

د پارتيانو د امپراتورۍ دوهم واکمن ميتريداس د هخامنشي د ساترپ (Satrap) ادار طرز غوره نه کړ. په عوض يې هغه طرز غوره کړ، چې تر هخامنشيانو دمخه په ختيځ کې معمول و. ددغه پلان له مخې هر ملت پرېښول کېده، چې خپل وطني پاچا، خپل قانونونه او خپل عرف او عادت وساتي. له دغو پاچايانو نه دغومره غوښتل کېده، چې د واکمن ملت سروال ته د لوړ واکمن

یا فیوډالي مشر په شان اطاعت ولري په دې ډول له میتریداس نه وروسته د پارتیانو په ټولو سکو کې د پاچایانو پاچا لقب عام و. هر پاچا مجبور و د ضرورت په وخت کې د سرتېرو یو واحد تهیه او هر کال باج تادیه کړي. نور دوی خپلواک وو. پاچا دایمي پوځ نه لاره، واکمني یې هم مطلقه نه، بلکې محدوده وه. ترڅنګه یې دوه شوراګانې وې، چې یوه یې د واکمنې کورنۍ له غړو او بله یې له قومي او روحاني مشرانو نه جوړه وه، خو پاچا به د پارتیا د مؤسس ارساسیس له کورنۍ نه غوره کېده[۱۰۸].

په واقع کې هم په هخامنشي او هم د پوونده ولسونو په امپراتوریو کې محلي واکمنانو د باج په برابر کې داخلي خپلواکي ساتله. په نتیجه کې د امپراتورۍ لوړ واکمن او محلي واکمنو ترمېنځ د ټکر امکان لږ و، خو د واک په سر د واکمنو کورنیو غړو ترمېنځ جګړې وې. بیا هم هرې امپراتورۍ اوږد عمر کړی. یوازې د یونان- باختري پاچایي په باختر کې لنډ عمر کړی، خو هغه هم له یوې پېړۍ نه اوږد و.

## پښتون په لرغونې زمانه کې:

اوس ددې وخت دی، چې په دغې تاریخي سروې کې پښتانه ولټول شي. د پښتنو څرک په دغو برخو کې

څرګنـد دي پـه ويـدي دوره کـې ، د هېـرودوت پـه پکتويـک کې ، پـه پـامېرونو کې ، پـه اوسـتايي دورو کې او پـه خـاص ډول د سـاکا پـه لـوی ټبـر کې لومړی بايـد پـه نظر کې ونيولـه شي ، چې دغـه سـروې لـه يـوه نـامعلوم وخـت نـه پيـل کېږي او د اسـلامي دورې تـر پيلـه پـورې رسـېږي پـه دغې اوږدې مـودې کې ددغې سيمې يـا سـيمو اوسـېدونکي يـوازې اريـايي نـژاد خلـک وو د ساسـانيانو پـه وروسـتي وخت کې و ، چې ترکـان هـم پکې ننوتل چې هغوی د غبار پـه وينا د مغولو او اريايانو مخلوط وو.

لکـه دمخـه چې بيـان شـول ، پښـتانه د هېـرودوت د تـاريخ لـه مخې پـه مخزېږدي پينځمې پېړۍ کې د اوسني ننګرهـار او پېښـور تـرمېنځ سـيمې کې ابـاد وو. افغـان تـاريخپوه احمـد علـي کهـزاد پښـتانه تـر هغـه دمخـه پـه ويـدي دوره کې د ويـدي مـذهبي سـندرو لـه مخې پـه بخـدي او نـورو ځـايونو کې هـم ښـودلي دي. هېـرودوت هـم ويلـي ، چې د ننګرهـار پکتيـان د بخـدي لـه خلکـو سره پـه ډېـرو ځيزونـو کې سـره ورتـه وو ، خـو ده دا نـه دي ويلـي چې د بخـدي دغـه اوسـېدونکي پښـتانه وو ، خـو د اريـايي ژبـو لـوی متخصـص جـارج مـارګن سـټرن او د هغـه پلويـان د هېـرودوت پکتيـان پښـتانه نـه ګڼـي دی دغـه حکـم د ژبپوهنې لـه مخې کوي او دغـه تـاريخي واقعيـت لـه پـام نـه غـورزوي ، چې دغـه سـيمه پـه ټولـو تـاريخي دورو کې د

پښتنو سیمه وه. غته بېلګه یې پوونده پښتانه دي، چې د کسي د غرو په شاوخوا درو او هوارو کې یې له نامعلوم وخت راهیسې په ژمي او اوړي کې پوونده توب کاوه. په همدغې پراخې سیمې کې پښتانه قومونه یو وخت بل وخت مېشته شوي دي. دغه سیمه په لړ و ډېر تغییر سره د هېرودوت د پکتویک، پښتونخوا، ګندهارا او روه او په پای کې د افغانستان په نومونو یاده شوې ده. د سکندر په وخت کې پښتانه په کونړ، چترال، باجوړ او سوات کې د اسواکا، اسوه غانه په نامه یو دغسې لوی قوت و، چې له سکندر سره په ټینګه وجنګېدل. که سکندر هند ته د تګ په لار کې له خیبر نه تېر شوی وای، د هېرودوت پکتیانو په اړه به ډېر معلومات ترلاسه شوي وای، خو د هغه له قومندان هیفایسش (Hepahaestion) او قومندان پریډیکاس (Predicas) سره چې د یوه واړه پوځ په قومندانۍ له خیبر نه تېر شول، دغسې کسان ملګري نه وو چې د شاوخوا خلکو په اړه یې معلومات ترلاسه کړي وای، په داسې حال کې چې د سکندر د لارې ملګرو د کونړ، چترال، باجوړ او سوات د خلکو احوال لږ و ډېر ثبت کړی دی. د هغو غته برخه د سانسکرت د اسواکا یا اسوه غانه اسپه سي (نننی یوسفزي) دي. دوی دغسې خلک نه وو، چې په یوه ټاپو کې اوسېدل او له نورو سره یې اړیکي نه لرل. دوی د چترال یا د باشګل درې یا دواړو د

لاري د سغدياني له خلکو سره هم راشه درشه لرله [۱۰۹] د غبار په وينا د ګندهارا داديکا هم د چترال له لارې پامير ته وکوچېدل غبار هم د هېرودوت په شان داديکا په اصل کې پښتانه ګڼي دغه څه له دغه واقعيت نه هم ثرګنده ده، چې پاميري يا غلچه ژبې په تېره يزغلامي يا يزګولامي ژبه چې اوس مړه ده، له پښتو ژبې سره نږدې دي مارګن ستېرن هم په حقه وايي، چې ددغو ياني پاميري ژبو ويونکي يا دننه په يوې سيمې کې يا د يوه بل په ګاونډيتوب کې اوسېدل

په اصل کې د پامير سيمه د قومونو د تګ راتګ سيمه وه په دغې سيمې کې له آمو يا په دقيق ډول د پنجه له سين ګي څخه تېرېدل پخوا له دې چې د کوکچې سين ورسره يوځاى شي، په نسبي ډول اسان وي له جنوب نه چې د کوکچې سين او له شمال نه د مرغاب سين ورسره ګډ شي، تېرېدل ورنه ګران شي په تېره د قومونو لپاره د همدغه جغرافيوي موقعيت له امله و، چې سلوکوس نيکاتور په مخزېږدي ۳۰۰ کې هغه ته نږدې د آى خانم ښار ودان کړ ساکا، يوچيان او يفتليان په همدغه ځاى کې له شمال نه باختر ته ننوتل ګندهاريان هم له همدغه ځاى نه سغدياني ته تلل لکه چې دمخه ويل شوي ګندهاريان په کوم وخت کې اول له هندوکش او بيا له آمو نه واوښتل او سغدياني ته لاړل او

نورو يې د لويديځ په لور ارغنداو ته مخه وکړه او هلته مېشت شول بيلو چې د نورو په شان د هېرودوت دغه څلور ډلې خلک پکتيان ګڼي وايي چې په ارغند او هلمند کې مېشتو ګندهاريو په هلمند کې د ګندهار په نامه يو ښار ودان کړ، چې دغه نوم د کندهار په بڼه تراوسه هم ژوندی دی، خو دی د هغه وخت اوسېدونکي هندي نژاد ګڼي له هندي نژاد نه مطلب د ګندهارا اوسېدونکي دي ګندهارا چې د ويدي دورې کلمه ده په بودايي دوره کې له اباسين نه تر کابل پورې سيمې ته ويل کېده لکه چې دمخه ويل شوي ګندهاريان او داديکا د هېرودوت د تاريخ له مخې په دود دستور او کاليو کې باختريانو، سغديانو، پارتيانو او خوارزميانو ته ورته وو سکندر هم خپلو سرتېرو ته په يوې وينا کې ويلي وو، چې سغديان، دهای (Dahae)، مساګيتای، ساکا، هنديان او داسې هم باختريان له يوه نسل څخه دي[۱۱۰] په دې ډول له داديکا يا د پاميري ژبو له ويونکيو سره د پښتنو او پښتو نژدې والی تثبيت او يقيني دی

د باختر له نورو خلکو په تېره د ساکا له قوم سره د پښتنو تړاو لا ټينګ دی پښتانه په اصل کې شايد ساکا وي پخوا له دې چې په دغې موضوع بحث وشي په اسيا کې به د ساکا په تېر رڼا واچوله شي په سر کې به بيا وويل شي، چې ساکا او ستيان چې تر دې نژدې وختو

پورې یو ډېر ګډ کېده، خو هغه سره بېل ډېرونه وو ساکا اریایي او ستیان غیر اریایي وو، خو دواړه سوچه پووندہ قومونه وو ستیانو په سهیلي روسیې باندې دوه پېړۍ حکم وچلوه او بیا یې د لویدیځ په لور مخه وکړه، خو ساکا په ختیځ کې ان د التای تر غرو پورې په ورشوګانو او په منځنۍ اسیا کې پووندہ توب کاوه.

د منځنۍ آسیا د لومړیو امپراتوریو په نامه اثر لیکوال ویلیم مک ګورن وایي، چې په منځنۍ اسیا کې له اولې ورځې نه لږ تر لږه دوه بیلې او څرګندې ژبنۍ ډلې اوسېدلې، چې د مناسبو نومونو په نشته والي سره یوه یې د ستیان او بله یې د هونان په نامه یاده شوې ده ستیان هغه ډېر مناسب نوم دی، چې د منځنۍ اسیا ټولو هغو خلکو ته اختصاص شوی، چې پروفیسر بریسټیډ (Breasted) لوی سپین توکم بللی، چې هغوی د اریان (Aryan) یا هند د اروپایي په ژبه ګړېږي له هونانو نه مقصد هغه ډله خلک دي، چې وړاندې په ختیځ کې اوسېدل او په دې ډول یې د مغولو وینه جذبه کړه، چې د هغه له امله زیاتره وخت خو په څه غلطي سره د (لوی ژېړ توکم) په نامه یاد شوي دي لا مهمه دا ده، چې دوی په دغسې ژبې ګړېدل چې هغه اریایي خلکو ته پوره بېګانه وه. دغه ژبه په عمومي ډول د تورانې په نامه یاده شوې، خو ښه به دا وي چې هغه د یورال-التای (Ural-Altai) په

نامه یاده شي

پروفیسر مک ګورن وړاندې وایي، چې لا ډېر مهم هغه اثر و چې ستې کډوالو د ترکستان په سهیلي کډوالو کړی و د کلمې په ډېر پراخ مفهوم سره هغه ستیان یا د هغو تاریخي ستیانو نیکونه چې د تاریخ په سباوون کې د پارس (اریانه) په لوړه سطح او په شمال لویدیځ هند کې خپاره شول او په دې ډول یې په دغو دواړو سیمو کې دغسې خلک په میراث پرېښوول، چې زیاتره یې سپین توکم وو او په هندو اریایي ژبو غږېدل لکه چې دمخه یقیني شوې دغه ستیان په اصل کې ساکایانې اریایي وو مک ګورن دا هم وایي، چې په وروستیو وختونو کې د پارس (اریانه) او هندو اروپایي اوسېدونکیو خپل د کوچي توب لومړني عادتونه ترک کړل او د کروندګرو په ډول مېشته شول دغه حال دوی د خپلو لیرې تربورانو او اصلي ستیانو (ساکا) مرګکي دښمنان کړل، چې په ترکستان (منځنۍ اسیا) کې اوسېدل او د پوونده توب ژوند طرز او د یرغل او چور خویونه یې ساتلي وو دغو ستیانو(ساکاوو) په سهیل کې په خپلو لیرې تربورانو بیا بیا داتګل او چورول یې، چې هغوی د شتمنۍ په سبب ډېر نرم طبیعت شوي وو [۱۱۱]

له اریانه او شمالي هند ته د تاریخ سباوون مهاجرت نه د مک ګورن مقصد د ویدي دورې د قومونو لېږد و، خو

دی دغه قومونه یوازې ستیان بولي ، مورږ اوس پوهېږو چې دغه ستیان په حقیقت کې ساکا وو دی ددغه قوم ځانګې هم نه مشخصې کوي یانې نومونه یې نه اخلي دغه قومونه د ویدا په هغو مذهبي سندرو کې یاد شوي ، چې پروفیسر رالف ګرفت (Ralph Griffth) انګرېزي کړي او اوږدې معلوماتي تبصرې یې پرې اضافه کړي دي دغه قومونه دا دي پکتهاس (Pakthas) ، بهالانا (Bahalana) ، الینا (Alinas) ، شیوایان (Sivas) او وشانیان (Visananis)[۱۱۲] په دغو سندرو کې د ساکا قومونو نومونه په څرګند ډول نه دي ذکر شوي بخدي او اریانه هم پکې نه دي یاد شوي ، خو اریایان پکې په وار وار یاد شوي دي دا به له دې امله وي ، چې دا د هغو مذهبي سندرو ټولګه ده ، چې دغو اریایانو له کوبها (کابل) نه تر شمالي هند پورې د لېږد په اوږده مهال کې ویلي او د هغو ډېره برخه د خطرونو په برابر کې ډول ډول خدایګوټو ته دعاګانو ته ځانګړې شوې نه هغو ته چې په دغه وخت کې په منځنۍ اسیا او بخدي کې وو په اوستایي دوره کې دا هېرودوت و ، چې د هخامنشي امپراتورۍ د بیان په ترڅ کې یې د ساکا او نورو قومونو نومونه د پکتیس (Pactyes) په ګډون یاد کړي دي د هېرودوت دغه پکتیس په غالب احتمال چې د ویدي دورې پکتهاس (Pakthas) دی دغه پکتهاس د خپل قوم پاچا بنوول شوی ، چې قوم

يې په غالب احتمال بيا دده په نوم ياد شوی دی. ددغه قوم بل پاچا توريانا (Turyana) ياد شوی

ګرفت په خپله تبصره کې د پکتهاس پاچا توروايانا (Turvayana) هم ښوولی، چې ممکن هماغه توريانا وي[۱۱۳] په هر حال، د سکندر له راتګ نه وروسته و چې اول يوناني جغرافيه پوهانو او تاريخپوهانو او ورپسې د معاصرې لويديځې نړۍ پوهانو د منځنۍ اسيا او لرغوني افغانستان قومونه تر يوې اندازې مشخص کړي. بيا د چين د لوی دېوال له بشپړېدلو نه وروسته و، چې قومي لېږدونه، لکه چې دمخه يې ذکر شوی، په پراخه پيمانه پيل شول او ساکا وو، يوچيانو او يفتليانو يو په بل پسې سغديانه، بخدي، کابلستان او شمالي هند لاندې کړل او پوهانو د دوی په اړه څېړنې وکړې او په خپله دوی او ځانګې يې مشخصې کړې.

اريانه ته د سکندر تر راتګ نه دمخه هم ساکا د اريانه په ډېرو سيمو کې مېشته وو. فرای هم وايي، چې داسې ګڼل کېږي چې دوی [ساکا] تر ټولو ډېر پوونده قوم وي، چې د منځنۍ اسيا د اباديو شاوخوا اوسېږي[۱۱۴]. غټه بېلګه يې د نای سا (Nysa) اوسېدونکي دي، چې مؤلف آرين د کوفن (کابل) او اباسين (Indus) ترمېنځ ښار ښوولی دی. د رواياتو له مخې ددغه ښار بنسټ ډايونيسس (Dionysus) ايښی و[۱۱۵] ډايونيسس د يونان

د تبز (Thebes) خدایګوټی و نورو هغه اوسني جلال آباد ښار ته چېر ته نژدې او اوسېدونکی یې ساکا ښوولی دی د مؤلف کمنګز (Cummings) په روایت نیاسایان په تاریخي لحاظ هماغه نسل و لکه ساکیا (Sakya) یا ساکای (Sakae) چې په هغه وخت کې په بدخشان او ګاونډیو سیمو کې اباد وو او وروسته دوی د هند په جنګیالی طبقې کشتریا (Kshattriyas) کې جذب شول دی د نیاسایانو هېواد په دې ډول معرفي کوي: داسې ښکاري چې په لرغوني مهال کې د نیاسایانو سیمه په لویدیځ کې د جګدلک په کوتل، په شمال کې د کابل په سین، په ختیځ کې د خیبر په کوتل او په جنوب کې په سپین غره محاطه وه (۱۱۶). دغه سیمه لږ و ډېر د هېرودوت له پکتیک هېواد سره سر خوري، چې د پکتیس یانې پښتنو هېواد و.

د سکندر تر راتګ نه دمخه د ساکابله لویه سیمه باختر او د هغه شاوخوا علاقې وې. د روفوس په وینا ستیان یانې ساکا په بخدي کې هم اباد و. مؤلف آرین (Arrian) په بخدي کې د دهای (Dahae) یادونه په وار وار کوي، چې د ساکا د لوی ټبر یوه غټه څانګه وه. د مک ګورن په وینا ساکا آمورګیویي (Saka Amurgioi) ان په لرغوني مهال کې په پامیرونو کې اوسېدل دی د نورو پوهانو له قول نه دا هم وایي، چې داهیا (Dahia)

یوازې له بخدي سره پېژندل کېږي یانې چې تاهیا Tahia یا دهای Dahae د بخدي اوسېدونکي دي [۱۱۷] کمنګز هم په بدخشان یا د پامیرونو په سیمه کې د ساکا یادونه کوي په دغه لړ کې روسي لرغون پېژندونکي لیتونیسکي وایي، چې ساکا به د پامیر سیمو ته په مخزېږدي اوومه شپږمه پېړۍ کې کوچېدل او له هغه ځایه به یې د هند شمال برېدونو ته نفوذ کاوه [۱۱۸].

ساکا د سکندر تر راتګ نه دمخه هم په سیستان کې اباد وو مک ګورن د تهاماس Thomas له قول نه وایي، چې د ساکا یوه ډله له پخوا زماني له مخزېږدي اوومې یا حتی له هغې نه دمخه په درنګیانه کې مېشته وو او دغه ساکا په ټولې هخامنشي او هیلنستیکي Hellenistic دورې کې هلته پاتې وو، که څه هم سیمه یې هغه وخت په ساکستانه نه یادېده [۱۱۹] دغه سیمه وروسته له هغه اول په ساکستانه او بیا په سیستان یاده شوه، چې په مخزیږدي دویمې پېړۍ کې د ساکا څو څانګې د یوچیانو په فشار له سغدیانې نه بشکته شوې، باختر یې ونیوه او بیا هم د هغو په فشار له بخدي نه سیستان ته واوښتل او هلته اباد شول ددغې پېښې بیان دمخه شوی دی ساکا به په سیستان کې په دغه وخت کې په زیات شمېر او په قوت کې و، چې د ګوندو فارس په مشرۍ یې یوه

امپراتوري جوړه کړه

داسې هم د سکندر ترراتګ نه وروسته و، چې د دهای ساکا د پرنای یا پارني څانګې د ارساک یا ارشاک په مشرۍ په پارتیه کې په مخزیږدي ۲۵۴ کې واکمني پیل کړه، چې هغه څه کم پینځه پېړۍ وپاییده چې په پای کې په زیږدي ۲۲۹ کې د ساساني پاچا اردشیر په لاس نسکوره شوه، لکه چې دمخه یې بیان شوی دی دغه ساکا له مادانو او پارسیانو نه ګرد سره بېل او پوونده ماهر اس سور قوم و، چې د وروستیو ورسره نه لګېده او هغوی ته او ټولو هغو څېرونو ته چې هغوی پرې ټینګ ولاړ وو، په نفرت سره کتل [120]

عجیبه ده، چې افغان تاریخپوهانو د ساکا قومونه په مفصل ډول نه دي یاد کړي که څه هم دوی د افغانستان لرغوني تاریخ په اساسي ډول اغېزمن کړی دی دا به له دې امله وي، چې دغه اثار چې دلته ترېنه استفاده شوې ده، د دوی په وخت کې نه وو او هغه چې وو، دوی ته معلوم نه وو پوازې کهزاد ددغو سرچینو له ځینو نه استفاده کړې ده، خو هغه هم د ساکا قوم رول په تاریخ کې هغسې چې لازمه ده، نه دی بیان کړی

ددغې لنډې شرحې په نظر کې نیولو سره د مک ګورن رومبنی وینا سمه ښکاري، چې وایي که موږ د ستیانو ساکا نوم په پراخ مفهوم سره واخلو، وبه وایو چې د

پارس (اريانه) او شمالي هند ټول اوسېدونکي د پخوانيو ستيانو زوزات دي او تراوسه (۱۹۳۹) هم په دغسې ژبو خبرې کوي، چې د ساکا له ژبې سره تړاو لري [۱۲۱] له پور تنۍ شرح نه دا هم ښکاري چې ساکا څلور زره کاله دمخه د اريايانو په لومړي لېږد کې په سغديانه، بکټريانه (بخدي)، پاميرونو، سيستان، ناى سا، پکتويک، کونړ، سوات کې اباد شوي وو دوه زره او دوه سوه کاله دمخه په بل لوی لېږد کې ساکا د يوچيانو په فشار سره په بخدي ټوټل، يونان-باختري واکمني يې نسکوره کړه او بيا يې په سيستان، پارتيه او شمالي هند باندې واکمني وچلوله په ويدي دوره کې لکه چې دمخه ويل شوي دي، پکتهاس، بهالانا، شيوايان، الينايان او وسايانيان هم په اريانه کې اباد وو وروسته جغرافيه پوه سترابو د اريانه ولسونه له باختريانو او پارسيانو نه برسېره پاراپاميزاديان (Parapamisadae)، آري، درنګيان، اراکوزي او ګد روسي هم ياد کړل پليني (Plini) بيا د اريانه اوسېدونکي د آري، ډوري سي (Dorisci)، درنګاى (Drangae)، ايورګيتاى (Evergetae)، زرنګاى (Zarangae)، ګدروسي (Gedrosi)، ميتوري سي (Methorici)، اګوتوري (Auguttori)، اوربي (Urbi)، د داري تيس (Daritis) اوسېدونکو، پاسيريس (Pasires) او ايچدديوفګي (Ich thyo phagi) په نومونو ښوولي [۱۲۲]

دوی ټول په غالب احتمال د ساکا لوی ټبر ته منسوب وو، ځکه چې دوی په هغه وخت کې په یوې ژبې ګړېدل، یا یې ژبې سره ډېرې نږدې وې او په عین حال کې یا په یوې سیمې کې یا د یوه بل په ګاونډیتوب کې اوسېدل پروفیسر مګ ګورن په څرګند ډول دغسې وایي سترابو او پروفیسر ولسن په استدلال سره دغه نظر ښکاره کوي، په دې ډول چې د لومړني په وینا دوی زیاتره د یوې ژبې ویونکي دي د وروستیو په وینا بې له شک نه ددغو خلکو ژبې تر ډېره حده پورې له یوه اصل (akin) څخه وې، ځکه چې دوی په واقع کې د یوه هېواد اوسېدونکي وو (۱۲۳) خو دغه ژبې او داسې هم ویونکي یې مشخص شوي نه دي او هغه په عمومي ډول سیمو ته منسوبې دي، لکه سغدي، باختري، آري، پاراپامیزادي، اراکوزي او داسې نور...

نو دغه ولسونه د تاریخ او ژبې له نظر نه ډېر سره نږدې وو د تاریخ له نظره د دوی د نږدې والي غټه بېلګه له یرغلګر سکندر سره د ټولو مخالفت وو. دغه واقعیت د ساکا مشرانو په خپله هغه ته ښکاره کړی و، چې بیان یې دمخه شوی دی. دوی په مخامخ کتنه کې ور ته ویلي وو، چې له هغه وخت نه چې ده (سکندر) په باختر ودانګل، دوی د باختریانو په ملاتړ جګ شول. په اصل کې د همدغه ملاتړ په ډاډ و، چې د بخدي والي، بېسوس او بیا

د هغــه ځــای ناســتي ســپيتامنز لــه ســکندر ســره ســخت وجنګېـدل بېسـوس پـه نسب کـې پارسـي ښوول شـوی او سپيتامنز د کهزاد پـه وينـا پښـتون و او هغـه د سـاکا د ولـس پـه ملاتـړ تـر بېسوس نـه ډېر لـه سـکندر سـره سخته جګـړه وکــړه دا دغــومره ټينګــه جګــړه وه، چــې تــاريخپوه پيتر ګـرين هغـه تـه د ملـي حرکـت نـوم ورکـړی دده د وطنپــالنې او خپلــواکۍ احســاس دغــومره پيــاوړی و، چــې ويـل يـې مـرګ ده تـه تـر تسـليمېدو نـه لـږ دردنـاک دی دغـه ټول ولسونه دده پـه سروالۍ لـه سـکندر سـره يـو وخـت بـل وخـت د دوه کلونـو پـه بهيـر کـې وجنګېـدل، لکـه چـې وروسته د کونړ اسپه سيانو ورسره خونړۍ مقابله وکړه

دغـه ولسونه پـه هغـه وخـت کـې ټول يـا زيـاتره، لکـه چې دمخـه ويـل شـوي دي، پـه يـوې ژبـې ګړېـدل يـا يـې ژبـې سره نـزدې او لـه يـوه اصـل څخـه وې، خـو د هغـو پـه اړه پـه دقيـق ډول ګړېـدل ناشـونکي دي، ځکـه چـې هغـه ډېـر پخـوا لـه مينځـه تللي او يـو څـو خـورې ورې کلمـې يـې راپـاتې دي ددغو ژبو د نـزدې والي غټـه بېلګـه هغـه نومونـه وو، چـې پکـې مشـترک و او د اس نـوم يـې يـو څرګنـد مثـال دی، چـې پـه اوسـتايي، سـاکي او پښـتو ژبـو کـې پـه کثـرت سـره راغلـی دی پـه اوسـتا کـې اسـپه د اس پـه مانـا دی او پـه اوسـتايي دوره کـې د بـاختر واکمنـه کـورنۍ د اسـپه کـورنۍ پـه نامـه يادېـده، چـې د کاويـاني کـورنۍ نـه وروسـته واکمنـه شـوې

ده ددغې کورنۍ د نږدې ټولو واکمنو د نومونو وروستاړی اسپه ده، لکه اروت اسپه، مهر اسپه، اوست اسپه، ویشتاسپه یا ګرشاسپه د نورو مهمو کسانو په نومونو کې هم دغه کلمه راغلې لکه جم اسپه، پوروشاسپه، پتیراسپه، هچاتاسپه او داسې نور په ساکي ژبه کې د اسپه کلمه حتی د ساکا د قوم د ځینو څانګو په نومونو کې هم راغلې لکه اسپه سای ټای (Aspasiatae)، اسپه سای کای (Aspassiakae) او اسپه سای ټرای (Aspasiatrae)[۱۲۵]

په پښتو نومونو کې هم د اس او اسپه کلمې ډېرې راغلې لکه اسپه سي، چې د سکندر په وخت کې په کونړ، باجوړ او چترال کې اباد وو او په اسلامي دوره کې د یوسفزي په نامه یاد شول د اسواکا او اسوه غانه نومونه په سانسکرت کې د پښتنو لپاره په کارېدل د شنسب ولس اصلي نوم شین اس و لکه کونړ چې د سکندر په وخت د خوسپس (Khoaspes) یا ښو اسونو، یا د ښو اسونو په ملک یادېده د باختر د منځی نوم زر اسپه و، چې مانا یې شاید زر اسونه وي د اس نوم په داسې حال کې چې په اریایي کلمو کې عام و، د اسپه کلمه یوازې د اوستا او ساکي ژبو مال او په پښتو کې د ښځینه اس په مانا و په داسې حال کې چې په نورو هندو اروپایي ژبو کې د ښځینه اس لپاره اسوه (asva)، ایکوا (equa) او اس ژوا

ACKU

AS/WA نومونــه پــه کارېــدل [۱۲۶] پــه دې ډول د اسـپه نــوم يــوازې پــه اوســتا ، ســاکې او پښـتو کــې ويــل کېــده ، نــه پــه نــورو هنــدو اروپــايي ژبــو کــې دغــه واقعيــت د پښــتو ، اوســتا او ســاکې ژبــو نــږدې خپلــوي پــه ګوتــه کــوي ، چــې د هغــه لــه مخــې ويــل کېــدلی شــي چــې د اســپه کــورنۍ پــه اصــل کــې شــايد پښـتنه کــورنۍ وه ، يــا پښــتو لــړ. تــر لــړه پــه اوســتايي دوره کې په باختر کې ويل کېده

پــه دې اړه مؤلــف دوســت محمــد دوســت او پوهانــد مجــاور احمــد زيــار پــه خپلــو اثرونو کــې پــه نامــه د افغانســتان ژبــې ، او پښــتو او پښــتانه د ژبپــوهنې پــه رڼــا کــې تفصــيل او مثالونــه ورکــوي اروابښــاد صــديق الله رښــتين هــم پــه خپــل اثــر لرغونې پښتو کــې د پښــتو او اوسـتا يــو شمېر هغــه نومونــه پــه پر تلــه ييــز ډول راوړي ، چــې ســره ورتــه او نــږدې دي ، لکــه د پښــتو پــې د اوســتا پــايو ، زوم او زاماتــه ، ســپږه او سپشــو ســپين او ســپينه ، پــلار او پيتــر ، مازغــه او مازګــه ، پيــرى او پيريکــا ، غــوږ او ګــوش ، واوره او وفــره او داســې نور [۱۲۷]

خو پښـتانه لـه سـاکا سـره تـر هـر بـل قـوم نـه دغـومره ډېـر نـږدې و ، چـې ويـل کېـدلی شـي دوی شـايد پـه اصـل يـو ټبـر وو ، يـا پښـتانه د سـاکا کومـه څانګـه وه پروفيسـر فـرای د سيسـتان سـاکا د پښـتنو لـوړ نيکونـه ګڼـي او وايـي ، چـې د اسـلامي پراختيـا پـه برابـر کـې د زنبيلانـو د ټينـګ مقاومـت

يو دليل په يقين سره هغه جنګيالي قومي خلک، د افغانانو يا پټانانو نيکونه وو، چې د يرغلګرو سره جنګ لپاره يې مېړونه ورکول [۱۲۸] د اريايي ژبو متخصص مارګن ستېرن په وينا پښتو په اصل کې شايد د ساکا يوه لهجه (Dialect) وي، چې له شمال نه وارده شوې، خو ممکنه نه ده چې اړيکي يې له دېنه ډېر نږدې تعريف شي [۱۲۹] خو ده وروسته دغه کار وکړ پښتو بې له دې چې له ساکي ژبې سره وتړله شي، بل کېدون نه لري [۱۳۰] مارګن ستېرن کاشکې د خپل حکم لپاره شواهد هم وړاندې کړي وای زه ددغې ليکنې په قوت بيا وايم، چې پښتانه او ساکا په اصل کې شايد يو ټبر وي، يا پښتانه د ساکا د لوی ټبر يوه څانګه وي که ساکي ژبه پاتې وای، په دې اړه به څرګند حکم شوی وای خو د نالوستو او پووندو ساکاوو ژبه نه ده راپاتې راپاتې کلمې يې هم د ګوتو په شمار دي دوه يې هغه دي، چې اوس هم په پښتو کې هغسې ويلی کېږي، چې دوه نيم زره کاله دمخه په ساکاوو کې ويل کېدلې زرينه او تنی (Tanais) زرينه (Zarina) د ساکا د کومې څانګې واکمنه يا ملکه وه او هغه په خپلو خلکو دغومره ګرانه وه، چې له مړينې نه وروسته يې د هغې د سرو زرو مجسمه ودروله [۱۳۱] مؤلف دوست محمد هم ملکه زرينه يادوي، خو هغه يې د ملکې توميريس (Tomyris) پرځای يادوي

د هېرودوت په وينا دا توميريس وه، نه زرينه چې په خپل پوځ سره يې، لکه چې دمخه يې بيان شوی، د هخامنشي امپراتورۍ مؤسس، سيروس پوځ ته ماتې ورکړه [۱۳۲] زرين هم د پښتو کلمه ده او هم د پاړسو، خو زرينه يوازې د پښتو کلمه ده تهی د ساکاوو په وخت کې د منځنۍ اسيا د اوسني سردريا نوم و او اوس هغه د افغانستان په پکتيا کې د يوه پښتون ټبر نوم دی، لکه امو چې د ساکا د هامه ورګه لنډ شوی شکل دی. داسې هم د لرغوني زماني د منځنۍ اسيا په ځينو سيمو، لکه خوارزم او مرو کې دغسې ښارګوټي لوڅ شوي، چې د کلا (Kala) کلمه يې د نامه يوه برخه يا وروستاړی جوړوي بېلګې يې دا دي: تيشيک-کلا (Teshik-Kala)، ټوپرک-کلا (Toprak-Kala) کوی، کرل ګان-کلا (Koy-Krylgan-Kala) و د ژنباس-کلا (dzhanbas-kala) او ګياور-کلا (gyavr-kaa) [۱۳۳]

کلا د پښتو يوه عامه کلمه ده، د Pasionai يا پاسيوناې ساکي ځانګه چې د ساکا له نورو ځانګو سره يې په بخدي کې د يونان-باختري واکمني نسکوره کړه، ممکن د پښتو پاسنی وي ژبپوه پوهاند زيار په خپل ياد شوي اثر کې د سکه، کسې، کاسي او کاس نومونه چې په افغانستان او پښتونخوا کې ويل کېږي، د ساکا د نامه بدل شوي شکلونه ګڼي

له دغو ژبنيو بېلګو نه برسېره د ساکا او پښتنو قومي جوړښت او خاصيتونه دغومره سره ورته وو، چې هغه لکه د يوه ځانګړي ټبر خلک وي ساکا د خو لويو ټبرونو يو کنفدرېشن يا لوی اتحاد و، چې تر اخري واحد ياني کورنۍ پورې يې بې شمېره ځانګې لرلې پښتانه هم د ساکا په شان د ډېرو ټبرونو کنفدرېشن دی او ځانګې يې دغومره ډېرې دي، چې شمېرل يې ناشونکی ښکاري پر دې برسېره د ساکا د هېڅ ټبر لوی مشر زواکمن او مطلق نه و، تر څنګه يې د ځانګو مشرانو هم رول لاره له سکندر سره چې د ساکا څو جرګو ليدل وکړل، هغه له څو مشرانو نه جوړې وې نه له يوه زور واک واکمن نه، لکه په هند کې د پاچا پورس په شان لکه چې دمخه وليدل شول د پارتيه پاچا د دوه جرګو په سلا او مشوره واکمني کوله، نه يوازې په خپله له احمد شاه دراني نه تر امير عبدالرحمن پورې د افغانستان سياسي نظام هم لږ و ډېر په همدغه بڼه و او د قومي پښتنو سياسي جوړښت اوس هم په همدغه شکل دی

بله دا چې هغسې چې د ساکاوو ژوند طرز په عمومي ډول د پوونده توب و، داسې هم د پښتنو ژوند تر اتلسمې پېړۍ پورې تر زياتې اندازې د کوچي توب و په نولسمه پېړۍ کې امير عبدالرحمن که څه هم د غوځ عمل خاوند پاچا و، ونه شو کولی هغه لږ و ډېر دوه مليون کال پوره

کوچیـــان ، چـې ټــول یــې پښـــتانه وو ، مېشـــته کولـو تــه وهڅـوي دوی نـه غوښـتل د کـوچي تـوب ژونـد طـرز تـرک کـړي ، سـره لـه دې چـې د مېشـتـه کېـدلو پـه حـال کـې امیـر د ېـر امتیازونـه ور تـه منلـي وو [۱۳۴] د ښـاغلي زلمـي هېوادمـل پـه وینـا تـره خېـل قـوم ، چـې زیـاتره یـې اوس هـم کـوچي تـوب کـوي پـه اصـل کـې سـاکا دي قـوم تـه د وفـا لرلـو احسـاس هـم پـه سـاکاوو کـې ټینـګ و او هـم پـه پښـتنو کـې ټینګ دی پـه دواړو کې لکه چې ویل شوي دي

فـرد ځـانګې تـه او ځانګـه فـرد تـه پـه وفـا لرلـو سـره دواړه ژونـدي پـاتې کېـدلی شـي کـه د کـومې ځـانګې غـړی ژوبـل یـا ووژل شـو ، هغـې ځـانګې د خپـل ځـان سـاتنې لپـاره لـه مجـرم یـا د هغـه لـه ځـانګې نـه بـدل اخیسـته کـه یـې کـوم غـړي د بلـې ځـانګې پـه برابـر کـې جـرم وکـړ ، قومیـان یـې پـري ټینـګ درېـدل او پـه دې ډول د وینـې د انتقـام دایمـي توب [۱۳۵]

پښـتنو دغـه خاصـیتونه لـرل او اوس یـې هـم لـري ، خـو نـه پـه هغـه پخـواني شـدت سـره د سـاکا خلکـو بـه هـم لـرل د دوی بـل خاصـیت طعنـه ورکـول ، تـور او بـرېښ کـول او لاپـې وهـل و هغـه وخـت چـې سکندر د تېـي یـا سر دریـا غـاړې تـه ورسـېد ، سـاکا سورو پـه بلـه غـاړه کـې دغسـې احساسونه پـه قـوت او نـنداره ییـز ډول وښـوول سـکندر ځـان مجبـور ولیـد د ربړونو پـه ګـاللو سره لـه سین نـه تېـر شـي ، خـو سـاکا هغـه وخـت خـواره شـوي وو پښـتانه هـم پـه طعنـه ورکولـو تـور او

بـریښ کولـو او لاپـو وهلـو کـې نـوم لـري بلـه دا چـې دواړه زړور او جنګیـالي قومونـه وو، غـټ مثـال یـې لـه سـکندر سـره د دوی مقابلـه وه سـکندر پـه منځنۍ اسیا کې لـه سـاکا او پـه کـونړ کـې لـه اسـپه سـي پښـتنو سـره لـه دغسـې ټینـګ مقاومـت سـره مـخ شـو، چـې لـه بـل قـوم سـره پـه دغسـې ټینـګ مقاومـت سـره مـخ شـوی نـه و همدغسې جنګونـو کـې وو چـې ځینـو پکـې غیـر عـادي زړه ور تیـا ښـووله او اتـلان کېـدل، لکـه ملکـه زرینـه او ملکـه تـومیریس پـه لرغـوني منځنۍ اسـیا کـې او امیـر کـروړ د لرغـوني افغانسـتان پـه غـور او رستم په سیستان کې[۱۳۶]

د پټـې خزانـې لیکـوال محمـد هوتـک پـه وینـا امیـر کـروړ د امیـر پـولاد سـوري زوی او پـه ختـه سـهاک و دی پـه ۱۳۹ هجـري قمـري کـال کـې د غـور پـه منـدېش کـې امیـر شـو پـه اوړي کـې پـه زمینـداور کـې پـه دغسـې مـانۍ کـې اوسـېده، چـې د هغـې مـانۍ پـه شـان وه، چـې د غـور پـه منـدېش کـې یـې لرلـه ده پـه جنګونـو سـره خپلـه واکمنـي پراخـه کـړه او کـه یـې پـه لانـدې شـعر بـاور وشـي، هـرات، جـرم، بامیـان او تخـار یـې هـم لانـدې کـړي وو نـامتو شـیخ کتـه دده دغـه شـعري ټوټـه، چـې لـه ویـاړ او لاپـو نـه ډکـه ده، نقـل کـړې چې په دغه بیت شروع کېږي[۱۳۷]

ز ه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نه سته
په هند و سند و پر تخار او پر کابل نه سته
بل په زابل نه سته

د ټولو منابعو له مخې رستم د سیستان یو ډېر نومیالی اتل تېر شوی دی مؤلف دوست یې د تاجکي حماسي روایتونو له مخې او د ایران د لرغوني تاریخ متخصص پروفیسر رچرد فرای یې په څه ساکا ګڼي [۱۳۸] ، خو ایرانی تاریخپوه عبدالعظیم رضایي یې ایرانی یانې غیر ساکا ګڼي ، خو په دغه عجب دلیل سره بعضی از مورخان می پندارند که داستان رستم را سکاهای اساک ها از سر زمین اصلی خویش اورده اند که در روزگار باستان به سیستان تاخته و در انجا ساکن شده بودند ولی از انجا که مادر رستم روتابک یا رودا به ی ایرانی است این تصور خالی از حقیقت به نظر میرسد [۱۳۹] عجب استدلال اول دا چې رودابه په اصل کې د کابلستان د واکمن مهراب شاه لور وه او بله دا چې په افغانستان او سیمه کې یو څوک د پلار په نسب یادېده ، نه د مور د رستم د اتلوالي قصې اول د ابوالقاسم فردوسي په شاهنامه کې بیان شوي او وروسته په پهلوي او نورو سرچینو کې راوړل شوي دي په یاد دې وي ، چې د شاهنامې دوه درېیمه برخه د افسانوي روایتونو او قصو داستان او درېیمه برخه یې د ساساني واکمنی تر پایه پوري د تاریخي پېښو منظوم داستان دی دغه افسانې د فردوسي تر وخته پورې د مړینې اټکلي کال ۱۰۲۵م په شفاهي ډول اورېدل کېدلې [۱۴۰] د کهزاد په وینا په

شاهنامه کې په یادو شویو نومونو کې په سلو کې پینځه نوي یې هغه دي، چې په افغانستان پورې تعلق لري [۱۴۱] په شاهنامه کې د سیستان پهلوانان خاص مقام لري تاریخپوه رضایي هم وایي، چې بموجب مندرجات رزمنامه های ملی، بزرگترین پهلوانان ایرانی از سیستان برخاسته، تاج و تخت و سرزمین ایران ادایران نوم هغه وخت رواج نه لاره! را از هجوم بیگانگان مصؤن داشته اند پهلوانان موصوف متعلق بخاندان های بزرگ بوده، نژاد شان به جمشید، شاه پیشدادی میرسید بطوریکه پیش از این گفتیم جمشید هنگام فرار از دست ضحاک (سهاک؟) دختر کورنگ پادشاه زابلستان را بزني گرفت و از آن زن صاحب پسری شد که او را تور نام نهادند سپس به ترتیب از تور شید سپ، از شید سپ تورک، از تورک شم، از شم اثرط، از اثرط گرشاسپ، از گرشاسپ نریمان، از نریمان سام سوار، از سام سوار زال و از ال رستم بوجود آمدند [۱۴۲]-

رضایي زال او زوی یې رستم دغومره مهم گڼي، چې په هکله یې وایي چې نخستین شاهی که پس از انقراض سلسله پیشدادیان بر اورنگ شهریاری تکیه زد کیقباد بود که این مقام را با یاری و کمک زال و رستم بدست آورد [۱۴۳] سره له دې هم په اوستا کې نه پهلوان رستم او نه د هغه پلار زال یادونه شوې ده په افسانوي

قصو کې رستم د روستاتم Rostatham په نامه د سیستان د واکمن په توګه د فراه او زابلستان د ښارونو جوړونکی ګڼل شوی دی[۱۴۴]

دلته ددغو ټکو یادونه ضروري ده، لومړی دا چې د اریایانو په لومړي لوی لېږد کې په سیستان کې به دغومره ډېر ساکا مېشته شوي وو، چې د رستم د کورنۍ مشران یې په دې قادر کړل چې واکمني او اتلوالي وکړي بل دا چې په دغه مهال کې تورانیان او د هغو مشر افراسیاب، لکه چې شاهنامه وایي، په بخدي کې نه وو چې د هغه له واکمنو او رستم سره وجنګېږي ترکان، لکه چې دمخه ویل شوي دي، د ساسانیانو د واکمنۍ په اخر کې دغې سیمې ته راغلل دا چې د شاهنامې له مخې تورانیان او په سر کې افراسیاب به په اوستایي دوره کې له رستم سره جنګېدلي وي، د اعتبار وړ نه ښکاري لکه چې دمخه ویل شوي شاهنامه په اصل کې د شفاهي روایتونو او قصو داستان دی او شفاهي روایتونه په خپل ذات کې د تاریخي واقعیت په شان د اعتبار وړ کېدلی نه شي، ځکه چې د انسان حافظه روایتونه هسې چې یې اورېدلي وي، ساتلی نه شي او هغو د بیا بیانولو او انتقال په وخت کې یکې تصرف کوي او حتی مسخ کوي یې، نو شفاهي روایتونه په تېره هغه چې د پېړیو پېړیو عمر لري، هغومره چې د راویانو د ذهن او خیال انعکاس وي،

د واقعیت انعکاس نه وي خو د رستم په شته توب او اتلوالي کې شک نه پیدا کېږي ، ځکه چې هغه په ډېرو سرچینو کې یاد شوی دي

د مارکوارت په نظر رستم او ګرشاسپ یا کرس اسپه (Keresaspa) په اصل کې یو شخص و [۱۴۵] کهزاد بیا ګرشاسپ او غرغښت یو کس ګڼي او وایي چې ګرشاسب و غرغښت هر دو نام یک شخص و یک قهرمان افسانوی ، داستان نیمه تاریخی ، فولکلوری پهلوان زبردستی است که (اوستا) و منابع دیگر مصل [مثل] (کتاب ګرشاسب) نویسنده و شاعر قرن چارم هجري ابو الموئید بلخی و تاریخ سیستان ګمنام قرن ششم هجری ذکر شده دی دا هم وایي ، چې د غرغښت نوم د خارجیانو لپاره یو مجهول نوم دی په داسې حال کې چې ادب ملی افغانستان همین قهرمان ملی را در تمام داستانهای حماسی از یاد نبرده و تمام کارنامه های وی را زنده نګاهداشته اند [۱۴۶] کهزاد په دې اړه د پاچا امان الله په وخت کې د یوې ډرامې بیان کوي او وایي ، چې در طی نمایش درام بنام (جذر و مد اسلام) از (غرغښت) بحیث یک (پهلوان ملی) ، (بابای ملت) ، (پدر معنوی قوم) ، (غښتلی غرغښت) ، (جهان پهلوان) یاد میشد [۱۴۷] د ګرشاسب یا غرغښت نومیالي توب او نومیالی توب له دېنه معلومېږي ، چې محمد حیات خان

ACKU

يې په خپل حيات افغاني اثر کې هم په همدغه ډول يادوي دی هم د تاريخپوه رضايي په شان ګرشاسب د رستم د کورنۍ مؤسس يا لوړ نيکه بولي [۱۴۸] په ياددې وي، چې ګرشاسب په اوستا او رستم په شاهنامه کې د سترو اتلانو په شان ډېر ياد شوی دی

سواری چو رستم نيامد پديد
چـو سام نريمان بگيتی نبود

په دې ډول په يوه روايت غرغښت، ګرشاسب او رستم په اوستايي دوره کې د سيستان د يوه پهلوان نومونه کېږي او د محمد حيات خان او رضايي په وينا ګرشاسب د رستم لوړ نيکونه کېږي او څنګه چې رستم په ختـه ساکا و، دوی ټول په خته ساکا يانې پښتانه کېږي

پښتو د خپلې ودې په لومړنيو مرحلو کې له سانسکرت نه هم اغېزمنه شوې ده سانسکرت هغه لرغونې هندي ژبه ده، چې له ويدي ژبې سره تړاو لري دغه ژبه په مخز ېږدي څلورمې پېړۍ کې د تعليم کړو هنديانو ژبه شوې وه، نورې هندي ژبې له سانسکرت نه راوتلې دي دغې ژبې به د موريا کورنۍ په دوره کې په پښتو اثر کړی وي تر هغه دمخه هم هندي عناصر په ختيځ افغانستان کې يو ځای بل ځای اوسېدل لکه چې دمخه يې بيان شوی د موريا د کورنۍ مؤسس چندرا

ګوپتا موريا د سلوکوس نيکاتور په وخت کې خپله واکمني آن تر هندوکش پورې ورسوله او کورنۍ يې څه باندې يوه پيړۍ ۳۲۰_۱۸۷ مخز پړدي کې واکمني وکړه په دغې دورې کې د ګندارا پښتانه له اراکوزي کندهار نه تر اباسين پورې له سانسکرت ويونکو سره محشور و طبيعي ده، چې پښتو به هم له سانسکرت نه متاثره شوې وي دغه تاثر له لاندې عددي جدول نه ښکاره دی، دلته دا هم ويل کېدلی شي چې پښتانه شايد په همدغې دورې کې د لومړي ځل لپاره له مجردو عددي مفهومونو سره اشنا شوی وي[۱۴۹]

| | سانسکرت | سانسکرت | پښتو |
|---|---|---|---|
| ۱ | Eka | ايکا | يو |
| ۲ | Dva | دوه | دوه |
| ۳ | Traya | ترايه | درې |
| ۴ | Catvarah | کت واره | څلور |
| ۵ | panca | پانسه يا پنکه | پينځه |
| ۶ | Sat | شت | شپږ |
| ۷ | Sapta | سپتا | اووه |
| ۸ | Astav | استاو | اته |
| ۹ | Nava | ناوه | نهه |
| ۱۰ | Casa | داسا | لس |
| ۱۱ | satam | سه تم | سل |

ACKU

سره له دې هم د پښتنو شجره، لکه د نورو قومونو شجرو په شان، له اول نه تر پایه پورې په منظم ډول معلومه نه ده د تاریخپوه کهزاد په نظر شجره تمام این کتله بزرگ اعم از تمام قبایل و عشایر که در این گوشه دنیا افتاده اند، بوجود سه شخصیت بزرگ سه نیکه گان اولی منتهی میشود که عبارتند از بیټنی، غرغښت و سړبن دی دغه درې ګونې نیکونه د اترط، ګرشاسب او سرند په نومونو هم یادوي او په خپل اثر (غرغښت یا ګرشاسب) کې د هر یوه د کارنامو په اړه اوږد غږېږي د پښتنو ټولې څانګې او خېلونه چې شمېرل یې ناشونکی دی، په نهایت کې دغو درې نیکونو ته رسېږي درانیان، بړیڅ، ترین، غوریاخېل، یوسف زي، اسحق زي یا ساک زي او نور سړبن یا سرند ته، کاکړ، داوي، بابي او نور غرغښت یا ګرشاسب ته او غلزیان، لودیان، سوري، نیازي او نور بیټني یا اترط ته [۱۵۰] تر کهزاد نه دمخه په دې اړه ډول ډول او عجب حدسونه وړاندې شوي دي، چې ذکر یې دلته لازم بشکاري په لنډ ډول د دوی نسب قبطیانو، یهودانو، جارجیانو، ارمنیانو، پارسیانو، ترکانو او حتی تار تارانو ته هم رسول شوی دی، خو دغه ټول محض حدسونه او ناسم دي، چې روسي افغان پېژندونکی ډورن په دغو الفاظو په غوڅه رد کړي دي زه په خپل وار په دې نظر یم چې افغانان (پښتانه) د خپل

هېواد ځايي خلک دي او د سر ويليم جونز په شان زه هم دوی د پاراپاميزاد له لرغونو خلکو سره يو ګڼم ډورن دا هم وايي ، چې دوی په خپل اوسني هېواد کې له نامعلوم وخت نه راپه دېخوا اوسېدلي دي [151] کهزاد دغه روايتونه او دغسې نور لا په غوځه توګه ردوي او وايي ، چې جناب شير محمد ګنداپوري ابراهيم زی صاحب تاريخ خورشيد جهان ، و جناب محمد هاشم خان ، صاحب تاريخ فرشته ، صاحب اثار ديګری چون آئين اکبري ، مخزن افغانی ، مرات الافغانی وغيره هزار و يک قصه واهي چون طالوت فرعون ، ابراهه پادشاه حبشه ، و قبطيان و بنی اسرائيل و حکايات جعلی ارخيا و برخيا و غمزه (وغيره؟) را با هم بافتند ساختند ولی از نور معرفت قرن بيستم همه اين داستان های خود ساخته را از ميان برد و انساب سه قهرمان بيټنی ، غرغښت و سړبن به يشت های اوستا چون افتاب بر پارچه يخ تابش نموده و همه قصص و روايات جعلی را بکلی ناپديد ساخت [152] سره له دې هم دغه بې بنسټه روايت ، چې افغانان ياني پښتانه په اصل او نسب کې يهودان دي ، د ځينو په ليکنو کې انعکاس کوي دغه بې بنسټه روايت که څه هم په دغې ليکنې سره پوره باطل کېږي ، د هغه بې بنسټ توب به زه دلته نور هم روښان کړم

ددغـه جـوړ شـوي روايـت لـه مخـې کلـه چـې حضـرت محمـد(ص) لـه مکې څخـه مـدينې منورې تـه هجـرت وکړ، نـو پـه دغـه وخـت کـې د خالـد بـن وليـد د ليـک پـه ذريعـه د غـور د سيمې د افغانـانو (پښـتنو) لـه مشـرانو څخـه څـو تنـه مـدينې تـه لاړل، چـې د هغـو لـه جملې څخـه يې مشـر د عـيص زوی قـيص و، چـې د نومـوړي د نسـب سلسـله چـې پـه مخـزن افغـاني کې ذکـر شـوې ده، پـه (۳۷) پښت کې سـاول تـه چې پـه طـالوت بانـدې ملقـب و او د بنـي اسـرائيل پاچـا و، رسيږي

ددغـه روايـت لـه مخې دغـو افغانـانو پـه مدينـه کـې اسـلام ومنـه او حضـرت محمـد(ص) د قـيس دغـه عبرانـي نـوم پـه عربـي واړوه او د عبدالرشـيد نـوم يـې پـرې کښېښـود. پـه هغـو ورځـو کـې حضـرت محمـد(ص) د مکـې د نيولـو اراده وکـړه او قـيس عبدالرشـيد د څـو تنـو نـورو پښـتنو او خالـد سـره د عسـکرو سرلښـکر وټاکـل شـو او پـه هغـه جګـړه کـې چـې د مکـې د نيولـو پـه منظـور وشـوه، افغانـانو (پښـتنو) ښـه مېړانـه ښـکاره کـړه او يـوازې عبدالرشـيد وکـړای شـول، چـې د قريشو (۷۰) تنه متمردين ووژني.[153]

ددغـه جعلي روايـت پـر بنسټ اول دغـه افغانـان د خالـد پـه ګـډون يهـودان وو او هغـه افغانـان چـې پـه عربـو کـې مېشـته شـوي وو، د هغـو څخـه د وليـد خالـد زوی ډېـر مشـهور دی. دويمـه دا چې خالـد بـن وليـد خپـل دغـه يهـودي افغـان

قوميان مدينې ته وبلل، چې د حضرت محمد(ص) سره د مکې په نيولو کې مرسته وکړي، خو دغه روايت له سر نه تر پايه پورې د واقعيت پرخلاف دی او زه به دلته د هغه د دوو سترو ټکو بې بنسټ توب تثبيت کړم.

د حيات افغاني ژباړونکي هنري پريسټلي (Henry Priestley) په وينا "لومړی دا چې د ساول پښت په غلطه له جودا (يهودا) څخه بېول شوی دی (په داسې حال کې چې) د تورات (Old Testament) له مخې هغه د بنجامن ټبر ته منسوب و. د تورات په هيڅ ځای کې ددې ذکر نه شته، چې افسانوي ارخيا او ارميا به د ساول له زوزات څخه وي... نه د ارميا او نه د افغان نوم، يا هغه ته ورته بل نوم د حضرت داود د نوميالو کسانو په ډله کې ليدل کېږي."[154] دغه نومونه د اسلامي دورې عربستان او د حضرت محمد(ص) په اړه تاريخونو کې هم نه ليدل کېږي. ما هم په ټولو هغو ډېرو اثرونو کې چې د لوړې زده کړې په وخت کې د لندن په پوهنتون کې او بيا له هغه وروسته لوستلي دي، دغه نومونه نه دي ليدلي.

ددغه روايت بل ټکی، چې خالد بن وليد به د قيس په مشرۍ د غور افغانان مدينې ته بللي وي، هم يو بې بنسټه حکم دی. خالد بن وليد دغسې تاريخي شخص و چې کړنې يې په ډېرو کتابونو کې ثبت شوي دي. د هغو له مخې هغه يهود نه، بلکې د عربو د قرېش لوی ټبر د

مخزوم څانګې څخه و، خو دی تر ۶۲۹م پورې د حضرت محمد ص او اسلام مخالف و. په ۶۲۵ کې یې لا په احد کې د حضرت محمد ص پر ضد جګړه کې برخه هم اخیستې وه. دا هغه جګړه وه، چې مسلمانان پکې په زیاته اندازه د هغه په قومندانۍ مات شوي وو[۱۵۵]

څلور کاله وروسته په ۶۲۹ کې چې حضرت محمد ص د حدیبیې له متارکې نه وروسته په مکه کې هم د امتیانو او نفوذ خاوند شوی و، خالد بن ولید له عمر بن العاص سره هم د حضرت محمد ص پیغمبري ومنله. بل کال (۶۳۰) مسلمانانو مکه په جنګ سره ونیوله، خو دا یو لوی جنګ نه و[۱۵۶]. په دغه حال کې مسلمان خالد ته ممکنه نه وه، چې د هغه وخت په شرایطو کې افغانان هغه هم په دغومره لنډې مودې کې مکې ته حاضر کړي. غیر له هغه هم که قیس او ملګري یې په ختېځ یهودان وای، هغوی به ولې له حضرت محمد ص سره د مکې په نیولو کې مرسته کړې وای، ځکه چې د هغه په حکم سره د مدینې یهودان ځپل شوي وو

هېڅ تاریخي شواهد ددغه روایت پخلی نه کوي. په هېڅ تاریخي منبع کې ددې یادونه نه شته، چې د غور قیس به په ۶۳۰ کې په مدینه کې لیدل شوی وي. په دې ډول په ۶۳۰ کې په مدینه کې د غور د قیس او د هغه د ملګرو شته والی او بیا د حضرت محمد ص له خوا په

عبدالرشید سره د هغه د نوم بدلېدل او دغه قیس د اوسنیو تر څلوېښت ملیون نه ډېرو پښتنو مؤسس یا لوړ نیکه کېدل هسې هوايي خبرې کېږي. هو، خالد بن ولید د عربو د قریش نامتو قوماندان و، خو هغه د خلیفه ابوبکر په وخت کې د ردا په نامه کورني جنګ په بهیر کې وځلېد دا دی و، چې د عقربه په نامه مهمه جګړه یې وګټله او یاغیان یې په ټول عربستان کې ایل کړل

په اصل کې دغه روایت ځکه رښتیا کېدلی نه شي، چې پښتون بې له شک نه، لکه چې ددغې لیکنې نه هم ثابته ده، اریایي قوم دی، نه سامي چې عربان او یهودان ور ته منسوب دي. پښتو هم بېله کوم شک نه اریایي یا په دقیق ډول ختیځه اریایي ژبه ده، نه د عربي او عبري ژبو په شان سامي. اریایي او سامي خو دوه سره بېلې نژادي او ژبنۍ ډلې دي

ددغو واقعیتونو په رڼا کې دغه روایت چې پښتانه په اصل او نسب کې یهود دي، یوازې د ذهن او بدنیت زېږنده کېږي، نه تاریخي واقعیت اوس که یو څوک سره له دې هم پښتانه ددغه جعلي روایت پر بنسټ بني اسرائیل ګڼي، هغه به په اصل کې د لوستونکیو، تاریخ او رښتین توب پروا نه کوي

# دویم څپرکی

# افغــان

د افغـان نوم هـم پخواني دی، خو نـه هغـومره پخواني چې د پښـتون نـوم دی. پـه لرغـوني زمانـه کـې د پـارس خلکـو پښـتانه د ابګـان (Abgan) او د هنـد خلکـو پښـتانه د اسـواکا (Asvaka) یـا د اسـوه غانـه (Asvaghana) پـه نومونـو یـادول. هنـدیانو لـه دولسـمې پېړۍ نـه وروسـته کـوم هغـه پښـتانه، چې د بهار ولایـت پـه پټنـه کې مېشته شوي وو، د پټـان پـه نامـه یـادول او لا وروسـته ټولـو هغـو پښـتنو تـه ویـل کېـده، چې پـه هنـد کـې اوسېدل. د قـانون پـه شـان دا یـو دود دی، چې هـر ولـس چې پـه لېرې سیمو کـې خپـور شـي، ګاونـډیان یـې لـه خپـل اصلي نـوم نـه غیـر پـه نـورو نومونو یـادوي، لکـه سـاکا چـې د پـارس خلکـو اشـکانیان او د هنـد خلکـو پهلـوا بلـل، خـو پـه خپلـه پښـتنو هـر چېـرې ځانونـه پښـتانه یـا پختانـه ګڼـل دا ډېـر ورسـته و، چـې پښـتنو د افغـان نـوم د

ځـان لپـاره ومنـه افغـان اوس هغـه څـوک دی، چـې د افغانسـتان تبعـه دي د پښـتونخوا پښـتانه یـا ډېـری یـې هـم ځانونـه افغانـان ګڼـي، نـو د افغـان دغـه نـوم د یـوه ځـانګړي ولـس لـه مفهوم نـه ملي مفهوم تـه تحول کړی دی. د غبار پـه وینـا: «... تـا قـرن هـژدهم (افغـان) نـام عمـومی پشـتو زبانـان مملکـت قـرار گرفتـه بـود و تـا قـرن نـزدهم وسعت آن بجـایی رسـید کـه نـام عمـومی مـردم افغانسـتان اعـم از دری زبانـان و ترکـی زبانـان وغیـره شـناخته شـد» داسـې ښـکاري، چـې د افغـان نـوم پـه اسـلامي دوره کـې د هغـه د پخـواني نـوم یـا نومونـو ځـای نیـولی وي. بیـا هـم غبـار: «... نـام (افغـان) کـه از قـرن دهـم در نوشـته هـای مـؤلفین افغانسـتان چـون مؤلـف مجهـول حـدود العلـم مـن المشـرق الی المغـرب، ابـو ریحـان، فردوسـی، بیهقـی، منهـاج السـراج وغیـره در مـورد قسـمتی از پشـتو زبانـان افغانسـتان آن روز ذکـر گردیـده و عتبـی در تـاریخ یمینـی ان را معـرب نـام (اوغـان) میشـمارد، هـم یـک نـام قـدیمی اسـت کـه بـا نـام (اپاکـان) مـذکور در (ریگویـدای هند) مطابقت مینماید.»[1]

د ابو ریحـان البیروني پـه وینـا افغـان نـوم پـه هغې کلمې پـورې اړه لـري، چـې پـه مهابارا تـه (Mahabarata) کـې د اسـواکا (Asvaka) پـه نامـه یـاد شـوی دی. دغـه اسـواکا د ګنـدهارا پـه سـیمه کـې وو، چـې د ویـدي دورې نـوم دی او دوی پـه هغـو غـرو او رغـو کـې اوسـېدل، چـې پـه اسـلامي

دورې کې د سلیمان په غرو یاد شوي دي[۲] البیروني چې د اسلامي نړۍ یو ستر عالم و، له سلطان محمود غزنوي سره هند ته په سفر لاړ، هلته یې د سانسکرت ژبه زده کړه او د هند د مدنیت په هکله یې د کتاب الهند په نامه اثر ولیکه، چې د هغه د دولس کلونو مطالعې او مشاهدې محصول و[۳].

د اسلامي دورې د سلیمان غرونه په واقع کې د کسي غرونه دي، چې له هندوکش نه د بلوچستان تر پولې پورې پراته دي او اباسین یې ختیځه پوله تشکیلوي اسواکا په دغې سیمې کې د مهابهاراته د رامنځ ته کېدلو په وخت کې اوسېدل مهابهاراته چې د هندوانو ستر حماسي اثر دی، د نهو سوو کلونو په بهیر کې له میلاد نه پینځه سوه کاله دمخه تر ۴۰۰ میلادي پورې کښل شوی، سل شاعرانو کښلی او زر سندرغاړو په قالب کې اچولی ترڅو چې د ګوپتا واکمنو په دوره کې برهمنانو خپل مذهبي او اخلاقي فکرونه پکې ځای کړل او اوسنی شکل یې غوره کړ مهابهاراته د شکنتلا او د هغې د پهلوان زوی بهارت قصه بیانوي د هغه له نومیالیو نه د کوروس او پنداورس په نومونو د مهابهاراته (لوی بهاراته یا لوی هند) قومونه هسک شوي، چې د هغو خونړي جنګونه د قصې زړې جوړوي[۴].

تاریخپوه احمد علي کهزاد په خپل یوه وروستي اثر

(افغانستان در شاهنامه) کې د افغان په هکله یو څه اوږد بحث کړی دی. دده په نظر "معادل این کلمه در سانسکرت کلمه اوگانه یا اواگانه (Awagana) است"، بیا وایې چې: "اسم دیگری در سانسکرت است که به شکل (اسوه-غانا) (Asva-ghana) یاد شده که این کلمه هم مرکب است. جزو اول (اسو Asva) آن نزدیک به (او-Awa) است لیکن در معنی کوچکترین تفاوت ندارد، زیرا (اسوه) بمعنی (اسپ) و (او-) هم همین معنی را میدهد و (غان) که در هر دو کلمات [کلمه] بیک شکل آمده بمعنی جای (مهد) درینصورت معنی هر دو کلمه (سر زمین سواران) و (مهد سوار کاران) معنی میدهد."[٥]

وای ونډي مارتن (Viviende St.Marthin) شاید لومړنی مؤلف وي، چې په خپل اثر (Annee geographicque) کې لیکلي چې د افغان نوم "د سانسکرت له Acvaka یا asaka نه راوتلی په مانا د اس سور و."[٦] په دغه ډول اسواکا او اسوه غانه یا اسوه ګانه په لږ لفظي توپیر سره دوه مفهومونه څرګند وي: اس سواره او د اس سورو هېواد. دغه رسم، چې یوه کلمه یا یو نوم هم یوه ولس او هم د هغو هېواد لپاره راوړل کېږي، په افغانستان کې تراوسه هم ژوندی دی. لکه مومند، شنوار، اپریدي او نور چې هم د یوه قوم او هم د ملک لپاره راوړل کېږي.

ډېر وروسته د ساسانیانو په دوره کې د اواګانه نوم په پرسي پولیس کې د رستم نقش په ډبرینې لیکنې کې ثبت شوی دی. پروفیسر شپرنګلنګ (M.S Spengling) وایي چې د افغان نوم د ګوندافر ابګان رازماد (Gondafar Abgan Razmad) له خاص نوم څخه راوتلی دی، چې د رستم نقش په کتیبه کې د ساساني پاچا اول شاهپور (۲۴۱-۲۷۲م) په دستور په پارتي، منځنی پارسو او یوناني ژبو کښل شوی په دغه مقصد چې خپل بری نړیوالو ته وښیي. د شپرنګلنګ خپل عبارتونه دا دي: "د ابګان (Abgan) او اوګان (Avgan) لپاره زه له اوسني افغان نه پرته بله ښه کلمه پیدا کولی نه شم"(۷). په همدغه مهال کې به و، چې پښتانه په ابګان او پارسي وانان په دیګان یادېدل او دوی لکه دمخه چې ویل شوي په اصل کې له یوه نسب څخه یانې پښتانه دي. تاریخپوه عبدالحی حبیبي د افغان په اړه یوه وړه لیکنه لري، چې مرکزي ټکی یې د شپرنګلنګ نظر دی.

د پټان نومي کتاب لیکوونکی سر اولاف که رو هم ور ته نظر ښکاره کوي او وایي، چې د اپه کان (Apakan) او ابګان (Abgan) له کلمې نه د افغان تکامل طبیعي معلومېږي(۸)، خو تاریخپوه رچرد فرای په دغه اړه شک ښکاره کوي او مؤلف وارتن ګریګوریان په خپل کتاب (د معاصر افغانستان هسکېدنه) کې دغه نظر ردوي او

ACKU

وايي، چې دغه کلمې د اذربايجان د پخوانيو خلکو نومونه وو او هغه په دغه مفهوم سره د پېنځمې پېړۍ په ارمني ليکنو کې ليدل کېږي[۹] د ګريګوريان دغه نظر په واقع کې د کهزاد د ليکنې په تاييد ده، چې د عمومي لېږد په لړ کې يې ويلي وو، چې د پکتيانو ... يوه کوچنۍ څانګه لا هم د غرب خوا ته مخکې تللې او د ارمنستان په غربي خوا کې يې استوګنه غوره کړې. او په دغه ځای کې هم په خپله دوی د پکتيس يا پکتويس او خاوره او وطن يې د پکتيکا په نامه مشهور شو.

په هر حال، حقيقت دا دی چې د ابګان نوم د افغان په مفهوم د سليمان يا د کسي په غرو درو کې په وروستيو هندي، چيني او فارسي ليکنو کې دغومره ډېر ياد شوی دی، چې هغه بې له کوم شک نه د افغان له نامه سره مطابقت لري.

په دغې سيمې کې په دې اړه غټه بېلګه وراهاميرا (Varahamira) د هند ستوري پېژندونکی دی، چې په شپږمې عيسوي پېړۍ کې يې (اټکل ۵۰۵ نه تر ۵۸۷ پورې) په خپل اثر (بري هت سمهيتا Brihat Samhita) کې د اواګانه (Avagana) نوم دوه ځلې د نورو نومونو ترڅنګه راوړی دی[۱۰]، خو وراهامېرا د هغو د هېواد په هکله څه نه دي ويلي. يوه پېړۍ وروسته يانې په اومې عيسوي پېړۍ کې يو چيني زيارت کوونکي او ګرځندوی

شون چونګ چې په هیون تسانګ باندې یاد شوی دی (د زوکړې کال ۶۰۳م) په هند او په شمالي، مرکزي او ختیځ افغانستان کې دېرش کاله وګرځېد او بیا یې په دوه ټوکونو کې یې د (لویدیځې نړۍ بودایي سندونه) په نامه کتاب خپور کړ. د یو شمېر لیکوالو په اند شون چونګ د افغان نوم د اپوکین (O-po-Kien) په بڼه ذکر کړی، لکه چې چینایان باندني نومونه په معمولي ډول په اړولي شکل راوړي. په هر حال، د شونګ اپوکینان هم د سلیمان په غرو درو کې اوسېدل معلومېږي، چې اسوکا، اسوه غانه او اپوکینان هماغه پښتانه یا افغانان دي، چې په عین ملک یانې د سلیمان یا کسي په غرو درو کې اوسېدل.

د افغانستان تاریخ لیکونکي سرپرسي سایکس، د شون چونګ د لیکنې پر بنسټ وایي چې اپوکینان په طبیعت کې سرسخت او وېروونکي خلک دي. په چلند کې زیړه خو د عقیدې او ایمان په موضوع کې تر ګاونډیانو نه ښه دي[11] خو ما نه د اپوکین نوم او نه د سایکس دغه وینا د شون چونګ په هغه کتاب کې ومونده، چې پروفیسر ساموېل بېل (Samuel beal) ژباړلی او په لندن کې په کال ۱۸۸۸ کې خپور شوی دی. داځکه چې سایکس د شون چنګ قول په غلطه نقل کړی. د شون چونګ پورتنۍ وینا د بامیان د خلکو په اړه

ده ، خو دا معلومه نه ده چې هغوی اپوکین وو ، یا نه وو. پر هغه سربېره هغه څه چې شون چونګ د بامیان د خلکو په اړه ویلي دي هغه نه دي ، چې سایکس نقل کړي ، بلکې دا دي: ... د هغو د خلکو چلند زېږد دی ، جامې یې په عمومي ډول له وړیو او پوښتکو څخه دي. ادبیات ، رسومي مقررې او د سوداګرۍ مروجې پیسې یې کټ مټ هغه دي چې د تخار په هېواد کې رواج لري. ژبې یې هم لږ و ډېر سره توپیر لري ، خو په بڼه او قواره سره ډېر ورته دي (۱۲) دویمه دا چې پروفیسر بېل د کتاب هغه برخه ، چې د اپوکین نوم پکې یاد شوی دی ، نه دی ژباړلی او دغه برخه د شون چونګ په هغې برخې کې لیدله کېږي ، چې ستاني لاس جولیین (Stanilas Julien) په انګرېزي اړولې دی. نوموړي ددغه مقصد لپاره شل کاله د چیني او سانسکرت په زده کړه کې تېر کړي وو. الیکزاندر کننګهم بیا د هغه پر بنسټ خپل مهم اثر ولیکه په نامه د هندوستان پخوانۍ جغرافیه. په هغې کې دی لیکي ، چې شونګ چون یوازې یو ځل په یوې لنډې فقرې کې د اپوکین نوم اخلي او هغه د فلانه (Falana) [بنو] او غزني ترمینځ د لومړني شمال-لویدیځ او وروستي سهیل خوا ته ښیي. (۱۳)

په دغه ډول اپوکین د شون چونګ په نظر په اصل کې د یوې سیمې نوم و ، چې کننګهم هغه د یوه اوږده بحث

په ترځ کې افغانستان او افغانان ګڼلي او ويلي يې دي، چې زه نږدې ډاډه يم چې د اپوکين د کلمې له ذکر نه د شون چونګ مطلب افغان دی [۱۴] خو له هغه وروسته د اوګان نوم لږ. په نظر راځي وروستی ذکر يې شايد د ابو القاسم فردوسي په شاهنامه کې وي، چې هغه د يولسمې عيسوي پېړۍ محصول ده. فردوسي په شاهنامه کې وايي، چې [۱۵]

همه گرد ایوان دو رویه سپاه
بزرین عمود و بزرین کلاه
سپهدار چون قارن کاوگان
به پیش سپاه اندرون اوگان

داسې ښکاري، چې د اسلامي دورې له پيل نه وروسته افغان د اوګان ځای نيولی وي د حدود العالم ناخرګند ليکوال شايد لومړنی ليکوال وي، چې د افغان نوم يې د لسمې پېړۍ په پای يا د يوولسمې پېړۍ په سر کې راوړی وي. تاريخچوه حبيبي ليکي ... در دوره اسلامی همانا ذکر این نام در کتب دری و عربی مکرر می آید که ذکر قدیمتر آن در حدود العالم تالیف ۳۷۲هجری از طرف یکنفر جوزجانی گم نام است که مینورسکی دانشمند فقید او را از خانواده و یا مربوطین دربار آل فریغون جوزجانی میشمارد و در این کتاب ذکر افغان در چندین مورد آمده است و بعد از آن محمد بن عبدالجبار

عتبی در تاریخ یمینی افغان را در وقایع سبکتگین و آل او بارها ذکر میکند و حتی این اثر در الکامل آن را با املای قدیم افغان هم می آورد و مؤرخان مابعد مانند فخر مدبر در اداب الحرب و حمدالله مستوفی در تاریخ گزیده و محمد قاسم فرشته و دیگران هم از قبایل افغان و اوغانی بارها ذکر کرده اند [۱۶].

د افغان نوم د فردوسي په شاهنامه کې په ښلو قرینو کې راوړل شوی، چې یو څو یې په لاندې ډول دي [۱۷]

چنین گفت دهقان دانش پژوه
مر این داستان را ز پشین گروه
که نزدیک زابل به سه روزه راه
یکی کوه بد سر کشیده به ماه
بیک سوی او پشت خرگاه بود
دگر دشت زی هندوان راه بود
نشسته در آن پشت بسیار کوچ
ز افغان ولاچین و کرد بلوچ

یا دا چې

یکی قلعه بالای آن کوه بود
که آن حض از مردم انبوه بود
مرآن حصن را نام مرباد بود
از و جان نا بخردان شاد بود
بدژ در یکی بدکنش جای داشت

که در رزم با اژدها پای داشت
نـژادش ز افغـان سـپاهش هـزار
همـه ناوک انداز و ژوبین گـذار

په بل ځای کې د بهزاد له خولې وايي

چو بهزاد افغـان از و ایـن شنفت
بدو گفت کاهر یمنت باد جفت
چه نامی گزینگونه کوشی بجنگ
قوی بالی و یـا فروهوش و هنگ

د پهلوان رستم له قول نه وايي

که آیم بر افراز که چون پلنگ
نــه دژمانــد آنگــه نــه کهســار
همــه مــرز افغـان بهـم بـر زنـم
بـدین دژکـین اتـش انـدر زنـم

بیا هم رستم

یکـی پنـد پیرانـه بشـنو ز مـن
ایانـــامور رســـتم پیلـــتن
همه مال و اسباب و این زیب و فر
کنیــزان مــه روی بــا تــاج زر
ازیندشـت خرگـاه افغـان گـروه
هزار از سواران ایندشت و کوه

لـه هغـه وروسـته د افغـان نـوم پـه ليکنـو کـې دغـومره عـام شـو، چـې ټولـو هغـو ليکوالـو چـې ددغـې سيمې پـه هکلـه پـه

فارسي او عربي کې ليکنې کړي، د افغان نوم يې ارومرو ياد کړی دی[۱۸] پښتنو ليکوالو هم چې په اول کې يې د افغان نوم نه يادوه، له هغه وروسته يې په ليکنو کې يادوه په دغه لړ کې خان جهان لودي (د مړينې کال ۱۶۳۰) شايد لومړی پښتون مشر او ليکوال وي، خوشال خان خټک خو دغه نوم په وياړ سره يادوه

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زمانې خوشال خټک يم

احمد شاه دراني هم په هغه ليک کې، چې د عثماني سلطان درېيم مصطفی په نامه واستوه د "قوم جليل افغان" ذکر وکړ[۱۹]

خو په عامو پښتنو کې د افغان د نوم عام کېدل ډېر وخت ونيوه فرانسوي ګرځندوی فريه (Ferrier) لا وايي، چې غلزيان او ابداليان چې ځانونه تر نورو پښتنو لوړ ګڼي "حتی نه غواړي چې د افغان په نامه ياد شي"[۲۰] فريه د نولسمې پېړۍ په دويمې نيمايي کې په افغانستان کې ګرځېدلی او بيا يې د خپل سفر په اړه د افغانانو تاريخ په نامه يو پنډ اثر وليکه سره له دې هم د افغان نوم د انکشاف په حال کې و، د افغان نوم لا د همدغې پېړۍ په اولې نيمايي په انګرېزي ليکنو کې لا زيات راوړل کېد او افغانان د يوه ملت په توګه او افغانستان د يوه هېواد په توګه نړۍ والو ته وپېژندل شو د افغان-انګليس لومړی

جنګ د افغان کلمې ملي مفهوم نور هم پیاوړی کړ. په همدغه جنګ کې په تېره د کابل په سیمه کې و، چې د افغان دوه مهم عنصرونه (پښتانه او تاجک) د یرغلګرو په برابر کې سره یو موټی او ټینګ ودرېدل او په عمل کې یې وښووله، چې دوی د افغان ملت زړی جوړوي. د همدغه اتحاد له امله و چې انګرېز لیکوالو په تېره لېډي سیل (Lady Sale) په خپل جورنال (په افغانستان کې د غمیزو جورنال) او مؤلف جان کې (John Kaye) په خپل اثر (په افغانستان کې د جنګ تاریخ) د افغان نوم ډېر یاد کړی دی.

مېرمن سیل چې د افغان-انګلیس په لومړي جنګ کې د افغانانو یرغمله وه او افغانان یې له نږدې نه لیدلي او پېژندلي وو، په هکله یې وایي چې: زه زیاتره اورم چې افغانان ډارن دي... خو دوی د ماشین دار (Guns) په برابر کې لکه هسې چې درېږي، چې یې په خپله نه لري او حصارونو ته په ختلو او د هغو په نیولو کې چې موږ یې بېرته نیولی نه شو، بې زړه توب نه ښیي. د مرکز [کابل] افغانان یو څه متمدن دي، خو د اطراف ښاغلي او نوکران یې، زما په فکر، زیاتره هغسې کسان دي چې سکندر ورسره مخامخ شوی و (۲۱).

جان کې، چې انګلیس تاریخپوه او خپل ډېر مهم اثر یې د افغان-انګلیس له جنګ نه وروسته په ۱۸۵۱

کې زیاتره له حکومتي پاڼو او د هغو له یادښتونو او شخصي لیکونو له مخې لیکلی، چې په جنګ کې یې برخه اخیستې وه، افغان یې د یوه ملت په توګه ډېر یاد کړی او افغانان یې په دغه ډول توصیف کړي دي «افغانان یو توپاني او سرکښه خلک دي، ډېر لږ متمایل دي، چې واک ته تسلیم شي او خپل نارضایت په شدید ډول ښيي»[۲۲].

الفنسټن (Elphinstone) چې د افغانستان په هکله د لوړ علمي صلاحیت خاوند و او په خپل اثر (د کابل سلطنت شرح او بیان) کې یې افغانان تر هر بل بانددني لیکوال نه زیات په واقع لیدونکي ډول معرفي کړي دي، هغه وخت چې یې افغانستان ته د انګرېزي پوځ له استولو نه واورېدل، حکومت ته یې ښکاره کړه چې تاسې به شاه شجاع د پوځ په زور په افغان تخت کښېنوئ، خو په دغه خوار ملک کې او د «سرکښه افغانانو» په مینځ کې د هغه ساتنه به ناهیلې توب راوړي[۲۳].

د افغان-انګلیس په دویم جنګ سره د افغان نوم په ملي مفهوم سره نور هم خپور او وپېژندل شو او پر هغه برسېره مذهبي بعد یې هم پیدا کړ، آن تر دې چې د هندوستان وایسرای هم افغانان د یوه ملت په توګه تعریف کړل، نو ویل کېدلی شي چې د نولسمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې د افغان نوم هم په ملي او هم په

مذهبي مفهوم د افغانستان د اوسېدونکيو معرف وګرځېد او افغان نشېنلزم واقعي شو

لا مهمه د ملي کېدلو او مدني کېدلو په لور د نظام او ټولنې وده وه. د ملي کېدلو دغه حرکت د امير عبدالرحمن په واکمنۍ کې پوره محسوس و دده په ۲۱ کلنې واکمنۍ کې و، چې ټول افغانستان د لومړي ځل لپاره د عين قانونو او مرکزي حکومت چارواکيو له خوا په نېغ ډول اداره کېده. د امنيتي او رسمي چارواکيو زياتوالی هم ددغه حرکت له پياوړتيا سره مرسته کوله. د همدغه پاچا په وخت کې و چې ډېرو سيمو ته د ډېرو خلکو په پرارولو سره د افغان قومونو عنعنوي ګوښه توب د تل لپاره له مېنځه لاړ او د ملي پيوستون او ملي دولت د پياوړي کېدلو لپاره لار هواره شوه. دغه حرکت بيا د پاچا امان الله په واکمنۍ کې هم په نظر او هم په عمل کې ښه قوت وموند. په همدغه وخت کې و چې د افغانستان ټول خلک د افغانستان د لومړي ليکلي اساسي قانون له مخې د دموکراتيکو حقونو خاوندان وپېژندل شول او افغان ټولنه په دې ډول مدني شوه، چې ټول غړي يې سره برابر وګڼل شول. پاچا امان الله لومړی افغان و، چې د افغان تعريف يې هم وکړ او هغه هم په پراخ مفهوم سره "هر کسيکه در افغانستان سکونت دارد از هر مذهب و فرقه که باشد و هر کار و صنعت و خدمتيکه ميکند، تماماً

افغان گفته میشوند [۲۴]

بیا نو افغان په همدغه حقوقي مفهوم سره د افغانستان په ټولو اساسي قانونو کې په دې مانا وپېژندل شو چې افغانان په حقونو کې په دغه ډول سره برابر دي، چې هېڅ یو پر بل باندې هېڅ ډول امتیاز نه لري د اوسني قانون د څلورمې مادې پر اساس "د افغان کلمه د افغانستان د ملت په هر فرد اطلاق کېږي"

د همدغې حقوقي برابر تیا او داسې هم د آزادۍ له بر کته و، چې افغانان په تېرې اوږدې خطرناکې ناارامۍ کې خپل وطن افغانستان ته رښتیني پاتې شول دا ځکه چې په دوی کې دغه فکر ټینګ دی، چې یوازې د افغان نوم دی چې د قوم ولۍ، ژبې، مذهب، جنس او اجتماعي دریځ له توپیر نه پرته د وطن د ټولو خلکو استازیتوب کولی، ملي پیوستون ټینګولی او دوی په افغاني روحیې سره په ګډه دننه په افغانستان کې د عزت او حیثیت ژوند کولی شي، نو اوس ددې وخت دی چې د افغانانو مېنه (افغانستان) په تاریخ کې وپېژندله شي

## درېیم څپرکی

# افغانستان

افغانستان دغسې هېواد دی، چې انسانان یکې له ډېرې پخوا زمانې نه اوسېدل بیا نو دا طبیعي ده چې هم به دوی او هم به د دوی مېنه په څو څو نومونو یادېدله. د افغانستان لومړني اوسېدونکي په یقین سره معلوم نه دي او په اړه یې ډېر حدثونه وهل شوي دي. د ویدي دورې اوسېدونکي یې معلوم دي، چې هغه اریایان دي، دا هم معلومه نه ده چې دغه اریایان څه وخت په لرغوني افغانستان کې مېشته شول، خو څه وخت چې دوی د هندوکش په دواړو خواوو سیمو کې اوسېدل د اریا نوم یې د ځان لپاره غوره کړ. د کهزاد په وینا "تا زمانیکه قبایل ویدي در باختر و نقاط دو طرفه هندوکش تمرکز داشتند خود را به نام (اریا) یاد میکردند" په دې ډول

د کهزاد په وینا نام اریا بار اول در مورد کتله باختری استعمال شده است [1] ددې لپاره چې افغانستان په تاریخ کې ښه وپېژندل شي ، اول به ددغو اریایانو مېنه یانې اریانه او ورپسې خراسان په لنډ ډول معرفي شي

## اریانه:

کله چې اریانه وایو ، لازمه ده دغه ټکي په نظر کې ونیول شي چې د اریانه حدود هېڅ وخت ټاکلي نه وو ، حدود یې په واقع کې د پولې قومونو پورې اړه لرله چې که هغوی پوونده وو ، حدود به یې د تغییر په حال کې و په هغه وخت کې د اریانه ډېر اوسېدونکي پوونده او لېږ مېشته وو. په واقع کې په هغه وخت کې پوونده توب د ژوند عام طرز و او د یوه قوم نوم د هغه تر مېنې نه زیات عام و داسې هم ډېر شوي دي ، چې یو قو د بل قوم په فشار یا د طبیعي عاملونو له امله خپله مېنه پرېښووله او په بلې مېنې کې به یې واړول او هغه به بیا د دوی په نامه یاده شوه

بله دا چې اریانه له دغسې سیمو نه جوړه وه ، چې هره یوه یې د یوه هېواد په شان وه. دغه واقعیت په اوستایي دوره کې پوره څرګند و د زرتشت په قول د نیکي خدای اهورا مزدا شپاړس هېوادونه یا ملکونه (Lands) خلق کړل ، چې اریانه وایجو (Airyana Vaego) یې تر ټولو

ښکلی هېواد او نور یې دا دي سغدهاس (Sughdhas)، مورو (Mouro)، بخدي (Bakhdhi)، نیسایا (Nisaya)، هاريو (Haroyo)، واې کې ريتا (Vaekerata) او روا (Urva)، خننتا (Khnenta)، هاراوارتـه (Harahvarta)، وارينا (Varena)، هايتومنت (Haetoment)، راغه (Ragha)، کخرا (Kakhra) او اوه سينونه (هپتاهندو) (Heptahindu) او هغه ملک چې د رنګا سرچينې ته نژدې پروت دی او هلته دغسې خلک اوسېږي، چې مشران نه لري مهمه دا ده، چې دغه هېوادونه سره بېل وو او اهورامزدا هغه ددې لپاره خلق کړل، چې ښکلې اريانه وايجو د دوی له شر نه په امان وي اريانه وايجو د وان ګوهي ديتيا (Vnguhi Daitya) څنګ ته هېواد ښوول شوی دی[۲] څنګه چې ددغه هېواد موقعيت هم ناڅرګند دی، د اريانه وايجو موقعيت هم نامعلوم دی او تاريخپوهان په دې اړه سره اختلاف لري غبار اريانه وايجو د آمو او سر دريا يا جيحون او سيحون ترمېنځ هېواد ښيي[۳] کهزاد هم وايي، چې ميتوان اين قطعه زمين را در جوار سرچشمه رود اکسوس (امو دريا) يا بين مجراى علياى اکسوس و ايکرارت يا امو دريا و سردريا در حوضه فرغانه قرار دارد[۴] خو نامتو انسان پېژندونکی ګوردن چايلډ وايي، چې د هلمند له موندنو څخه ښکاري، چې سيستان به اريانه وايجو وي[۵]

البته د بخدي یا باختر هېواد، چې یونانیانو په بکتریا (Bactria) یاد کړ، په ختیځ کې یو مهم هېواد و مرکز یې بلخ یا زر اسپه و، چې یونانیانو په بکترا (Bactra) او وروسته عربانو د ام البلاد یا د ښارونو مور په نامه یاد کړ د فرای په وینا "داسې ښکاري چې بلخ په ټول ختیځ کې تر ټولو لوی ښار وي"[۹] بلخ په اوستا کې "د لوړو بیرغونو درلودونکی ښکلی بخدي" په نامه هم یاد شوی دی بلخ د اریایي پاچایانو لومړنی مرکز هم ښوول شوی دی[۷]، خو د اریانه حدود، لکه چې دمخه ووېل شول، د تغییر په حال کې و او ولایتونه یې د سیاسي وضعې له امله لږ و ډېر کېدل د یونان جغرافیه پوه او ساینس پوه بطلیموس د لیکنې له مخې د اریانه ولایتونه دده په وخت کې یانې په دویمې عیسوي پېړۍ کې دا وو مارجیانه (د مرغاب حوضه)، بکتریانه (بلخ او بدخشان)، اریا (هرات)، پاراپامیزوس (هزاره جات او کابل تر اباسین پورې)، درانجیانه (سیستان او کندهار، اراکوزیه (غزني او د کسي غرونه تر اباسین پورې)، او جدروزیه یا ګدروزیه (کج او مکران یا بلوچستان[۸]) د توجه وړ ده، چې دغه ولایتونه د اوستایي دورې له شپاړسو هېوادونو نه لږ دي او پر هغه برسېره په څو برخو کې ورسره توپیر لري دا هم معلومه نه ده، چې په اریانه کې به دغسې سیاسي نظام یا حکومت حاکم و، چې حکم به یې په ټولو ولایتونو

چلېده ځيني ولايتونه يې لا دغومره مهم وو، چې په خپل قوت امپراتوري شوي وو درنجيانه يا سيستان او کندهار ولايت يې يو غټ مثال دی، چې د ساکا د واکمنۍ په وخت کې په امپراتورۍ بدل شو او ګوندوفارس يې، لکه چې دمخه ويل شوي دي، نامتو واکمن و د غبار په وينا
این پادشاه بر تمام حصه های جنوبي اريانه و در شرق تا سند و پنجاب حکمران و مرکزش در حوضه ارغنداب بود و بر حکومت يونان و باختری در کابل هم خاتمه داده است [۹].

اريانه په اصل کې يوه جغرافيوي اصطلاح وه، نه سياسي دا هم معلومه نه ده چې دغه نوم څه وخت او د چا له خوا د اريايانو پر مېنې ايښوول شوی دی دغومره ويل کېدلی شي چې اول اريا د خلکو او وروسته اريانه د مېنې په مانا رواج شوې وي لکه چې دمخه وويل شول، اريايان هغه وخت چې د هندوکش په دواړو خواوو سيمو کې مېشته شول، ځانونه يې د نجيب په مانا اريا وبلل په دې ډول اريا د ويدي دورې نوم کېږي او دوی به ځکه دغه نوم غوره کړی وي، چې ځانونه له تور پوټکو د رای ويديانو (Drividians) څخه جلا وښيي چې د شمالي هند په موهنجه دارو او هراپا کې يې مدني او ښاري ژوند درلود او چې اريايانو لاندې کړل، د داسيو په سپک نامه يې ياد کړل دغه پېښه په واقع کې په منځنۍ اسيا او

شمالي هند کې په مېشتو خلکو باندې د پوونده خلکو د غلبې د حرکت لومړنۍ معلومه غځه پېښه وه، چې پېړۍ پېړۍ یې دوام وکړ او د نړۍ دغې پراخې سیمې تاریخ ته یې خاصه ځانګړتیا ورکړه. دا هم په یقین سره معلومه نه ده، چې اریانه یا اریانه وایجو په کومې پېړۍ کې د اریایانو د مېنې نوم شوی و. کهزاد یې "به اساس سرود ویدی (اریانم ویجو) سرزمین اولیه اریایي ګڼي"[10]، خو ما نه اریانه او نه اریانه وایجو یا اریانم ویجو نوم د ویدا د مذهبي سندرو په هغه کتاب کې وموند، چې رالف ګرفت انګرېزي کړی او کهزاد د هغه پر بنسټ دغه لیکنه کړې ده.

لکه چې دمخه ویل شوي، اریانه وایجو د اوستایي دورې نوم وي، چې د هغو شپاړسو هېوادونو په ډله کې یو هېواد وي چې دمخه یې یادونه شوې. کهزاد هم څه وخت چې وایي چې د لرغوني یونان لیکوال "ایراتوستینز (Erotosthenes) بار اول نام قدیم مملکت ما (اریانه) را در حوالی وسط قرن سوم ق م ذکر کرده"[11] ددغه حکم تایید کوي.

اریانه، اریانه وایجو او اریا ورته درې واړه د اریایانو یا په دقیق ډول د لرغوني افغانستان د لومړنیو معلومو اوسېدونکیو د هېواد په مانا دي. داسې ښکاري چې اریانم وایجو او اریا ورته د دوی د هېواد لومړنۍ نومونه وو، چې

وروسته ځومره وروسته معلومه نه ده اریانه شو، په دې ډول چې د وایجو او ورته وروستاړی چې د ورشو یا ځای په مانا دی، ورو ورو ترک شول او اریانه یې ځای ونیو دغه تغییر به هغه وخت پېښ شوی وي، چې په اصل کې پووندہ اریایان مېشته شول بلـه دا چې د ورته وروستاړی د ورشو په مانا دی، چې اوس هم په پښتو کې ویل کېږي د کهزاد په وینا ورته یا ورشه تا امروز در پشتو به صورت (ورشو بمعنی چراگاه باقیمانده) (ویجه) هم عیناً شکل، تلفظ و معنی خود را محافظه کرده است و در میان پشتو زبانان وادی ارغنداب قندهار بمعنی (جای)، (مسکن) استعمال میشود [۱۲] اریانا به په اصل کې اریانه وه، چې د وښیاڼه په شان د پښتو نوم کېږي د اریایانو د هېواد په مانا په اریانه وایجو کې هسې چې په تېرو پاڼو کې یې بیان شوی دی، د ساکا ډېرې ځانګې آبادي وې چې ژبه یې ساکي یا پښتو وه، یا دا چې لکه چې دمخه ویل شوي پښتو او اوستایي ژبې سره خوېندې وې په هر حال، دغه اتمولوجي هم ددې تایید کوي چې د اریانه اوسېدونکي، یا ډېر اوسېدونکي یې ساکا یاني پښانه یا د هغوورونه وو

د اریانه حدود هم له دغه حکم سره جوړ راځي، چې ډېر لرغوني نه دی دغه حدود د لومړي ځل لپاره د لرغوني یونان ایراتوستینز د مخزیرډې درییمې پېړۍ په

نیمایي کې ثبت کړي ،چې هغه په دغه اړه معلومات له یونانیانو نه او یونانیانو هغه له ځایي خلکو نه ترلاسه کړي وو او نورو بیا د ایراتوستینز د لیکنې پر بنسټ لیکنې کړي دي. سترابو له همدغې ډلې یونانیانو نه و، چې د اریانه حدود یې په دې ډول ښوولي (سترابو له میلاد نه شپېته کاله دمخه تر نولس میلاد پورې ژوند کړی دی) د سترابو په وینا د اریانه حدود په ختیځ کې اباسین او په جنوب کې د هند سمندر و لویدیځ حد یې په یوه ځای کې دغسې یوه فرضي کرښه ښوولې، چې له کسپین نه تر کارمانیا (کرمان Carmania) پورې غزېدلې او په بل ځای کې یې دغسې لیکه ښوولې، چې پارتیان (Parthiene) له میدیا (Media) څخه او کرمان له پارای تکین (Paraetakene) او پارس څخه جلا کوي او شمال ته یې د پاراپامیزاد غرونه ښوول شوي دي، چې دوام یې د شمالي هند پوله جوړوي[۱۳]. دغه حدود برسېره پر دې، چې غېر دقیق او په لویدیځه خوا کې ناڅرګند دي، بخدي او سغدیانه پکې نه دي ښودل شوي. پروفیسر ولسن دغه نیمګړتیا سمه کړې او د اپولو ډورس (Apollodorus) له قول نه یې لیکلي چې اریانه د پارس او ماد ځینې برخې او په شمال کې بخدي او سغدیانه هم په غېږ کې نیسي، په داسې حال کې چې بخدي د هغې اصلي برخه جوړوي[۱۴]

ښايي دا په نظر کې ونيوله شي ، چې ددغه حدود دننه دغومره پراخې سيمې پرتې دي ، چې يو کورنۍ يا يو حکومت اداره کولی نه شو ، نو دا يو جغرافيوي او ژبنی واحد کېږي ، نه سياسي واحد. که سياسي واحد وای ، يو ځانګړی نظام به يې لرلای ، هم به يې جوړښت معلوم وای او هم به يې اوسېدونکيو د باندني يرغل په برابر کې ګډ غبرګون ښودلای ، خو واقعيت غسې نه و. د بېلګې په ډول په سلوکېدي دوره کې د هند د موريا دولت مؤسس چندراګوپتا موريا تر پاراپاميزاد (هندوکش) پورې د اريانه ختيځه برخه د خپلې امپراتورۍ برخه وګرځوله ، بې له دې چې له ګډ مقاومت سره مخ شي. په سرچپه ډول د سيستان ساکي کورنۍ د ګوندو فارس په واکمنۍ کې شمالي هند د خپلې امپراتورۍ برخه وګرځوله ، بې له دې چې دغه برى يې د نورو سيمو په مرسته ترلاسه کړی وي. په يونان-باختري دوره کې پاچا ميناندر شمالي هند لاندې کړ او خپله واکمني يې پرې جاري کړه. په دغه حال کې اريانه بايد د اريايانو ژوند سيمه وګڼله شي ، نه د يوه واحد حکومت تر لاس لاندې سيمه. اريانه شايد د هغو ياد شويو شپاړس هېوادونو عمومي نوم هم و ، په دې ډول چې هر ځانګړی هېواد يې د خپلو اجتماعي مقاولو له مخې د نفوذمنو قومي مشرانو په مشوره د واکمنې کورنۍ د لويانو له خوا په خپلواک ډول اداره کېده. دا هم د

یادولو وړ ده، چې په پورته یاد شوي حدود کې دننه سیمه د خپلو اوسېدونکیو له خوا اریانه یادېده او په هغې کې دننه دغسې سیمې وې چې په هرې یوې کې د آریه ریښه لیدل کېده، لکه هرویو، هراوي تي، اریاکا، اریاسپ، اریوس او ارتاکانا[۱۵]

د یادولو وړ ده چې هغه اریایان، چې په ماد یا پارس یا هند کې مېشته شول خپله مېنه یا مېنې یې د اریانه په نامه نه کړې، یوازې هندي اریایانو د اریانه اریایانو په پیروي د همالیې سهیل ته خپله نوې مېنه د خپل واکمن بهاراته (Bharata) په نامه بهاراته ورشه (Bharata Varsha) ونوموله[۱۶] په شاهنامه کې چې د ایران نوم په وار وار یاد شوی دی، له هغه نه مطلب اریانه دی. د ایران نوم له اریانم (Aryanam) یانې د اریایانو له هېواد نه راوتلی دی[۱۷] دا وروسته په شلمې پېړۍ کې و، چې ایران په رسمي ډول د پارس د هېواد نوم شو. دا هم د یادولو وړ ده، چې دهغو شپاړسو هېوادونو په ډله کې چې په اوستایي دورو کې یاد شوي دي او دمخه یې یادونه شوې ده، پارس د هېواد په توګه نه دی یاد شوی. له همدې امله به و، چې هخامنشي واکمنو د اریانه له یادولو نه ډډه کوله او شاید هغه یې یو بل هېواد باله، لکه وروسته چې ساسانیانو د پارتیا نوم په خراسان سره عوض او عام کړ.

## خراسان:

د خراسان په اړه د لاندې ټکو په پام کې نیول ضروري دي لومړی دا چې دغه نوم د پارس د کوم ساساني واکمن له خوا ایښودل شوی، لکه چې دمخه ویل شوي د ساسانیانو اصلي مؤسس اردشیر و، چې په ۲۲۶م کې یې ځان وروسته له هغه پاچا اعلام کړ، چې د پارتیانو لښکرو ته یې په دریم ځل جګړه کې په سوسیانه کې ماتې ورکړه او د هغو پلازمېنه ستیسیفون (Ctesiphon) یې ونیوه. پارسیان له اول نه د پارتیانو مخالف وو، پارتیان په اصل کې د داهي (Dahi) قوم د پارني یا اپرني (Aparni) څانګې خلک وو، چې د ساکا مساګیتا قوم ته منسوب وو، چې په دهستان کې د پوونده وو په شان اوسېدل او پارسیانو د هغو واکمني بېګانه ګڼله. که څه هم هغوی څه کم پینځه پېړۍ واکمني وکړه او د پارسیانو ژبه یې هم زده کړې وه. د دوی ترمنځ د بېګانه توب بل غټ ټکی دیني عقیده وه. ساکا په لمر معتقد وو او پارسیان زرتشتي وو. دا هم معلومه نه ده، چې دوی به د ساسانیانو د لاس بري په وخت کې زرتشتي شوي وي. شاید نه وي شوي، ځکه لکه چې زر به ولیدل شي د سیستان ساکا د عربو د یرغل په وخت کې نه زرتشتي او نه بودایي وو. دوی په ځانله محلي خدای زون (Zun) معتقد وو.

بل غټ ټکی د خراسان نوم دی د لمر خاته ملک په مانا، ځکه چې خراسان د ساسانیانو د هېواد یانې پارس په ختیځه کې پروت دی داسې ښکاري، چې ساسانیانو پار تیه ددې لپاره خراسان ونوموله، چې د ساکا هویت له مېنځه یوسي، ځکه چې خراسان جغرافیوي مفهوم لري چې نسبت یې د هغه اوسېدونکیو ته نه کېږي زموږ په عصر کې هم اروپایان لویدیځه اسیا د منځنی ختیځ او ختیځه اسیا د لیرې ختیځ په نومونو یادوي، خو نه دغه نومونه او نه خراسان د خپلو اوسېدونکیو معرف کېدلی شي دا په دغسې حال کې چې پار تیه د ساکا د خلکو هېواد پېژندل شوی و او پارسیانو ور ته اشکانیان ویل

د خراسان په اړه بل غټ ټکی دا دی، چې هغه د ساسانیانو تر لاس لاندې هېواد و، نه خپلواک هېواد بل دا چې خراسان ورو ورو پراخ شوی او د پېړیو په بهیر کې یې نور ملکونه په غېږ کې نیولي دي د ساسانیانو په وخت کې د پار تیه پلازمېنه ستیسیفن (Ctesiphon) هم ترک شو او پرځای یې د خراسان والي یا مرزبان زیاتره وخت نیشاپور خپل مرکز غوره کاوه او د عربو د یرغل په وخت کې د خراسان مرکز د مرو ښار و، چې هغه په ټول ختیځ کې د عربو په غټ مرکز بدل شو خراسان په واقع کې د خپل مفهوم له مخې هغو سیمو ته ویل کېده، چې د پارس په ختیځ کې واقع وو، که څه هم د هغه تر لاس

لاندې به نه و پـه دې اړه ښـه مثـال د ساسـاني اخـري پاچـا دریـیم یزدګـرد دی، چې ۶۴۰ کې پـه نهاونـد کې لـه عربـي پوځ نه لـه خپلې مـاتې نـه وروسـته لـه خپلو ډېرو غیـر نظامي درباریـانو سـره سیسـتان تـه ورسـېد، خـو پـه سیسـتان کې د مرسـتې لپـاره د هغـه غوښـتنې وانـه ورېـدل شـوې داسـې ښـکاري چې ځـايي واکمنـو (زنبیلانـو) غـوره ګڼلـه چې لـه یرغـل کوونکیـو سـره پـه خپلـه سـوله وکـړي، نـه دا چې دغسې پاچـا تـه خپـل تابعیـت وښیي چې د ناکـامۍ لسـت یې اوړد و بیـا نو هغـه لـه سیسـتان نـه د خراسـان پـه لـور روان شـو[۱۸] سیسـتان لـه خراسـان نـه بېـل هېـواد و او هغـه لکـه چې دمخـه ویـل شـوي دي، د ځـايي واکمنو لـه خوا چې پـه اصـل کې سـاکا وو او د زنبیلانـو پـه نامـه یادېـدل، پـه خپلـواک ډول اداره کېـده یزدګـرد بیـا لـه سیسـتان نـه د خراسـان مرکـز مـرو تـه لاړ، خـو هلتـه پـه ۶۵۱ کې د هغـه د مرزبـان (والـي) مـاهوی پـه دسیسـه د خسـرو نـومي ژرنـده ګـړي پـه لاس ووژل شـو او د هغـه پـه مـرګ سـره ساسـاني پاچايي ختمه شوه[۱۹]

د خراسـان حـدود حتـی د ساسـانیانو پـه وخـت کې هـم ناڅرګنـد وو، دغـومره څرګنـده وه چې پارتیـه او مـرو د خراسـان پـه نامـه یادېدلـه او د مـرو رغیاڼـه یـا واحـه (Oasis) د ساسـانیانو نظـامي مرکـز و مـرو پـه زړه پاړسـو کې د مـارګو (Margu) پـه نامـه یادېـده، خـو د نیشـاپور، هـرات او بلـخ

دري لوی ښارونه د مرو تر لاس لاندې نه و دوه وروستي يې زياتره وخت د يفتليانو تر لاس لاندې او په دې ډول حتی د ايرانشهر له واکمنی نه دباندې و [۲۰] کله کله د ساسانيانو واکمني په بلخ باندې چلېده، خو د عربانو د يرغلونو په وخت کې هلته لا هم کوشاني-باختري ژبه ليکل کېده په همدغه وخت کې و، چې فارسي په بلخ کې ننوتله دا چې هرات د کوم مرزبان له خوا اداره کېده، يقيني نه ده او د خرداد بهه روايت چې ټول خراسان د ساسانيانو په دوره کې د يوه اسپاهبد يا سپاهبد (Spahbad) له خوا اداره کېده او هغه څلور مرزبانان تر لاس لاندې لرل، په کومې بلې منبع کې ويل شوي نه دي په عمومي ډول معلومه نه ده، چې د عربانو د راتګ په وخت کې څومره سيمې د ساسانيانو او څومره د محلي واکمنو او په خاص ډول د يفتليانو په لاس وې [۲۱] د ايراني مطالعو متخصص پور تنی وينا د مير غلام محمد غبار دغه وينا له اعتبار نه غورزوي، چې وايي کلمه خراسان و خراسانيان دوره اسلامی از قرون اوليه هجري تا اين اواخر در جای اسم اريانا و اريانای قديم و افغانستان و افغان امروز مستعمل و در السنه و اثار مذکور و مسطور بوده است [۲۲].

عربان د مرو له لاندې کولو نه وروسته هلته له ځايي خلکو نه ډېر او ورسره ګډ شول او له دغه ځای نه يې د

بخارا، سمرقند یا پخوانی سغدیانې د لاندې کولو په مقصد یرغلونه کول او له هر یرغل نه وروسته به بېرته مرو ته تلل او دغه کار دېر کلونه ونیول دا په ۷۳۷م کې یانې د خراسان د نامه له لومړی یادونې نه څه کم پينځه پېړۍ او د حضرت محمد ص له وفات نه یوه پېړۍ وروسته و، چې والي اسد بن عبدالله د سمرقند پاچا غورک له مړینې نه وروسته خپله پلازمېنه له مرو نه بلخ ته نقل کړه [۲۳] سره له دې هم عربانو د نن ورځې ټول افغانستان لاندې کولی ونه شو دوی لا دمخه د اوومې پېړۍ په اخر کې په سیستان کې د زنبیل پاچا له لاسه سخته ماتې خوړلې وه په ۶۹۸ کې په یوې نښتې کې د قوماندان عبیدالله له شل زریز پوځ نه یوازې پينځه زره سرتېري بست ته ژوندي په شا شول د عراق او ختیځ والي حجاج بن یوسف خلیفه عبدالملک ته په دې اړه خبر ورکړ، چې د امیر المومنین پوځ په سیستان کې له مصیبت سره مخ شو او یوازې یو څو په تښتېدلو بریالی شوی دی دښمن د مسلمانانو په برابر کې په دغه بري سره زړور شوی او په ملکو کې یې ننوتلي او ټول جنګي حصارونه او قصرونه یې نیولي دي [۲۴]

دغه پېښه دغومره مهمه ثابته شوه، چې د مؤلف کنیدي په نظر په سهیلي افغانستان کې د مسلمانانو د پوځ ناکامي په ایران کې فتوحاتو ته د پای ټکی

کنبښود [۲۵] له ایران نه مطلب دلته اریانه او په مشخص ډول سیستان دی سره له دې هم عربي قومندانانو له بلخ نه یو وخت بل وخت یرغلونه کول په دغه وخت کې ډېرې سیمې خپلواکې یا نیمه خپلواکې وې، لکه هریوا، تخار، سیستان، زابل او غور عربانو په دغه وخت کې له امو نه پورته سیمې د ماوراوالنهر په نامه یادولې، خو دا د ځایي کورنیو د واکمنۍ او په خاص ډ.ل د سفاریانو او غزنویانو په وخت کې و. چې په ټول خراسان یا د خراسان په ډېرو برخو کې یوه کورنۍ د واکمنې کورنۍ په شان هسکه شوه او لوړ واکمن یې د عباسي خلیفه ګانو له خوا په رسمي ډول د خراسان والي وپېژندل شول، خو د طاهریانو، صفاریانو، سامانیانو، سلجوقیانو، غزنویانو او غوریانو د حاکمیت سیمې سره ډېرې متفاوتې وې او مرو د پخوا په شان اصلي خراسان ګڼل کېده، لکه چې غبار د ګردېزي له قول نه لیکي، چې چون امیر محمود اغزنوي! رحمت الله از فتح مرو فارغ شد و امیر خراسان شد و به بلخ آمد [۲۶] بله دا چې دغه لوړې واکمنې کورنۍ هغومره، چې په خپلو نومونو یادېدلې، د خراسان په نامه نه یادېدلې دا هم د یادولو وړ ده، چې هېڅ مؤلف او په واقع کې هېڅ منبع د خراسان حد او حدود ثبت کړي نه دي دا به له دې امله و، چې د خراسان حدود تل په تغییر کې وو او وروستۍ واکمنې کورنۍ تر پخوانیو نه لا

ډېرې د هغو د مؤسسانو په نومونو يادې شوي ، نه د خراسان په نامه لکه تيموري ، بابري ، شيباني او صفوي غبار په خپل کتابګوټي کې د خراسان نوم د ليکوالو او شاعرانو له قول نه ډېر ياد کړی ، بې له دې چې هغه يې په يوه ټاکلي هېواد کې سياسي واحد بشوولی وي د خراسان نوم هغومره چې شاعرانو او د ژبې مينانو ياد کړی ، واکمنو او نظاميانو نه دی ياد کړی هغه لا غبار او نورو ته دغومره په زړه پورې نوم دی ، چې دوی په دې اړه چوپ دي چې اريانه کله ترک شوه او خراسان څه وخت د هغې پوره ځای ونيوه په هر حال ، خراسان اوس بېرته د هغه لومړنۍ سيمې يوې وړې برخې طوس او نيشاپور ته ويل کېږي ، چې د ايران يو ولايت دی

## افغانستان:

افغانستان له افغان او ستان نه جوړ ترکيبي نوم دی ، په مانا د افغان هېواد ، لکه چې دمخه ويل شوي افغان هم يو ترکيبي نوم دی ، چې له ابګان او اسواکانه يې تحول کړی دی افغان په پهلوي يا منځنۍ پاړسو کې د ابګان او په سانسکرت کې د اسواکا يا اسوه غانه په نامه د پښتنو لپاره په کار شوی په داسې حال کې چې پښتنو ځانونه پښتانه يا پختانه بلل او خپل هېواد يې د پښتونخوا په نامه يادوه دا ډېر وروسته و چې دوی هم د افغان نوم د

ځان لپاره ومنه ددغه تحول تر څنګه یوه بله پروسه هم روانه وه او هغه دا چې د افغانستان اوسېدونکي د مذهب، قوم، ژبې، جنس او اجتماعي دریځ له توپیر نه پرته د افغان په نامه یاد شول، په داسې حال کې چې هر یوه خپل قومي هویت هم وساته اساسي دا ده، چې په دغه تحول سره ملي هویت، قومي هویت عوض نه کړ او ملي هویت د ټولو قومونو له پاسه دغسې یو چتر شو، چې د افغانستان ټول قومونه او ټول وګړي به د هغه په سوري کې سره ګډ ژوند کوي د پېژندګلوۍ دغه تحول د افغانستان په ټولو اساسي قانونو کې هم ثبت شو او افغانان د قانون او خلکو په نظر سره برابر وګڼل شول او په دې ډول د مدني ټولنې د واقعي کېدلو لپاره بنسټ کېښېښودل شو

دا چې د افغانستان نوم د لومړي ځل لپاره چا او څه وخت کارولی دی، معلومه نه ده سیفي هروي شاید لومړنی مؤلف وي، چې په خپل اثر (تاریخنامه هرات) کې یې ۳۴ کرته د هېواد په مفهوم یاد کړی دی دا چې افغانستان د هرات د یوه لیکوال یانې سیفي په قلم دغومره ډېر یاد شوی دی، مانا یې دا کېږي چې دغه نوم له پخوا نه موجود او دده په وخت کې عام و سیفي خپل دغه اثر د ۱۳۲۱ او ۱۳۲۹ کلونو په مېنځ کې تکمیل کړی دی دا د مغولي ایل خانیانو د واکمنۍ ۱۲۵۶-

۱۳۵۳ وخت و او په هرات کې ملک غیاث الدین حاکم و. چې د کرت په نامه کورنۍ یې په کال ۱۲۴۵ کې واکمنۍ ته رسېدلې وه سیفي، چې په اصل کې د غور او په هرات کې پیدا شوی و، په دې مامور شو چې د هرات تاریخ د مغولو له تاړاکونو نه وروسته ولیکي ددغه مقصد لپاره د ملک غیاث الدین په دستور رسمي پاڼې او سندونه ور ته ورکړل شوي وو [۲۷] دا چې دا یو ډېر مهم اثر دی له دې امله دې چې هم یې سرچینې لومړنۍ دي او هم یې لیکونکی عالم و

سیفي د دیارلسمې پېړۍ په سر کې یاني د چنګېز خان د تاړاکونو په وخت کې د افغانستان نوم یادوي او وایي، چې از حدود خراسان و نواحی جبال ترکستان و شبورغان تا افغانستان قرب پنجاه هزار مرد از پیاده و سوار بهرات امدند [۲۸]

مؤلف زمچي اسفزاري هم افغانستان د یوه بېل هېواد په ډول یادوي او وایي، چې محمد خدابنده الجایتو ۱۳۰۴ ۱۳۱۷ امر وکړ، چې کشور هرات با ولایات آن از دریای آمو تا شرقی ترین نقطه افغانستان به وی اغیاث الدین ا داده شود [۲۹] داسې ښکاري چې د سیفي او اسفزاري دغه افغانستان جلا او خپلواک هېواد و او د ځایي واکمنو له خوا اداره کېده د سیفي له اثر نه دا هم څرګنده ده، چې دغه ځایي واکمنان په ټینګو او لوړو

حصارونو کې اوسېدل او د ساجي په نامه حصار يې دغومره لوی و، چې در انجا هزار مرد افغان جلد مبارز متوطن است و از عهد يزد جرد تا امروز هيچ بادشاه و ملک و حاکم را گردن ننهاده اند[۳۰] په نورو حصارونو کې ان تر دوه زره سواره سر تېري هم ځای پر ځای وو سيفي د افغان دغه محلي واکمنان د واليانو په نامه يادوي، لکه سندان د سندان ولايت والي، د مستنګ اننني کويټه؟) واکمن تر ټولو مهم و داسې هم جمال الدين محمد سام افغان د غور ولايت والي دغومره مهم واکمن تېر شوی و، چې سيفي د سام نامه تر عنوان لاندې يوه مثنوي هم ويلې وه

د افغانستان دغه محلي واکمنان، چې د چنګېز خان له تاړاکونو نه وروسته هم خپلواک وو، په ځوارلسمې پېړۍ کې د کرتانو په وخت کې تابع وګرځول شول او سيفي دغه پېښې په څو فصلونو کې بيان کړي دي له دغو محلي واکمنو نه ميران شاه دغومره مهم و، چې د سيفي په ژبه

هژده سال ميران شاه در افغانستان و حدود هندوستان لشکر کشی کرده بود، چند قلاع و حصون را بدست آورده بود و بمردی و مردانگی و غايت شوکت در روز نبرد با دويست مرد نامدار مقابله کردي ميران شاه د جنګ په ميدان کې لاندې شوی نه و، هغه وروسته له هغه له منځه يووړل شو چې د مقابل لوري په موافقه او وعده له جنګ

نه لاس اخیستی او په خپل پوځ سره دننه په یوې کلا کې ځای پر ځای و او هلته نابېره پرې حمله وشوه بیا نو د سیفي په ژبه ملک اسلام شمس الحق والدین از آن فتح مبتهج گشت و بدان واسطه که دایم از جانب میران شاه متردد بودی و گفتي که در این حدود مردی معتبر تر و دلاور تر از میران شاه نیست [۳۰الف] خو سیفي نه د میران شاه ولایت او نه د افغانستان هېواد مشخص کړی دی افغانستان یې د ختیځ په لور د اباسین تر حده پورې هېواد ښوولی، چې هغه د کسي یا سلیمان غرونو سمسورې درې کېږي، چې له کندهار، قلات او غزني نه د ختیځ په لور تر اباسین پورې غزېدلی او پېښور او کویټه یا مستنګ یې مهم ښارګوټي وو دا هغه سیمه یا هېواد دی، چې لر او بر د هېرودوت له پکتیک، ګندهارا او د پښتنو له پښتونخوا او روه سره مطابقت لري او پښتانه یکې له پخوا زمانې نه اباد شوي او کوچیان یې یکې تراوسه هم کوچي توب کوي په همدغه وخت کې و، چې د دوی دغه هېواد د نورو له خوا د جبال الافغانیه او حد افغانستان په نامه هم یاد شوی دی [۳۱] پښتانه دلته پخوا هم اوسېدل، خو د چنګېز خان په تاړاکونو سره د نورو او هوارو سیمو ډېرو پښتنو هم دغې سیمې ته مخه وکړه په وروستیو مهالونو که له دوی نه ډېر بېر ته د لویدیځ په لور وکوچېدل او په کندهار، فراه او هرات کې مېشته شول او

دولتونه یې جوړ کړل

مهمه دا ده، چې د سیفي افغانستان وروسته د نورو په لیکنو کې هم لږ و ډېر په هماغه حدود کې یاد شوی دی په پېنځلسمې پېړۍ کې افغانستان د امیر تیمور په ملفوظاتو کې هم لږ و ډېر په هماغه حدود کې یاد شوی دی او افغانستان له خراسان، سیستان او کندهار نه بېل ښوول شوی، خو دغه اثر د هارورډ پوهنتون تاریخپوه جوسف فلیچر په وینا جعلي دی لکه چې دمخه یې یادونه شوې زمچي اسفزاري په شپاړسمې پېړۍ کې افغانستان په همدغه حدود کې ښوولی دی بابر شاه هم په خپل بابرنامه کې کله چې کابل یادوي، افغانستان د هغه په جنوب کې ښیي او ختیځ حد یې تر پېښور پورې رسوي، خو له هغه نه وروسته د اسفزاري نه غېر د افغانستان نوم په نظر نه راځي دلیل یې شاید دا وي، چې د بابري یا د هند د مغولي امپراتورۍ (۱۵۲۶-۱۸۵۸) په هسکېدلو سره د هغه وخت افغانستان په هند کې ونیول شو او له یاده وایستل شو، په تېره هغه وخت چې بایزید انصاري (۱۵۲۵_۱۵۸۱) د پیر روښان په نامه د مغولو د لاس بري په برابر کې یوه ټینګه او اوږده مبارزه پیل کړه او زامنو او لمسیانو یې په پوره قوت ور ته دوام ورکړ د روښان کورنۍ هغومره، چې د خپلواکۍ په لار کې قرباني ورکړي، شاید په نړۍ کې بلې کورنۍ هغومره

قربانۍ نه وي ورکړي وړ پسې ایمل خان مومند، خوشال خټک هم د هغو په شان یوسفزي، مومند، اپریدي او نور قومونه د مغولو په برابر کې جګ کړل دوی ټولو د خپلواکۍ دغه غورځنګ د نیمې پیړۍ په بهیر کې نه یوازې ژوندی وساته، بلکې پرمخ یې هم بوته چې د هغو له امله مغولي امپراتور اورنګزیب ځان مجبور ولید پښتني قومونو ته داخلي واکمني ومني او په خاص ډول د خیبر قومونو ته ډول ډول امتیازونه ومني او په هغو سره دغه غورځنګ بې اثر او ناکام کړي، خو دغه غورځنګ له سیاسي ناکامۍ سره اساسي پایلې لري، چې غټه پایله یې په رسمي ډول پښتني قومونو ته د داخلي خپلواکۍ منل او په پښتنو کې د خپلواکۍ د شعور قوي کېدل و [۳۲]

په دغې دورې کې که د افغانستان نوم نه دی یاد شوی، یا لږ یاد شوی د هغه پرعکس د افغان نوم چې د افغانستان زړی جوړوي، ډېر یاد شوی دی په عین حال کې د پښتون نوم له قومي سطحې نه د قومونو یا ملي سطحې ته هسک شوی او عام شوی، خو په عمومي ډول دغه دوره د افغانانو لپاره د انحطاط دوره وه په دغې اوږدې مودې کې نه یوازې د افغانستان نوم شاته غورزول شوی، د پښتونخوا او روه نومونه هم لږ یادېدل دا به ځکه دغسې و، چې د ختیځ او لویدیځ ټول پښتني قومونه له خپلو نورو وطنوالو سره د باندنیو تر لاس لاندې وو دغه

وضع د شپاړسمې پېړۍ په سر کې د مغولي ، صفوي او شيباني امپراتوريو په هسکېدلو سره پيدا شوې وه . په دې ډول ، چې له اباسين نه تر مقر پورې سيمې د مغولي صوبه دارانو واليانو ، کندهار ، فراه ، سيستان او هرات د صفوي بېګلربيګي ګانو واليانو او له هندوکش نه پورته سيمې د محلي واکمنو يا شيباني ازبکانو تر حاکميت لاندې شوې وې

په دغې دورې کې چې له يوې پېړۍ نه ډېره اوږده وه ، افغانان او نور قومونه چې د بېرونيو تر لاس لاندې شوي وو ، په وېشل شوي افغانستان کې له ګډ سياسي ژوند کولو نه هم محروم شوي وو په دغه حال سره له دوی نه په واقع کې مظلوم ، بېواکه ، نيمګړي ، بې ارزښته او تابع انسانان جوړ شوي وو چا چې دغه ډېر ښکنته انساني حال ختم کړ ، هغه ميرويس هوتک و چې په خپل پاخه تدبير او ټينګ عزم يې د کندهار ، فراه ، پښين او کوټې خلک پوره خپلواک کړل ستر ميرويس دغه ستر بری د قومي جرګې له لارې تر سره کړ ، په دې ډول چې د هغه په خورا اغېزمنې سروالۍ سره د کندهار په مانجه نومي کلي کې يو شمېر قومي او روحاني مشرانو د افغانانو ددغې انساني نيمګړتيا د رفع لپاره هلته په پټه يو تجويز ونيوه او ميرويس بيا هغه په ډراماتيک ډول عملي کړ او په کال ۱۷۰۹ کې د صفوي امپراتورۍ له ملکي او نظامي

کسانو نه ځینې د مقاومت په حال کې له مېنځه یووړل او نور یې له کندهار نه په وتلو مجبور کړل له میرویس نه برسېره د مانجې د جرګې قومي او روحاني مشران دا وو سیدال ناصر، بابو جان بابړ، بهادر خان اندړ، ملا پیر محمد میا جي، عزیز خان نورزی، یوسف خان هوتک، ګل خان بابړ، نور خان برېڅ، نور خان الکوزی، یحیی خان هوتک، حاجي نور محمد هوتک او محمد یونس کاکړ [۳۳]، خو په دغه غټ بري سره ټول وطن خپلواک نه شو، د ټول وطن یا له امو نه تر اباسین پورې هېواد خپلواکي د کندهار د شېر سرخ جرګې نتیجه وه، چې ګډون کوونکو مشرانو یې په کال ۱۷۴۷ کې یو ډېر وړ کس احمد خان سدوزی د خپل مشر په حیث غوره کړ ددې لپاره، چې ټول هېواد او ټول افغانان خپلواک او وطن تنظیم کړي جرګه وال دغه قومي مشران وو حاجي جمال خان بارکزی، محبت خان پوپل زی، موسی خان اسحق زی، نور محمد خان الیزی، نصرالله خان نورزی او نور [۳۴] هغسې چې میرویس هوتک چې وروسته په میرویس نیکه یاد شو، د مانجې جرګې تجویز په پوره بري سره عملي کړ، داسې هم احمد خان سدوزي، چې وروسته په احمد شاه دراني او احمد شاه بابا یاد شو، د شېر سرخ جرګې تجویز عملي کړ، اول یې له کندهار نه تر اټک پورې سیمه یانې د پښتنو لرغونی هېواد چې د

سیفي لـه وخـت نـه وروسـته افغـان نومېـده، د مغـولي صـوبه دارانو له حاکمیت نه وژغوره

البتـه د روښـانیانو، ایمـل خـان مومنـد او خوشـال خټـک مبـارزو دمخـه ددغـه افغانسـتان خلـک یـوه ژغـورونکي تـه سترګې پـه لار کـړي وو احمـد شاه دوی تـه دغـه ژغـورونکی شـو او هغـه هـم د هغـو پـه مرسـته مغـولي حاکمـان لـه افغانسـتان نـه پـه اسانۍ سره وشړل پـه تـاریخ کې بـل هېڅ فـاتح لـه کنـدهار نـه تـر اټـک پـورې بانـدني حاکمـان، هغـه هـم د یـوې امپراتورۍ حاکمـان، بې لـه جنـګ نـه یـوازې پـه یوه لنډ نظامي سفر سره نه و ایستلي، لکـه ستر احمد شاه چـې وایسـتل یـوازې دا هـم نـه و، احمـد شـاه او صـدراعظم یـې شـاه ولیخـان پـه لـږه مـوده کـې شـبرغان، بلـخ، کنـدوز، بدخشـان، فـراه او هـرات هـم ترلاسـه کـړل او پـه دې ډول لـه آمـو نـه تـر اباسین پـورې خـاورې نـه د پکتیـا پـه ګـډون، یـو مـوټی هېـواد جـوړ کـړ او د یـوه مرکـزي حکومـت تـر اداري لانـدې یـې راوسـت داسـې هـم احمـد شـاه وروسـته د پنجـاب، کشـمیر، سـند، بلوچسـتان، دهلـي او د فارسـي خراسـان پـه لانـدې کولـو سـره د لرغـوني افغانسـتان د نـورو فاتحـانو پـه شـان، یـوه امپراتـوري جـوړه کـړه، چـې پـه دراني امپراتورۍ یـاده شـوه پـه دې ډول سـتر احمـد شـاه د معاصـر افغانسـتان سـر مؤسـس، د مـانجې او شـېر سـرخ جرګـو غـړی او پـه خـاص ډول میـرویس نیکـه د هغـه لیـرې

مؤسسان او میا روښان . ایمل خان مومند او لوی خوشال خټک د هغه لومړني مخکښان کېږي

خو د احمد شاه د لمسیانو په واکمنۍ کې په پارس کې د قاجار کورنۍ او په پنجاب کې د رنجیت سنګهه په واکمن کېدلو سره اول د احمد شاه امپراتوري له منځه لاړه او بیا د محمدزي سردارانو په واکمنۍ او جګړو کې په خپله افغانستان په عمل او واقع کې درې ټوټې شو او پېښور چې د افغان واکمنو د ژمي پلازمېنه وه، په پای کې د رنجیت سنګهه لاس ته ورغی یوازې دا هم نه و، د منځنۍ اسیا په بره برخه کې د نولسمې پېړۍ په درېیمې لسیزې کې د تزاري روسیې امپراتورې په مسلط کېدلو سره او تر مرکزي هند پورې د ختیځ هند کمپنۍ په لاس بر کېدلو سره په خپله افغانستان ته اساسي خطر متوجه شو وروستۍ د سوداګرۍ خو په واقع کې یوه انګرېزي کمپنۍ وه، چې د برتانیې امپراتوري یې شاته ولاړه وه ددغو دوو رقیبو امپراتوریو د دسیسو نتیجه په افغانستان باندې په کال ۱۸۳۸ کې په ظاهر کې ددغې کمپنۍ خو په واقع کې د انګرېزانو نظامي یرغل و، چې د یوه شړل شوي سدوزي پاچا شاه شجاع ختیځ هند کمپنۍ پرې لاس پورې کړ دا هغه وخت و، چې د محمدزي کورنۍ مؤسس امیر دوست محمد د افغانستان د بېر ته یو موټي کولو حرکت شروع کړی و . خو یرغلګر پوځ دلته په

دغسې مصیبت واوښت چې د امپراتورۍ په بلې برخې کې په دغسې مصیبت نه و لتاړ شوی هند ته د جبري بېرته تګ په وخت کې د کابل له شپاړس نیم زره پوځ او هندي نوکرانو نه یې یوازې د ویلیم براېډن یو جراح په نیم ژواندي ځان جلال آباد ته ورسېد او نور یې په سره او ترخه ژمي کې د کابل ګندمک د پخوانۍ لار په اوږدو کې د غازي وزیر محمد اکبر په مشرۍ د افغانانو له خوا له ژوند نه محروم شول او لږ و ډېر درې سوه تنه یې یرغمل ونیول شول د افغانانو دغه لاس بری د انګرېزانو د لویې او پراخې امپراتورۍ د یوې برخې په برابر کې د پښتنو او تاجکو د رښتیني ملګر توب او ټینګ مقاومت محصول و د انګرېزانو دغه ماتې د سترې لوبې په مسابقه کې دوی ته له یوه بل اړخ نه هم یوه غټه ناکامي وه، چې له تزاري روسیې سره یې د منځنۍ اسیا د لاندې کولو په مقصد شروع کړې وه د همدغې سترې لوبې او له یرغملو او بندي انګرېزانو سره د افغانانو د ښه چلند له امله و، چې انګرېزانو په تېره وروسته له هغه چې د ختیځ هند کمپنۍ یې حکومتي کړه، په افغانستان کې د خپلې بې ساري ماتې سره سره له امیر دوست محمد سره چې د دویم ځل لپاره په ۱۸۴۳ کې واکمن شوی و، د افغانستان په بېرته یو موټي کولو کې د پیسو او وسلو مرستې وکړې امیر دوست چې دا وخت ډېر ملکونه لیدلي او په سیاست کې

د تجربو خاوند شوی و ، د چين د متفکر ، کنفيوس ددغې وينا له مخې چې د عقل خاوند خپل هدفونه بې له تشدد نه ترلاسه کوي عمل وکړ او ياغي کندهار او هرات يې د نظامي زور له استعمال نه پرته په زياته اندازه په تدبير سره له مرکزي حکومت سره بېرته يوځای کړل او د خپلې مړينې په وخت (۱۸۶۳) کې يې له پېښور نه پرته يو موټی او خپلواک افغانستان په ميراث پرېښود ، خو څلوېښت کاله وروسته په ۱۸۷۸ کې د برتانوي هند لوړ واکمن (وايسرای) لارډ لېټن په لندن کې د برتانيې حکومت په دستور چې په دغه وخت کې د امپراتوري پال ټوري (محافظه کار) ګوند په لاس کې و، په داسې حال کې چې تزاري روسيې د بخارا په نيولو سره د (افغانستان پولې ته ځان رسولی او د افغانستان له پاچا امير شېر علي سره يې ليکونه مبادله کول او يو نظامي هئيت يې هم پرې تحميل کړی و، په افغانستان باندې نظامي يرغل وکړ د همدغه جنګ په بهير کې و، چې د افغانستان نيمه عصري حکومت له منځه لاړ ، منظم وسله وال پوځ يې تيت او په خپله امير وفات شو او د انګرېزانو سياسي استازی لويې کوګناري د خپل نظامي پوځ په قوت د هغه په زوی او ځای ناستي امير محمد يعقوب باندې د ۱۸۷۹ کال د مې په ۲۶مه د ګندمک معاهدې په تحميل سره ځينې مهم سرحدي ځايونه لکه خيبر ،

پښین او سبي له افغانستان نه بېل کړل او په هند پورې وتړل د افغانستان د باندني سياست چلول يې هم د هند بر تانوي حکومت ته منحصر کړ سره له دې هم يا له همدې امله و، چې انګرېزي پوځ د افغانستان په لاندې کولو کې پاتې راغی او په داسې حال کې چې د کوګناري او ملګرو له وژل کېدلو نه وروسته امير محمد يعقوب هند ته تبعيد شوی و، د کابل په سيمه کې د پښتنو او تاجکو په پرله پسې او ټينګ مقاومت سره د جنرال محمد جان وردګ، مير بچه کوهدامني، جنرال غلام حيدر څرخي او د نورو په مشرۍ ناکام کړل د انګرېز پوځ غټه او غوڅه ماته د ۱۸۸۰ کال د جولای په ۲۷مه د کندهار د ميوند په وچ او هوار ميدان کې پېښه شوه هلته افغان طالبانو، قومي خلکو او د هرات پوځ چې زياتره له غلزيانو نه جوړ و، د غازي محمد ايوب په قومندانۍ انګرېزي منظم پوځ ته د دواړو خواوو د ډېرو انسانانو په قيمت سره غوڅه ماتې ورکړه که څه هم انګرېزي پوځ د عصري ټوپکو او توپونو خاوند و بيا په لندن کې د بر تانيې نوی لبرال حکومت د ګليډسټن په مشرۍ، چې له افغانستان څخه يې د پوځ ايستلو پرېکړه دمخه کړې وه، خپل ټول پوځ له افغانستان څخه وايست او د امير عبدالرحمن واکمنې يې چې ګڼ شمېر افغانانو د چاريکار په ښار کې د جولايي مياشتې په شلمه منلې وه، په رسمي ډول وپېژندله هغه

یوازینی امتیاز چې دوی له څه کم دوه کلونو جنګ نه وروسته ترلاسه کړ . د افغانستان د باندنیو اړیکو د چلولو انحصار و د امیر عبدالرحمن واکمني افغانانو او افغانستان ته یوه نوې دوره شوه دده واکمني چې یوویشت کاله اوږده وه ، دوه ځانګړ تیاوې لري چې اثرونه یې تراوسه هم محسوس دي لومړی ځانګړ تیا یې ما پخوا په یوه اثر کې په لاندې ډول خلاصه کړې ده

امیر عبدالرحمن خان تشکیل یک اردوی دایمی و عصری را بحیث یک وسیله موثر و قوی بمنظور دفاع از خاک ، استرداد مناطق از دست رفته استقرار و استحکام دولت و سلطنت خاندانی حتمی دانست تا اواخر سلطنت یک اردوی بزرگ دایمی تقریبا صد هزار مجهز به اسلحه عصری بشمول توپ های ثقیل و تفنگ ها به سویه کشورهای عصری جهان تکمیل کرد و کوشید تمام افراد ذکور مستعد به حمل سلاح را تربیه نظامی داده با توزیع تفنگ ها با انها یک ملت مسلح را تشکیل دهد

برای اولین بار در افغانستان سه سپاه سالار بقیادت لشکرهای بزرگ در سه منطقه سرحدی ستراتیجیکی کشور یعنی هرات ، ترکستان و ننگرهار با اختیارات وسیع در امور ملکی و نظامی بحیث وایسرای امیر مقیم ساخته شدند افغانستان بلحاظ نظامی بسیار قوی گردید و اگر روسیه و انگلیس افغانستان را محاط نمیکردند ،

امیر عبدالرحمن شاید مناطق از دست رفته را بدست می آورد و امپراتوری سابق درانی را احیا میکرد چون این نتوانست باستحکام قدرت در داخل پرداخت و در زمینه بکارهای موفق شد که حکمرانان سابق افغانستان از انجام آنها عاجز مانده بودند پروگرام وسیع نظامی را که امیر در پیش گرفت بقول خود امیر تقریباً ۷۸ فیصد عواید دولت بان تخصص داده شده بود ، از درک مالیات ها ، محصولات گمرکی وغیره که مستقیماً توسط یک بیوروکراسی وسیع و بعضاً از راه اجاره حصول میشد و همچنان از عواید خارجی که بنام معاش یا میر داده میشد ، تحویل میگردید برای اولین بار در تاریخ افغانستان مالیات های زمین بصورت بیسابقه زیاد شد بحدیکه از زمین هائیکه بوسیله نهرها ابیاری میشد ، ۳۳ فیصد حاصلات آن را دولت بخود اختصاص داد مزید بر آن دولت اقلام عمده تجارتی را هم در انحصار درآورد و با این کار خود تصدی های دولتی را اساس گذاشت

تعمیل این پروگرام نظامی و مالی و انحصار و تمرکز قدرت سیاسی سبب ظهور بیش تر از ۴۰ قیام در سراسر کشور شد ولی تمام آنها بکومک قوه نظامی وایله جاری قومی منکوب گردید با آنهم حکومت نظامی نبود و شخص نهایت پرکار امیر بحیث یک سلطان مطلق العنان قدرت عالیه را از راه قوه اجرائیه مخصوصاً قوه های

ACKU

نظامی و امنیتی و با ایجاد یک شبکه بسیار وسیع جاسوسی بخود اختصاص داد

امیر هیئت وزرا و صدراعظم نداشت ، آمر آن وزارت خانه ها بشمول والیان ولایات مامورینی بیش نبودند بزرگان قومی و روحانیون اختیارات عنعنوی را از دست دادند و در جمله اعضای نیمه رسمی دولت درآمدند عمال و مامورین دولت بحمایه قوای نظامی وامنی که در قسمت های مختلف کشور مقیم ساخته شدند برای اولین بار مستقیما در سراسر کشور باداره پرداختند مخالفین اگرچه در دوره های سابق هم نابود میشدند ، ولی در این دوره از بین بردن مخالفین بطور وسیع عملاً جزء سیاست رسمی قرار گرفت و دولتی را که امیر عبدالرحمن تنظیم نمود ، بر تشدد و قوت متکی بود ازادی فرد در برابر جامعه بی ارزش ساخته شد ، فرد صرف در داخل جامعه حق زندگی داشت و موظف بود در وقت لزوم حیات خود را فدای جامعه نماید با انهم قاضیان شریعت استقلال عنعنی خود را حفظ کردند در نتیجه این اقدامات نظم و نسق مخصوصاً در سال های اخیر سلطنت امیر در سراسر کشور تامین شد

در عین حال برای عصری شدن کشور بکومک متخصصان مستخدم اروپایی منجمله انگلیسی در ساحات تخنیک ، طب و کارخانه نظامی قدم های اولی

برداشته شد، ولی معارف بحال آبتدایي و عنعنی باقیماند افغانستان در عهد امیر عبدالرحمن تا حدی برای عصری شدن اماده شد ولی در عین حال در این دوره ضدیت بین افراد و حکومت بصورت بیسابقه حاد گردید و این یک بعد جدیدی در تاریخ سیاسی افغانستان علاوه نمود [۳۵]

## د افغانستان د پولو ټاکنه:

د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ بله مهمه ځانګړتیا د افغانستان د پولو ټاکلو بشپړېدل دي په دې اړه باید وویل شي، چې د افغانستان د پولو بېلې برخې په بېلو وختونو کې د برتانوي هند حکومتي مامورانو، د تزاري روسي، ایران او افغانستان له مامورانو سره په ګډه ټاکلې دي په دې ډول دغه ټاکنې بین المللي ماهیت لري او په دغه کار کې په اوله درجه د برتانوي امپراتورۍ ګټې په نظر کې نیول شوي دي او افغانستان تاوان کړی دی د ډیورنډ په توافق لیک سره لا اصلي افغانستان له اوسني افغانستان څخه دباندې بېول شوی و، چې هغه اوس د پاکستان په حدودو کې دننه شمېرل کېږي په ټولیز ډول د پولو په دغو ټاکنو سره افغانستان تر پخوا نه کوچنی شو، خو له بلې خوا همدغه ټاکنې دي چې افغانستان یې د یوه هېواد په توګه مشخص او تثبیت کړ

او د نړۍ نورو هېوادونو او بين المللي مؤسسو هغه په رسمي ډول پېژندلی دی او اړیکي يې ورسره ټينګ کړي دي خو د افغانستان د پولو دغه ټاکنې د اصلي سرچينو او پاڼو له مخې تراوسه په کوم اثر کې بيان شوي نه دي، نو د هغو دقيق بيان کېدلی نه شي دلته به يې اساسي کرښې په لنډ ډول وښودلی شي

د افغانستان هغه پوله، چې اول ټاکل شوې وه هغه د بخارا او افغانستان ترمېنځ د بين المللي پولې په شان د امو سين منل دي د آمو سين چې د طبيعي پولې په شان دی، د اول ځل لپاره احمد شاه او د بخارا امير د دوی دواړه هېوادونو ترمېنځ د بين المللي پولې په شان منلی وو، خو د امير شېر علي د دويمې واکمنۍ په وخت کې دغه پوله په پيټرسبرګ کې د روسي حکومت او په لندن کې د برتانيې حکومت له خوا په رسمي ډول ومنل شوه دا وروسته له هغه و، چې امير شېر علي همدا چې د دويم ځل لپاره د ۱۸۶۸ کال په اکتوبر کې د واک په ګدی کښېناست، د بل کال په پيل کې يې هند ته د يوه رسمي سفر په ترڅ کې وايسرای لارډ مايو ته په منځنۍ اسيا کې د روسيې د وړاندې تګ له امله د افغانستان په اړه انديښنه وښووله لکه چې دمخه ويل شوي، روسيې په منځنۍ اسيا کې د وړاندې تګ په لړ کې په ۱۸۶۸ کې بخارا لاندې کړې او افغانستان ته يې خطر پېښ کړی و

د هند وايسراى په دې اړه په خپله څه ونکړل. خو په لندن کې يې خپل حکومت د امير له انديښنې نه خبر کړ لندن بيا په دې هکله له پيټرسبرګ سره د ليکونو مبادله پيل کړه، د ليکونو دغې مبادلې څو کاله په اوږدو وقفو کې دوام وکړ، ترڅو په پاى کې په کال ۱۸۷۳ کې د دوى د حکومتونو تـــرمنځ يـــو ډول پوهـــاوى Understanding راغى چې د هغه له مخې روسيې له امو سين سره د کوکچې سين له يوځاى کېدلو نه وروسته تر خوجه صالح پورې او بيا له هغه ځاى نه د پارس تر پولې پورې د افغانستان شمالي پوله ومنله په دې ډول، چې د بدخشان، ترکستان، هرات، اندخوى او ميمنې ولايتونه به دننه په افغانستان کې شامل وي روسانو اول بدخشان او واخان د امير شېر علي ياني د افغانستان سيمې نه ګڼلې، خو بيا د انګريزانو په ټينګار له خپلې ادعا نه تېر شول [۳۶] په دې ډول د افغانستان د شمالي پولې ټاکنه د روسي او برتانوي حکومتونو تــرمنځ د يــوې پوهــاوي محصـول و، نـه د کـومې ليکـل شـوې مـوافقې يـا تـړون محصـول، خـو دغـه پوهـاوى دواړو تـه د رسـمي مـوافقې حيثيت لاره سره له دې هم دغه پوهاوى لانجمن شو، ځکه چې له خوجه صالح نه د فارس تر پولې پورې ليکه ناټاکلې پاتې شوه او له کوکچې نه تر پامير پورې سيمه هم په خپل حال پاتې شوه او روسانو بيا له دغه حال نه

ګټه پورته کړه . چې زر به يې بيان وکړم
د لويديځ په لور د سيستان په برخه کې هم د افغانستان پوله ناڅاکلې وه ، چې هغه هم د امير شېر علي په دويمې واکمنۍ کې د انګرېزي هيئت مشر جنرال ګولډ سمد Goldsmid په مينځګړ توب وټاکل شوه سيستان په لرغونې زمانه کې ، لکه چې په تېرو پاڼو کې يې بيان شوی ، د ساکاوو مېنه وه ، ساکا په دغه وخت کې اسحق زي او تر هغه دمخه ساک زي يادېدل سيستان له جغرافيوي نظره د افغانستان خاوره وه او ساکا هم د لرغوني افغانستان خلک وو ، خو پارس د زړې له نظره پر هغه ادعا کوله او د هغه تاريخي افتخارات يې خپل ګڼل سيستان د احمد شاه له وخت نه د افغان واکمنو تر ولکې لاندې و ، خو د امير دوست محمد له مړينې نه وروسته د محمدزي سردارانو په جنګ کې پارس پرې قبضه وکړه دا چې د پارس قبضه د سيستان تر کوم ځای پورې وه ، په دقيق ډول معلومه نه ده ، خو امير شېر علي چې د دويم ځل لپاره واکمن شو ، اراده وکړه چې له سيستان نه د پارسيانو لاس لنډ کړي په دغه وخت کې پارس په سيستان کې له خپل موقف نه نارام و سره له دې هم امير شېر علي د هندوستان د شخص ګورنر جنرال په غوښتنه له نظامي عمل نه ډډه وکړه هندوستان په دې فکر چې د پارس افغان د جنګ شروع به ناوړې اثرونه

ولري او اپه عين حال کې! مايل و، چې د ختيځ په لور د پارس د منظم او تدريجي وړاندې تګ مخه ونيسي، د مينځګړ توب وړانديز وکړ افغانستان او پارس دواړو وروسته له يو څه مذاکرو نه دغه وړانديز ومنه ميجر جنرال ګولډ سمد وګومارل شو، چې د دواړو خواوو مخالفې ادعاګانې سره يخلا کړي ګولډ سمد د دواړو خواوو د ادعاګانو له مطالعې نه وروسته د ۱۸۷۲ په اکتوبر کې خپله فيصله صادره کړه، چې د هغې له مخې دغه سيمه بايد د دواړو خواوو ترميځ ووېشله شي ددغه هېواد بشپرازه برخه چې د خاص سيستان په نامه يادېده او د هلمند د سين کيڼې خوا ته واقع ده، پارس ته او ښي خوا يې افغانستان ته تخصيص شوه هم افغانستان او هم پارس دواړو به په دغې فيصلې اعتراض وکړ او د سيستان فيصله له افغانستان سره تر اوږدې مودې پورې يوه ترخه موضوع پاتې شوه امير شېر علي د ګولډ سمد ددغې فيصلې په سر له انګرېزانو نه بېګانه شو د لارډ ناپير Lord Napier په وينا او نه يوازې شېر علي بلکې ټول افغانان معتقد وو، چې مونږ به هغه څه بېر ته د دوی کړو کوم چې دوی له لاسه ورکړي وو او چې دغسې ونه شول، بيا نو دوی مونږ ته د ضعيف او بې باوره خلکو په شان کتل، چې د دوستۍ په جامه کې د پارس په پلوی يې دوی تاواني کړي دي [۳۷] لانجه د افغانستان او پارس

تـر منځ لا تـوده وه او هغـه د پـرش کالـه وروسـته پـه کـړکیچ بدلـه شـوه دا هغـه وخـت و. چـې د هلمنـد سیـن خپـل تـګ لاره د لویـدیځ پـه لـور اړولـې وه پـارس لـه بر تانویـانو وغوښـتل، چـې دغـه کـړکیچ رفـع کـړي د افغانسـتان پاچـا امیـر حبیـب الله هـم پـه دې اړه د بر تـانیې مینځګړ تـوب ومنـه دا ځـل دغـه ماموریـت د کرنیـل میـک مـاهن McMahon پـه غـاړه شـو او هغـه د ۱۹۰۳ لـه جنـوري نـه وروسـته ددغـې پـولې پـه اړه د افغـان او پـارس استازو پـه ملګر تـوب خپـل نظـر اعـلام کـړ او د ۱۹۰۴ کـال تـر فبـروري پـورې دواړه خـواوو تـه وسـپارلې [۳۸] لـه دغـو فیصـلو سـره سـره یـا د هغـو لـه املـه د سیسـتان د پـولې موضـوع نـوي بعدونـه پیـدا کـړل، چـې د هغـو پـه اړه پـه افغانسـتان کـې د قـانوني پاچـايي پـه لسـیزې او د لـومړی ولسمشـری پـه وخـت کـې پـر هغـې بحثونـه او فیصـلې وشـوې، چـې د هغـو بیان بېل کتاب غواړي

لکـه چـې دمخـه ویـل شـوي د افغانسـتان شـمال لویـدیځ پولـه لـه خوجـه صـالح نـه د پـارس تـر پـولې پـورې نامشخصـه او ناڅـاکلې پـاتې شـوې وه روسـي قوتونـو د امیـر شېر علـي پـه وخـت کـې پـه کـال ۱۸۷۳ کـې خیـوه او پـه ۱۸۷۶ کـې خوقنـد لانـدې کـړي او د خیـوې لـه نیولـو نـه وروسـته د کسپین سیمه یې نظـامي کـړې وه پـه داسـې حـال کـې چـې د منځنـی اسیا نورې سیمې یې د بخـارا پـه ګـډون پـه تېـرې

تسیزي کې لاندې کړي وې په لویدیځې منځنۍ اسیا کې یوازې د ترکمنو پراخه سیمه په خپل حال پاتې وه دغه سیمه هم په دغه وخت کې د روسانو تر خطر لاندې شوه د ترکمنو دغه پراخه سیمه په شمال کې د خیوې، په جنوب کې د افغانستان، په ختیځ کې د بخارا او په لویدیځ کې د کسپین ترمنځ پرته وه، خو له افغانستان سره یې پوله ناټاکلې وه او امیر عبدالرحمن په دغه فکر چې روسیه به د ترکمنو د سیمې له لاندې کولو نه وروسته افغانستان ته هم خطر پیښ کړي، د هند له وایسرای نه چې د افغانستان د باندنیو اړیکو اختیار له هغه سره و، په وار وار وغوښتل چې د افغانستان دغه پوله له روسانو سره مشخصه کړي، خو هغه به ورته داډ ورکاوه چې دغه موضوع په کال ۱۸۷۳ کې حل شوې او له سره نیول به یې مصلحت نه وي امیر چې یوولس کاله په تاشکند او سمرقند کې تېر کړي وو، روسان یې ښه پېژندل، د وایسرای په خبره نه قانع کېده ترڅو چې روسانو د ۱۸۸۴ کال په فبروري کې د مرو تکه ترکمنان هم لاندې کړل او د هرات په اړه هم اندېښنه پیدا شوه هرات په هغه وخت کې د هند ور ګڼل کېده بیا د هند برتانوي حکومت هم د امیر په شان اندېښمن او په دې فکر شو، چې اوس ددې وخت دی چې د افغانستان شمال لویدیځه ناټاکلې پوله هم باید وټاکله شي، خو دا یو پېچلی کار و

د هرات او مرو ترمېنځ پنجده پرته وه. چې پراخې ورشوګانې او دلته او هلته يې لړه کرنيزه ځمکه لرله په پنجده کې د سارق ترکمنو پنځو ځانګو د پوونده توب ژوند کاوه، لويې رمې يې لرلې، ښه شتمن وو او د کبتکاس Kibitkas په نامه په وړو کېږديو کې اوسېدل، چې کولی يې شول په يوې اشارې او چټکۍ سره مېنه بدله کړي دوی په ۱۸۸۲ کې د روسيې د خطر له امله د افغانستان تابعيت او د ماليې په توګه د عشر ورکول منلي وو امير عبدالرحمن بيا د پنجده لپاره حاکم وټاکه او د جنرال غوث الدين په قومندانۍ يې هلته يو نظامي پوځ ځای پر ځای کړ پنجده په اصل کې د هرات برخه وه او د هرات طبيعي پوله د پنجده په شمال کې له سرېازي نه اخوا وه مرو د هرات تابع سيمه وه او د هرات د هغه وخت د والي سعدالدين په وينا د اخل او تکه ترکمنو لويان په کابل کې د امير شېرعلي په دربار کې دېره وو، ځکه چې دوی په اصل کې د هرات تابع وو سارق ترکمنو له هرات سره نږدې اړيکي لرل پخوا د پنجده اوسېدونکي د جمشيدي قوم و، د دوی مېنه ارساري ترکمنو او د ارساري ترکمنو مېنه بيا د نولسمې پېړۍ په نيمايي سارق ترکمنو ونيوله او دوی جمشيديانو تېښته ورکاوه او جمشيديان د هرات تابع ولس وو په دې ډول پنجده له جغرافيوي، قومي او تاريخي پلوه د

هرات برخه وه، چې په دې ډول پنجده د افغانستان برخه کېده له همدې امله و، چې امير عبدالرحمن د يوه مسلمان واکمن په توګه غوښتل د منځنۍ اسيا په دغې برخې کې يو فعال پرمختيايي چلند غوره کړي امير ځکه دغسې فعال سياست ته زړه کړی و، چې دمخه د مرو تکه ترکمنو مشر، مخدوم قلي خان او هم د خوارزم خان ور ته د تابع کېدلو وعده ورکړې وه سره له دې هم امير له دې امله چې د هند وايسرای ور ته ددغه چلند برخلاف مشوره ورکړې وه، د هغه له غوره کولو نه ډډه وکړه يوازې دا هم نه و کله چې روسان په قوت سره پنجده ته نژدې شول، جنرال غوث الدين ته يې هدايت واستوه، چې که روسانو پرې بريد هم وکړ، ورسره مقابله ونه کړي او خپل پوځ بالامرغاب ته په شا کړي د هند د وايسرای له مخالفت نه برسېره د امير ددغه چلند علت دا و، چې پوځ يې د روسانو د پوځ په پرتله ضعيف و او پر هغه برسېره د پنجده په سارق ترکمنو يې هم اعتبار نه درلود او ويل يې، چې سارق ترکمنان به ددې لپاره چې خپله شتمني وساتي، له روسانو سره ملګر توب وکړي

امير په عين حال کې د هغه خطر په برابر کې چې د روسانو له خوا به افغانستان ته هم متوجه شي، د افغانستان د خوندیتوب لپاره د اوږدې مودې يو تجويز

وکړ د هغه په نظر د پنجده د سقوط په حال کې به ددې احتمال لږ وي، چې د افغانستان ښه پېر توب ته تاوان واړوي، خو که افغان پوځ د پنجده په سر له روسانو سره مقابله وکړه او که روسانو هرات او میمنه ونیوله، افغانستان به تجزیه شي البته د هرات په سقوط سره به روسي او انګرېزي پوځونه سره ونښلي، خو د امیر په نظر

په افغان خاوره کې به د روس او انګرېز جنګ په نهایت کې افغانستان برباد کړي او د هغه لوړه ګټه په دې کې ده، چې ددغسې مصیبت مخنیوی وشي په واقع کې امیر عبدالرحمن د هر هغه قدرت، مسلمان وي، یا عیسوي مخالف و چې له افغانستان نه د یوه بل پر ضد تېر شي له همدې امله و، چې د پنجدې د بحران په شدید حال کې هم امیر حاضر نه شو، چې د هرات د پیاوړ تیا لپاره د بر تانوي انجنیرانو یوې ډلې ته د ور تګ اجازه ورکړي، خو که روسانو په هرات حمله وکړه، په هغه حال کې امیر حاضر و، د انګرېزانو پوځ ومني چې خپل پوځ به یې له هغه سره په ګډه تر پایه پورې وجنګېږي

ځکه چې د افغانستان باندنی سیاست د انګرېزانو په انحصار کې و او ځکه چې هرات ته خطر هندوستان ته هم خطر ګڼدلی شو، د هند بر تانوي حکومت له روسانو سره له موافقې وروسته د جنرال پیټر لمسډن Peter Lumsden په مشرۍ د ۱۸۸۴ په منې کې پنجده ته یو

هیښت واستوه، چې هلته د خپل روسي سیال په اتفاق یاده شوې ناټاکلې پوله وټاکي افغانستان ته بلنه ورنکړای شوه، که څه هم موضوع د هغه د پولې ټاکل و خو په دغه وخت کې چې روسانو ځان په قوت سره د پنجده او مرو ترمنځ رسولی وو، نه یې غوښتل چې کشاله زر هواره شي، موضوع یې ټالوله او په عین حال کې یې خپل پوځ لاهم پیاوړی کاوه له بلې خوا جنرال لمسډن جنرال غوث الدین ته سپارښتنه کوله، چې د خپلې پوځي قطعې له پیاوړې کولو نه ډډه وکړي، ددې لپاره چې دغه کشاله په اسانۍ سره هواره شي د لمسډن دغه ټینګار په پای کې امیر په دغه فکر کړ، چې دغه جنرال په واقع کې د افغانانو او روسانو ترمنځ نښته غوښتله، ځکه چې دغه احمق په دې فکر و چې که د افغانانو او روسانو ترمنځ وینه تویه نه شي، دوی ممکن سره دوستان شي چې دا به په ټوله مانا د انګریزانو د ګټې مخالف وي [۳۹]

د ۱۸۸۵ کال د مارچ په دېرشمه روسانو پنجده لاندې کړه، افغان سرتېرو ورسره ناکامه مقابله وکړه، که څه هم روسي پوځ ترېنه لوی او امیر هم دوی له مقابلې نه منع کړي وو امیر عبدالرحمن په دغه وخت کې هندوستان ته په رسمي سفر تللی و او چې د پنجدې له سقوط نه یې خبر کړ، وایسرای ته یې وویل چې غم مخورید نه دا

چې امیر کوښښ ونه کړ له وایسرای نه وغواړي دغه یرغل بېرته په شا ووهي، ځکه چې دوی له هغه سره ژمنه کړې وه چې په هغه حال کې چې کوم هېواد په افغانستان باندې یرغل وکړي، بې له دې چې هغه پارول شوی وي، دوی به له افغانستان نه په قوت دفاع وکړي پر دې برسېره امیر د هند حکومت کار اسان کړ په دې ډول، چې دی له پنجده او د هغې له سهیلي برخې نه د روسیې د لوی امپراتور په نامه تېرېږي، خو چې ماروچاق، ګلران او ذوالفقار لا هم د افغانستان وي په دغه وخت کې امیر دا هم څرګنده کړه، چې پنجده په اصل کې ددې لپاره نیول شوې وه، چې په دغسې حال له هغې نه د چنې په توګه کار واخیستل شي د امیر په نظر د پنجده په قرباني سره به افغانستان له لوی مصیبت څخه ژغورل شوی وي سره له دې هم د پنجده بحران روسیه او برتانیه د جنګ ژۍ ته ورکش کړل، خو په پای کې د ډېرو لیکونو او تېلګرامونو په مبادلې سره دوی موافقه وښودله، چې دغه کشاله دې په منځګړ توب سره هواره شي روسیې بیا د امیر له خوا هغه ورکړل شوی امتیاز د پریکړې لپاره د اساس په توګه ومنه او یوه بل ګډه روسي انګلیس هیئت د افغانستان دغه پوله د امو سین له خمیاب نه تر ذوالفقار پورې وټاکله دا ځل سروست رج وې Sir West Ridgeway د برتانوي هیئت مشر و او دغه

پوله هم د هغه په نامه یاده شوه [۴۰] په دې ډول د افغانستان شمال-لویدیځه پوله هم د بر تانوي-روسي حکومتونو له خوا او د افغانستان په تاوان وټاکله شوه د بدخشان په برخه کې یانې د افغانستان شمال-ختیځه پوله هم د روسانو په نظر ناټاکلې وه، که څه هم دوی د ۱۸۷۳ کال په پوهاوي سره بدخشان د افغانستان سیمه منلې وه روسانو د نهمې لسیزې په سر کې هلته هم تېری وکړ، دغه پوله له سر نه وټاکل شوه چې هغه دلته د افغانستان د ختیځ-جنوبي پولې سره یوځای تر بحث لاندې نیول کېږي

د افغانستان د ختیځ-سهیلي پولې ټاکل د نورو پولو په پر تله ډېر پېچلی او ګران و، په دې چې هم ددغې پولې اوږدوالی ډېر و او هم د هغې په ټاکلو سره اصلي افغانستان او د هغه اصلي اوسېدونکي یانې پښتانه اغېزمن کېدل لکه چې دمخه ویل شوي افغانستان په اصل کې په ختیځ کې تر اباسین پورې هېواد ته ویل کېده، خو د امیر عبدالرحمن تر وخته له خیبر نه تر اباسین پورې سیمه د پېښور په ګډون د بر تانوي هند لاس ته ورغلې وه پېښور اول د پنجاب واکمن، رنجیت سنګهـ په کال ۱۸۳۳ کې د هغه له حاکم سردار سلطان محمد خان، د امیر دوست محمد ورور نه نیولی او انګر یزانو بیا پېښور له سکانو نه په کال ۱۸۴۸ کې تر لاسه کړی او د امیر

دوست محمد ټولي هلې ځلې د پېښور د بېرته ترلاسه کولو په اړه نابريالۍ شوې وې لکه چې دمخه ويل شوي د خيبر لوى معبر چې منځنۍ اسيا له جنوبي اسيا يانې هند سره نښلوي او له دې امله د هند د امنيت لپاره مهم و، د ګندمک په تړون سره له افغانستان نه بېل شوى او په هند پورې تړل شوى و سره له دې هم برتانويان په دغو لاس بريو قانع نه وو له دوى سره د هند د طلايي مستعمرې د خوندي ساتلو اندېښنه وه ځکه چې دوى په ځلور سوه مليوني پراخ هند باندې د لس زره ملکي برتانوي مامورانو له لارې حکومت کاوه او هنديانو ته بېګانه استعماري اروپايان وو، په دې اندېښنه کې وو چې که روسيه د افغانستان له لارې په هند وردمخه شي، هند ممکن د دوى له لاسه ووځي، نو د دوى غټ کوښښ دا و چې د هند په لور د تزاري روسيې د احتمالي پوځي وړاندې تګ مخه ونيسي بايد د هند په شمال لويديځ کې ټينګ نظامي استحکامات او سياسي تجويزونه ولري په افغانستان باندې په کال ۱۸۳۸ کې د برتانوي هند لومړى تېرى او ځلوېښت کاله وروسته د دوى دويم تېرى هم په اصل کې د همدغه مطلب لپاره و، خو افغانانو دوى په دواړو کوښښونو کې نابريالي کړل، که څه هم برتانيه د وخت زبرځواک او ډېر شتمن هېواد و او په اسيا، افريقا او امريکا او استراليا کې يې پراخې مستعمرې لرلې

روسيې چې په منځنۍ اسيا کې تر افغانستان پورې ډېر ملکونه لاندې کړل او په لندن کې پراختيا غوښتونکي محافظه کار ګوند په ۱۸۸۹ کې حکومت په ملي انتخاباتو سره ترلاسه کړ، برتانوي هند د روسيې د احتمالي تېري په برابر کې يو نوی ستراتيجيکي تجويز وايست او په هغه باندې يې د علمي سرحد (Scientific Fronties) نوم کښېښود. د ډيورنډ توافق ليک او د ډيورنډ کرښه په واقع کې د همدغه په اصطلاح "علمي سرحد" زېږنده دي. ما دغه موضوع ګانې په خپلو اثرونو کې د ارشيفي لومړنيو رسمي پاڼو او ناخپرو شويو ليکنو او راپورونو له مخې په دقيق او اوږد ډول شرح کړي[41] دلته به يې اساسي مطلب په لنډ ډول بيان کړم.

د په اصطلاح "علمي سرحد" نه مطلب دا و، چې په هغه حال کې چې روسي پوځ د هند د اشغال په مقصد په افغانستان ننوځي يا حتی د امير عبدالرحمن په مړينې سره په افغانستان کې ګډوډي پېښه شي، د برتانوي هند پوځونه به د هندوکش نه په ښکته ستراتيجيکي سيمو يانې کندهار، جلال آباد، کابل او غزني کې ځای پرځای کېږي. په دغه مقصد چې د روسي پوځ د ورتګ مخه ونيسي د وړاندې تګ دغه چلند بيا لازمه کوله، چې نه يوازې هغه مهم کوتلونه او ځايونه چې "علمي سرحد" ته رسېږي د دوی په کنترول کې وي، پر هغو قومونو هم

سیاسي کنترول ولري چې دغه کوتلونه يې په سيمو کې پراته وي دغه ټول تجويز بيا حتمي کوله، چې هند بايد له افغانستان سره خپل سرحد يا پوله وټاکي او د امير لاس له دغو قومونو او سيمو نه لنډ کړي

دا چې تزاري روسيې که څه هم امپيريلستي او پراختيا غوښتونکی هېواد و، د افغانستان له لارې په هند باندې د يرغل نيت لاره، يقيني نه وه خو وېره يې يقيني وه، په تېره د انګلستان د محافظه کار يا توري ګوند په پاسنيو کړيو کې په هر حال، په هغه وخت کې چې د لندن د محافظه کار ګوند مشر لارډ سالسبري (Salisbury) په لاس و او د هند حکومت د وايسراى لينزډون (Lansdowne) په مشرۍ چلېده، علمي سرحد د رسمي سياست په شان ټينګ ونيول شو او د عملي کولو په مقصد له خيبر نه تر کابل پورې د ريلوې غزولو لپاره لازمي شيان او سامانونه زېرمه شول او د کابل سين سروې هم پيل شوه داسې هم د کويټې او چمن ترمنځ د کوژک تونل په ايستلو پيل وشو انګليسانو کويټه د امير شېر علي په وخت کې د کلات خان له لارې او سبي او پښين يې د ګندمک په تړون سره ترلاسه کړې وه د انګرېزانو له خوا د کويټې نيول د افغان-انګليس د دويم جنګ يو علت و امير عبدالرحمن هم ويل چې د کوژک تونل ايستل لکه دده په نس کې چې د چړې ننوېستل وي

د هند وایسرای په ۱۸۸۸ کې امیر عبدالرحمن ته په یوه لیک کې څرګنده کړه، چې اوس ددې وخت دی چې د دواړو هېوادونو ترمینځ پوله مشخصه شي او ددغه مقصد لپاره به یو بر تانوي هیئت کابل ته درشي له هغه نه یې دا هم وغوښتل، چې د افغانستان په شمالي پولو کې بر تانوي افسران ومني، خو امیر د هغو له منلو نه غاړه غړوله او د وایسرای لینزډاون د ټینګار په برابر کې یې ډول ډول پلمې کولې کله به یې وړاندیز کاوه، چې یو بر تانوي هیئت دې په کابل کې په عام دربار کې د چارو په اړه له هغه سره بحث وکړي او کله به یې وایسرای ته بلنه ورکوله، چې کابل ته راشي یو ځل یې دا وړاندیز هم وکړ، چې د دواړو خواوو هیئتونه دې په کومې سرحدي سیمې کې سره خبرې اترې وکړي، خو دغه وړاندیزونه د وایسرای لپاره د منلو وړ نه وو او هغه ټینګار کاوه، چې د بحث موضوع دې یوازې د پولې ټاکل وي او د بحث موضوع دې دمخه ټاکل شوې وي او ددغه مقصد لپاره دې امیر یو بر تانوي هیئت په کابل کې ومني وایسرای یو ځل امیر هند ته هم وباله، خو امیر د ناروغۍ په پلمه هند ته له ور تګ نه ښښنه وغوښتله دواړه خواوې له یوې بلې نه شکمنې وې امیر په سرحدي سیمو کې د انګر یزانو د وړاندې تګ مخالف و، لکه د کوژک تونل بشپړول، چمن ته د هغو د ریلوې غزول، د ګومل د تونل

پرانیستل او له ځینو سرحدي قومونو سره د هغو مذاکره کول او د کابل سین سروې کول له بلې خوا وایسرای په سرحدي سیمو کې د افغانستان پرمختګ د خپل علمي سرحد پروګرام مخالف باله، لکه د وزیرستان په وانه او د مومندو په متهایي کې د نظامي پوستو جوړول، په اسمار کې د پوځ دېره کول او د چاغي نیول په دغه وخت کې په واقع کې د امیر ماموران له چترال نه تر لویدیځ بلوچستان پورې د وړاندې تګ په حال کې وو دوی کوم هغه سرحدي قومونه، چې د افغان انګلیس په دویم جنګ کې په خپل سر شوي وو، هڅول چې د افغانستان حکومت ته غاړه کښېږدي دوی په خپل دغه ماموریت کې د پیسو په ورکولو، کابل ته د قومي جرګو تللو په هڅولو او په عین حال کې د نظامي قوت په ښوولو سره بریالي وو غټ بری د سپاه سالار غلام حیدر څرخي په برخه و هغه وروسته له دې چې شنواري، بر مومند او کونړیان د حکومت تر نیغې اداري لاندې راوستل، په ۱۸۹۲ کې یې خپل پوځ په اسمار کې دېره کړ او له هغه ځای نه یې د باجوړ، دیر او سوات د ایل کولو لپاره هلې ځلې پیل کړې د برتانوي هند د باندنیو چارو وزیر، مارتمر ډیورنډ لا تر هغه دمخه د ۱۸۹۱ کال په جون کې څرګنده کړې وه، چې موږ په ټول سرحد کې د (ایران) له تورو غرونه تر وزیرستان پورې بد خبرونه ترلاسه

کوو ، امیر کرمه تهدید کړي او اپریدیان په لړزېدونکي حال کې دي

وایسرای لینزډون لا په دې فکر و ، چې امیر غواړي پوره خپلواک وي ، نو بیا یې ټول هغه درانه توپونه او وسلې چې افغانستان له اروپایي هېوادونو څخه په بیه اخیستې وي ، د کراچۍ په بندر کې ټال کړې او د امیر د اعتراض په ځواب کې ولیکل چې ترڅو د سرحد مسئله فیصله شوې نه وي ، هغه به ټال وي دا په دغسې حال کې چې دغو وسلو ته د هزاره جات په روان جنګ کې سخت ضرورت و په واقع کې وایسرای لینزډاون په امیر عبدالرحمن باندې ددغسې فشار اچولو په فکر شو ، چې پخوا وایسرای لارډ لېټن په امیر شېر علي باندې راوړی او هغه بیا د افغان-انګلیس د دویم جنګ ی علت شو ، خو دغه ځل لندن د وایسرای د په خپل سر عمل په مخ کې خنډ شو سره له دې هم لینزډون له امیر نه په یوه لیک کې وغوښتل ، چې د هند لوی درستیز جنرال فریدرک رابرټس په مشرۍ په جلال آباد کې یو نظامي هیئت ومني چې د ۱۹۹۲ کال له اکتوبر نه وروسته نه وي په لیک کې یې دا هم ورته څرګنده کړې وه ، چې که ما له تا والا حضرت نه د سپتمبر تر اول پورې وانه ورېدل چې ته حاضر یې دغه هیئت ومنې زه به داسې وګڼم چې زما وړاندیز منل شوی نه دی او هغه به بېرته واخیستل شي ،

ACKU

خو که ته دغه وړاندیز ومني یا ونه مني بیا به لازمه وي، چې فیصله وشي چې کومې سیمې د افغانستان د سلطنت دي او کومې نه دي

د جنرال رابرټس په مشرۍ ددغسې نظامي هیئت له استولو نه مطلب دا و چې د هند وایسرای غوښتل موضوع د فشار په راوړلو یا حتی د زور له لارې حل کړي رابرټس د افغان انګلیس په دویم جنګ کې د انګریزي پوځ لوړ قوماندان و، چې په امر سره یې یو شمېر افغانان په کابل کې په دار ځوړول شوي او د افغانانو د میوند له بري نه وروسته یې په کندهار کې د غازي محمد ایوب پوځ مات کړی و دی په رښتیا افغانانو ته منفور و، چې په کابل کې د هغه شته والی پاروني کولي نو امیر عبدالرحمن ته د هغه په مشرۍ د هیئت هم د منلو نه و نو یې د اګست په درېیمه وایسرای ته ولیکل، چې حاضر دی دغه هیئت ومني خو هغه دې د هزاره جات د جنګ له امله ټال شي

لینزډاون له هغه وروسته خپل چلند نور هم سخت کړ په خپلې شورا کې یې په خپلو ملګرو ومنله، چې هند باید یوه کرښه وټاکي او څرګنده کړي، چې د امیر حکم دې له هغې نه اخوا نه چلیږي او که افغان سر تېري له هغې نه اخوا ولیدل شي، په زور دې بېر ته په شا ووهل شي او دغه کرښه دې په دې ډول په نښه شي، چې اسمار، چاغه

او وايــه دې لــه افغانسـتان څخــه بېلــه شـي ، خـو ښخوا لــه دې
چې دغـه اخطـار اميـر تـه د ليـک لـه لارې ورسېږي ، پـه لنډن
کې د لبـرل ګونـد د محافظـه کـار ګونـد پـر ځـای پـه واک شو
او د هنـد پـه چـارو کـې نـوی لبـرل وزيـر وايسـرای لينـزډاون
تـه څرګنـده کـړه ، چې لـه امير عبـدالرحمن سره پـه احتيـاط
چلنـد وکړي او تـر هغـو چې د هغـه پـه چلنـد کې کوم اساسي
تغيـر پـيښ شـوی نـه وي ، د هغــه پــه چـارو کــې دې تــر
ممکنې انـدازې لاسوهنه کمـه شي سره لـه دې هـم وايسـرای
وغوښـتل يـو نظـامي هيئـت د رابـرټس پـه مشـرۍ کابـل تـه
واستوي ، نو يې پـه يـوه ليـک کـې د ۱۸۹۳ پـه جنورۍ کې
اميـر تـه څرګنـده کـړه چې دغسې يـو نظـامي هيئـت بـه د
مـارچ پـه مېنځ کې کابـل تـه دررسېږي او کـه پـه دې اړه د
هغــه (اميــر) مثبـت ځـواب د فبـرورۍ تـر اومـې پـورې ونـه
رسېد ، کابـل تـه بـه د هغـه ور تـګ ممکـن نـه وي امير ممکـن
پوهېـده ، چـې د جنـرال رابـرټس ماموريـت پـه پسـرلي کې
سـر ته رسـېږي ، نـو يـې د ټـالولو لـه تاکتيــک نـه کـار
واخيسـت امير د پـاين (Pyne) پـه نامـه د لنـدن د ښار د
کـارګرې طبقـې يـو انګلـيس مسـتخدم لاره ، چې ور تـه ښـهٔ
مخلـص و خپـل ځـوابي ليـک د فبـرورۍ پـه ۱۷مـه د هغـه پـه
لاس واسـتوه او ور تـه يـې هـدايت ورکـړ چـې پـه سـفر کـې
بېړه ونـه کـړي هغـه د مـارچ پـه ۱۲مـه کلکتـې تـه ورسېد ،
يانې هغه وخت چې د رابرټس ماموريت ختم شوی و

امیر په دغه لیک کې وایسرای ته څرګنده کړې وه، چې دغه هیئت په دغه وخت کې د سختو سړو او په خپله دده د ناروغۍ له امله منلی نه شي او پر دغو برسېره په دغه وخت کې څنګه چې لارې په واورو سره بندې وي؛ قومي مشران کابل ته رسېدلی نه شي او د هغو په نشته والي کې به د هیئت راتګ بې ګټې وي پاین چې د امیر اعتمادي شخص و، په کلکته کې د باندنیو چارو وزیر مارتمر ډیورنډ له هغه سره په کتنې کې د امیر په اړه د خپل حکومت روغ نیتي وښوده پاین هم په مقابل کې د امیر روغ نیتي وښوده په عین حال کې ډیورنډ په سرحدي سیمو کې د افغانستان د پرمختګ په اړه شکایت وکړ پاین هم په همدغو سیمو کې د برتانوي هند د وړاندې تګ په اړه د امیر شکایتونه هغه ته واورول په ټولیز ډول په دغسې لفظي مبادلې سره د دواړو خواوو ترمېنځ یو ډول روغ نیتي راغی عجیبه ده، چې د لندن ښار د ختیځې برخې یانې د کارګرې طبقې اوسېدونکیو ته هلته په عادي ډول مجال نه وي چې د خپل ملک د لوړو طبقو په تېره له لوړو حکومتي کسانو سره مجلس وکړي، خو پاین په کلکته کې د امیر د یو ډول استازي په توګه له خپلو دغسې وطنوالو سره خبرې وکړې او د هغو او د امیر عبدالرحمن ترمېنځ بې اعتمادي په روغ نیتي بدل کړي د هغه لپاره په رښتیا چې دا یو

غټ برې و [۴۲]

په دغه وخت کې چې کابل ته د انګلیس هیئت تللو خبرې کېدلې یانې د نهمې لسیزې په پیل کې د روس پوځي واحدونه د افغانستان په شمال ختیځ کې په بدخشان کې رادمخه شول په داسې حال کې چې ټول بدخشان په جنوب کې د بروغیل له کوتل نه په شمال کې تراق سو یا مرغاب سین پورې د افغانستان تر لاس لاندې سیمه وه او امیر حتی لوی پامیر ته نزدې په سرمه تاش یا سومه تاش نومي ځای کې نظامي پوسته هم ځای پر ځای کړې وه. لکه چې دمخه ویل شوي، د بدخشان د روښان او شغنان له سیمو نه د پنجه سین ګوټی تېرېده، چې سرچینه یې د پامیر سر قول وه د پنجه سین ګوټی د امو سین نه و. د امو سین له هغه ځای نه شروع کېده، چې له جنوب نه د کوکچې سین او له شمال نه د مرغاب سین ورسره ګډېده، خو روسانو ته بدخشان تر پنجه پورې سیمه وه او دوی د روښان او شغنان هغه برخې چې د پنجه په شمال کې تر مرغاب سین پورې پرتې وې، د بدخشان سیمې نه ګڼلې په دې حساب دغه برخې روسانو ته د ۱۸۷۳ کال له پوهاوي نه دباندې وې او په هغو باندې یې د افغان حاکمیت ددغه پوهاوي پرخلاف شمېره، چې افغانستان یې باید پرېږدي، روسانو ددې پروا هم نه کوله چې لس کاله کېدل چې د بدخشان دغه

برخې د افغانستان تر حاکمیت لاندې وې

روسانو په ۱۸۹۲ کې خپله ادعا په نظامي زور سره پیاوړې کړه اول یې یوې نظامي قطعې د کرنیل یانوف (Yanoff) په قومندانۍ په سرمه تاش کې په افغان نظامي پوستې نابیره ودانګل او هغه یې له منځه یووړه ورروسته دوه سوه پیږه نظامي قطعه یې د کرنیل یانوسکاي (Yannosky) په قومندانۍ شغنان ته ننوتله، خو افغانانو هغه په شا ووهله، لکه دمخه چې یې یوه چیني نظامي قطعه په شا تمبولې وه. بل کال د روسانو بله نظامي قطعه د هغوی د دفاع وزیر زوی په قومندانۍ روښان ته ننوتله او فیرونه سره مبادله شول په دې ډول بدخشان تر خطر لاندې شو او امیر عبدالرحمن له یوې خوا د روسانو او له بلې خوا د برتانوي هند تر فشار لاندې شو په اصل کې امیر ته ګرانه وه، چې په دغې لیرې سیمې کې د روسیې له نظامي پوځ سره مقابله وکړي هغه هم په هغه حال کې چې د هند وایسرای د ۱۸۹۲ کال په جولای کې ورنه غوښتي و، چې په پامیر کې په خپل فعال چلند سره ستونزې پیدا نه کړي بل کال په لندن کې د هند د چارو وزیر د هند وایسرای ته په یوه لیک کې څرګنده کړه، چې موږ په دې فکر یو چې اوس ددې وخت راغلی چې امیر د روښان او شغنان د حتمي پرېښودلو فیصلې ته اماده کړي او تر ښه وغواړئ چې یو برتانوي افسر په

ACKU

کابل کې ومني، چې په هغو خبرو اترو یې خبر کړي چې په دې اړه له روسیې سره شوې دي. هغه دا هم ویل، چې برتانیه په هېڅ وجهه حاضره نه ده، چې ددغو سیمو په ساتنه کې له امیر سره مرسته وکړي، ځکه چې دغه کار به د ۱۸۷۳ کال موافقې پرخلاف وي. هغه دا هم ویل، چې روسان حاضر دي نه یوازې درواز امیر ته پرېږدي، چې د پنجې په کینه خوا کې د بخارا تر لاس لاندې ناحیه ده، بلکې د واخان هغه ټرانګه چې تر چین پورې غزېدلې ده، هم ورپرېږدي او که امیر شغنان او روښان په ارامۍ ترک کړل، برتانیه به په خپل وار حاضره وي چې چاغه او اسمار امیر ته پرېږدي، د نوي چمن په عوض غرامات ورکړي او په کراچۍ کې یې تال شوي مالونه ازاد کړي.[۴۳]

 څرګنده ده، چې برتانیې نه غوښتل له پنجه سین ګوټې نه پورته د روښان او شغنان په سر له روسیې سره سخته ونیسي. پر هغه برسېره دوی غوښتل افغانستان ته د واخان په ځانګړې کولو سره د خپلې امپراتورۍ او روسیې امپراتورۍ ترمېنځ یوحایل ولري، ددې لپاره چې د دواړو امپراتوریو ترمېنځ د احتمالي ټکر مخنیوی شوی وي.

بیا نو د هند وایسرای د ۱۸۹۳ کال د جولای په ۲۴مه له امیر نه په یوه لیک کې په ټینګه وغوښتل، چې یو

بر تانوی افسر په کابل کې ومني چې د روسانو له ادعاګانو نه یې خبر کړي او په اړه یې د هغه فکرونه معلوم کړي په عین حال کې یې داډه کړ، چې له دغه افسر سره به نظامي کسان ملګري نه، بلکې بس درې یا څلور تنه افسران ملګري وي. امیر د وایسرای دغه وړاندیز په اسانۍ ومنه او تر څنګه یې دا هم وغوښتل، چې دغه افسر دې یو نومیالی شخص لکه ګلدستن، د بر تانیې پخوانی صدراعظم وي، خو وایسرای ددغې دندې لپاره د لندن په مشوره د هند د باندنیو چارو وزیر سرمار تمر ډیورنډ (Sir Martimer Durand) غوره کړ، چې فارسي یې ښه ویلی شوه امیر هغه هم ومنه

بیا نو ډیورنډ له څلور بر تانوي او څلور مسلمانو افسرانو سره د سپتمبر په مېنځ کې له پېښور نه د کابل پر لور روان شو. د هیئت دوم کس کرنیل ایلیس (E.R.Ellis) و. په لنډي کوتل کې سپاه سالار غلام حیدر څرخي هیئت ته ښه راغلی ووایه او هغه یې په پوره قدر سره د اکتوبر په دویمه کابل ته ورسوه او د چل ستون په مانۍ کې یې ځای پر ځای کړ، چې د خلکو له نظر نه پناه وي

هیئت درې ورځې وروسته له امیر سره په دربار کې ولیدل، خو دا یوازې تشریفاتي لیدنه وه. د شپږو اونیو په موده کې چې هیئت په کابل کې و، د دواړو خواوو تر مېنځ یو وخت بل وخت خبرې وشوې ترڅو د نومبر په

دولسمه د دوی ترمېنځ دوه توافق ليکونه اعلام شول، چې يو يې د افغانستان شمال-ختيځ پولې او دويم يې د ختيځ-سهيل پولې په اړه وو. دا چې امير به دغه دويم توافق ليک په رښتيا لاسليک کړی وي، معلومه نه ده او وروسته به په دغه مهم ټکي بحث وشي.

په لومړي توافق ليک کې ويل شوي، چې امير په دې ډول موافقه کوي چې دی به ټولې هغه ناحيې (Districts) چې د ده له خوا د امو په شمال کې او په ختيځ کې د ويکټوريا له ډنډ يا سر قول نه له امو سره د کوکچې تر يوځای کېدلو پورې نيول شوي دي، خوشې کړي په دغې ځرګند پوهاوي سره چې ټولې هغه ناحيې به چې د آمو په سهيل کې پرتې دي او اوس د هغه په تصرف کې نه دي، ده ته تسليم کړلی شي.

په دغې موافقې سره د پنجه سين ګوټې د افغانستان او بخارا ترمېنځ پوله شوه، خو هغه هېڅ وخت نه دا چې بين المللي پوله نه ده، هېڅ پوله نه وه او بدخشان هغسې چې دمخه ويل شوي، له بروغيل نه تر اق سو يا مرغاب پورې سيمه وه. په دغه توافق ليک سره دغه بدخشان دوه ځايه شو، خو د واخان په سر چې د همدغه توافق ليک يوه برخه وه، يوه سپکه لانجه پيدا شوه چې ژر هواره شوه. واخان د ويکټوريا د ډنډ يا سر قول په سيمه کې تر لوی پامير پورې يوه اوږده تړانګه ده، چې په سر

کې يې پيوونده قرغز ترکمن دلته او هلته او په لره برخه کې د واخې په نامه اسماعيليان اوسېدل په داسې حال کې چې پاميرونه کله د فرغانې او کله د چين تابع وو، واخان د ځايي ميرانو له خوا اداره کېده چې هغوی يا د بدخشان يا قطغن تابع وو واخان د پامير تر څنګه يوه ډېره سړه او کم حاصله اوږده تړانګه ده، خو هغه په دغه وخت کې د روسي او برتانوي امپراتوريو ترمېنځ د لومړي ځل لپاره بين المللي اهميت پيدا کړ د ۱۸۷۳ کال پوهاوي له مخې واخان د روسيې له خوا د بدخشان برخه منل شوې وه، خو امير عبدالرحمن سره له دې هم نه غوښتل هغه د افغانستان يوه برخه وي په دغه دليل، چې د روسانو د تجاوز په برابر کې به له هغه نه دفاع ګرانه وي امير په دې هم ډاډه نه و، چې برتانيه به د هغه په دفاع کې له ده سره ودرېږي، لکه چې د روښان او شغنان او تر هغه دمخه د پنجده په دفاع کې يې د افغانستان په اړه خپله ژمنه ترسره کړې نه وه، چې که په افغانستان باندې تېرى وشي او که دغه تېرى د افغانستان له خوا پارېدلى نه وي، دوى به د تېري دفع کوي له بلې خوا روسيه ددې مخالفه وه چې واخان له افغانستان نه غير د بل هېواد تر لاس لاندې وي روسانو هم د برتانويانو په شان غوښتل، چې واخان د دوی د امپراتوريو ترمېنځ حايل وي په دغه حال کې د ډيورنډ غټه وظيفه دا شوه،

چې امیر وهڅوي چې واخان په کوم ډول د افغانستان برخه وګرځوي، خو امیر نه هڅول کېده، حتی په هغه حال کې هم چې ډیورنډ ورته کړه چې واخان دې په نامه د افغان وکیل استازي تر لاس لاندې وي، خو په واقع کې به په ګټ کې د برتانوي افسر له خوا اداره کېږي په پای کې امیر چې افغانستان ته د روسیې له خطر نه په اندېښنه کې و او د برتانیې ملاتړ یې ضروري ګاڼه، موافقه وکړه چې واخان به د افغانستان تر حاکمیت لاندې وي، خو بې له دې چې نظامي پوځ پکې دېره کړي هغه وچې لکه دمخه ویل شوي امیر د پنجه سین ګوټې چې واخان یې په کینه خوا کې پروت دی، د بین المللي پولې په توګه ومنه

دوه کاله وروسته ۱۸۹۵ د روس انګلیس یو ګډ کمیسیون د افغانستان د غیر رسمي استازي په ګډون د روسیې، افغانستان، چین او برتانوي هند ترمېنځ پوله په ساحه کې په نښه کړه چین په دغو خبرو کې ګډون نه لاره، خو اعتراض یې هم ونه کړ، که څه هم د افغانستان سره یې د سل میل په اندازه ګډه پوله لرله په دې ډول د واخان دهلیز او افغان پامیر د وخت د دریو لویو امپراتوریو ترمېنځ د بېطرفي سیمي یا حایلي سیمې په دغسې ځای کې ومنل شو، چې د نړۍ بام ورته ویل کېده

بل توافق لیک د ډیورنډ توافق لیک یا په ۱۸۹۳ کې

د کابل کانونشن، په نامه د افغانستان د ختیځ سهیلي پولې په اړه و، چې د بدخشان له بروغیل کوتل نه د ایران تر سرحد یا تورو غرو پورې یو نیم زر میل اوږده وه ددغې پولې اهمیت په دې کې و، چې هم ډېره اوږده وه او هم د اصلي افغانستان په اړه وه او دغسې قومونه یې اغېزمن کول، چې د اصلي افغانستان جوړوونکي او اوسېدونکي وو، نو د دوی په مېنځ کې د بېلتون د پولې ټاکل او په نښه کول په اصل کې یو ناشونکی یا بیخي ګران کار و، خو ډیورنډ سره له دې هم د خپل حکومت د علمي سرحد د تجویز له مخې د هغې په ټاکلو ټینګار کاوه او امیر عبدالرحمن د هغوی په نېغ او د روسانو په غېر مستقیم فشار له مجبوریت نه له هغه سره جوړه وکړه، خو په خپله ځایي خلکو هغه سمله لاسه په سراسري پاڅون سره رد کړه

ددغه په نامه توافق لیک ټول متن ددغه اثر په پای کې راوړل شوی او ددغې موضوع ټولې خواوې ما په خپلو اثرونو کې په زیاته اندازه د اصلي سرچینو له مخې بیان کړې دي[۴۴] دلته به یې هغه اساسي ټکي بیان کړم، چې له دغه اثر سره ارتباط لري

ددغه توافق لیک دویمه او درېیمه ماده د هغه اساسي ټکي بیانوي، په دویمې مادې کې ویل شوي دي چې د هند حکومت به هېڅ په هغو سیمو کې چې له دغې لیکې

نه اخوا د افغانستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي له دغې لیکې یا کرښې نه مطلب د واخان له بروغیل نه د ایران تر تورو غرو (کوهای ملک سیاه) لیکه ده، چې باید په نښه شي په درېیمې مادې کې ویل شوي دي، چې د برتانیې حکومت په دې ډول موافقه کوي، چې والا حضرت امیر دې اسمار او له هغه پورته دره تر چاناک پورې وساتي له بلې خوا والا حضرت موافقه کوي، چې دی به هېڅ وخت په سوات، باجوړ یا په چترال کې د باشګل یا ارنوایي درې په ګډون مداخله نه کوي. داسې هم د برتانیې حکومت موافقه کوي، چې د برمل سیمه والاحضرت ته پرېږدي. او والاحضرت د پاتې وزیري ملک او داور په هکله له خپلې ادعا نه تېرېږي. داسې هم والاحضرت په چاغه باندې له خپلې ادعا نه تېرېږي.

ددغه توافق لیک په اړه، چې اول څه ویل کېږي دا دی، چې هغه توافق لیک (Agreement) یا کانونشن (Convention) دی، نه تړون (Tready). تړون او توافق لیک عین مفهومونه، نه دي. تړون د دوو هېوادونو ترمېنځ ژمنه وي، چې هغه باید د هغو د لوړو ملي مجلسونو نه تېر شي، په داسې حال کې چې توافق لیک د یوې مسئلې په اړه د دواړو خواوو ترمېنځ جوړه یا موافقه ده. کانونشن د اجتماعي دود له مخې د استازو یا لویانو غونډې ته ویل کېږي، چې مفهوم یې تر موافقې نه هم سست وي له

همدې امله به وي ، چې دغه توافق ليک په اصلي ليکنو کې يوازې په دغو تومونو ياد شوی ، نه د ترون په نامه له دښه ښکاري ، چې دغه توافق ليک برتانويانو ته يوازې د دوی په اصطلاح علمي سرحد په ارتباط مهم و ، چې په هغه سره د افغانستان او برتانوي هند ترمېنځ د نفوذ سيمې په نښه کړي او يو د بل په نفوذي سيمه کې مداخله ونه کړي ددې مانا دا نه وه ، چې د برتانوي هند نفوذي سيمه د هند يوه برخه شوه برتانويانو تر پايه پورې په خپلې نفوذي سيمې کې خپل اداري طرز تطبيق نه کړ او له هغې نه يې د افغانستان د عنعنوي حاکميت لاس لنډ کړ ، ددې لپاره چې په هغې باندې د خپل علمي سرحد په تقاضا سياسي نفوذ ولري ، نو له دغه توافق ليک نه مطلب دا نه و چې د هند واکمنان خپله دغه نفوذي سيمه په هند پورې وتړي او د هند د نورو سيمو په شان يې اداره کړي لارډ ايلګين ، چې د لارډ لينزداون نه وروسته د هند وايسرای شو ددغه توافق ليک اصلي مطلب يې لندن ته په دې ډول بيان کړ ، د ډيورنډ توافق ليک هغسې توافق ليک و ، چې د برتانوي حکومت او د امير د نفوذ سيمې تعريف کړي مقصد دا و ، چې له امير نه د موجودي وضعې (Status quo) قبولي ترلاسه شي او وساتله شي [۴۵] بيا نو له امير نه وغوښتل شول ، چې ددغه توافق ليک له مخې به د هند په نفوذي ساحه کې مداخله

نه کوي، خو له دغې مداخلې نه مطلب نظامي مداخله وه په نورو ساحو کې د کابل او ددغو سيمو د قومونو ترمنځ اړيکې د پخوا په شان جاري وو، په دې ډول چې د دغو قومونو جرګې به د پخوا په شان په خپله خوښه بې له کوم باندني خنډ نه په پرله پسې ډول کابل ته تللې او هلته به يې له امير سره د خپل واکمن په صفت ليدل او خپل بيعت به يې نوی کاوه

امير عبدالرحمن د وزيرو په هکله هم ځرګنده ژمنه نه ده کړې په توافق ليک کې يې په دې اړه دغومره ويلي، چې د پاتې وزيري ملک او داور په هکله له خپلې ادعا نه تېرېږي دا چې دده دغه ادعا څه وه، واضحه نه ده خو دا واضحه ده چې د وزيرو ملک دده شخصي ملکيت نه و، چې دی پر هغه له خپلې ادعا نه تېر شي دی که څه هم د ټول افغانستان امير و، ددې صلاحيت يې نه لاره چې د خپل هېواد کومه برخه که څه هم د وزيرو د ملک په شان ليرې پرته وي، چاته ورکړي او که برتانويان په دې فکر وو، چې د وزيرو ملک د افغانستان برخه نه ده، بيا نو څه ضرورت و چې امير مجبور کړي پر هغه له خپلې ادعا نه تېر شي په اصل کې دغسې صلاحيت يوازې د ملت په استازيتوب د مشرانو کار و، نه د امير

لا مهمه او اساسي دغه پوښتنه ده، چې ايا امير به د توافق ليک متن چې په انګرېزي ژبه کې خپور شوی،

لاسلیک کړی وي ؟ له شتو شواهدو نه ښکاري ، چې لاسلیک کړی یې نه وي په دغه متن کې د امیر او ډیورنډ نومونه چاپ شوید ي ، نه د هغو لاسلیکونه ډیورنډ چې کله د توافق لیک په اړه نقشه امیر ته وړاندې کړه ، هغه پرې یو څه ولیکل بې له دې چې لاسلیک یې کړي داسې هم د توافق لیک فارسي متن ، چې ډیورنډ ور ته واوروه او بیا یې وروسپاره امیر لاسلیک نه کړ ، که څه هم ډیورنډ لاسلیک کړی و نو امیر چې د توافق لیک فارسي متن لاسلیک کړی نه وي ، انګریزي متن به یې هم نه وي لاسلیک کړی ، ځکه چې هغه په انګریزي نه پوهېده په دغسې حال کې ډیورنډ به د توافق لیک متن ممکن هغه ته په فارسي کې اورولی وي ، چې په فارسي ښه پوهېده ، که دغسې هم شوي وي امیر به د هغه د متن محتویات پوره درک کړي نه وي بله دا چې د توافق لیک متن هر څه چې و ، یوازې انګلیسانو تهیه کړی و ، په داسې حال کې چې هغه باید دواړو خواوو په ګډه او اتفاق تهیه کړی وای نو دغه موجود متن چې د امیر لاسلیک نه لري ، د اعتبار وړ کېدلی نه شي ، په تېره چې دا په نظر کې ونیوله شي ، چې د کرښې د نښه کېدلو په وخت کې افغان استازو د ځینو مهمو ټکو په سر مخالفت وښود که امیر د توافق لیک متن لاسلیک کړی ، یانې منلی وای له هغه سره به

یې مخالفت نه وای کړای، ځکه چې په هغه حال کې به یې خپل قول نقض کړی او د هند حکومت به پرې اعتراض کړی وای، نو کله چې دغه کرښهٔ د توافق لیک او د هغه د نقشې له مخې د افغان انګلیس د ګډو هیئتونو له خوا په ساحه کې په نښه کېدله، افغان استازو اعتراضونه وکړل، چې ځینې یې د مقابل لوري له خوا ومنل شول. تر ټولو مهم مخالفت د باشګل درې په هکله و، چې په توافق لیک کې د هند په نفوذي ساحه کې نیول شوی، خو د کرښې د نښه کېدلو په وخت (۱۸۹۶) کې امیر هغه ونه منه او وایسرای ایلګین ته یې په ټینګه ښکاره کړه، چې د "کافرستان" اخري کور هم د افغانستان دی. د "کافرستان" باشګل هغه دره ده، چې له اسمار نه تر بدخشان پورې غزېدلې او هغه وخت منځنۍ اسیا ته یوه ستراتیجکي مهمه لار وه، چې د "علمي سرحد" په تجویز کې یې بر تانوي هند ته خاص اهمیت لاره. پر دې برسېره د هند حکومت ادعا کوله، چې د باشګل دره د چترال د مهتر (واکمن) تر لاس لاندې وه، چې بر تانوي هند په ۱۸۹۵ کې پرې مسلط شوی و.

ددغو ټولو خبرو سره سره وایسرای ایلګین په پای کې د باشګل درې په هکله د امیر ادعا ومنله او په لندن کې یې د هند چارو وزیر هملټن ته په یوه لیک کې څرګنده کړه، چې د هند په نفوذي ساحه کې د هغې نیول

د تاسف وړ بوه تېروتنه وه [۴۶]

بله مهمه موضوع ، چې د توافق لیک اعتبار زیانمن کوي د مومندو موضوع ده مومند په دغه توافق لیک کې یاد شوي نه دي ، خو بر تانویانو هغه ته د باجوړ په ارتباط کتل ، چې امیر د هغه په اړه د نه مداخلې ژمنه کړې وه ، خو ددې مانا دا نه کېږي چې امیر د مومندو په اړه هم د نه مداخلې ژمنه کړې ده او یا یې هغه د بر تانوي هند په نفوذي سیمه کې شوولې وې مومند او باجوړ دوه سره بېلې سیمې دي ، چې بېل قومونه پکې اباد دي له همدې امله و ، چې امیر د ډیورنډ کرښې د په نښه کېدلو په وخت کې هغوی ته ښکاره کړه ، چې ټول مومند د افغانستان خاوره ده مومندان له کامې نه تر پېښور پورې ملک کې اباد قوم دی د پېښور ښار هم پخوا د مومندو ښار و د مومندو بره برخه په بر مومند او لره برخه په لر یا کوز مومند یادېږي د هند وایسرای غوښتل ، چې کوز مومند د دوی په نفوذي ساحه کې وي ، خو امیر د مومندو وېش نه منه وایسرای بیا وغوښتل ، چې مومند په یو اړخیز ډول ووېشي ، خو د امیر د ټینګ مخالفت له امله یې په پای کې د خپلې شورا په مشوره له دغه کار نه ډډه وکړه په دغه فکر کې چې دغه وېش دې د امیر له مړینې نه وروسته وشي د مؤلف سرپرسي سایکس په وینا د مومند پوله تر ۱۹۲۶ پورې هېڅ په نښه شوې نه وه

عجبه ده، چې ډاکټر عظمت حیات خان د ډیورنډ کرښې په نامه په خپل اثر کې د مومندو وپش د افغانستان او هند ترمنځ د وایسرای ایلګین د نظرله مخې ښیي [۴۷] د دغه اثر له محتویاتو نه ښکاري، چې هغه د پاکستان د رسمي مقامونو په هدایت او مرسته لیکل شوی وي

په هر حال، د ډیورنډ توافق لیک موجود متن د اعتبار وړ کېدلی نه شي هغه به هغه وخت د اعتبار وړ سند شي، چې د امیر عبدالرحمن او مارتمر ډیورنډ لاسلیکونه ولري دا چې ډیورنډ په خپلو رسمي راپورونو کې او د امیر منشي سلطان احمد د امیر عبدالرحمن ژوند په نامه کتاب کې، چې د تاج التواریخ په نامه فارسي شوی دی، ویلي چې امیر دغه توافق لیک لاسلیک کړی دی، صحیح نه دی ډیورنډ په خپل یوه خصوصي لیک کې خپله رسمي دغه وینا رد کړې ده او د سلطان محمد د اثر دویم ټوک جعلي دی سلطان محمد څه وخت، چې خپل ناچاپ شوی اثر په لندن کې له خپرونکي سره پرې ایښی و، د انګلستان رسمي مقامونو د هغه په دوهم ټوک کې، چې د سیمې او بین المللي موضوع ګانو په اړه دي، ګوتې وهلي او خپل نظرونه یې پکې ځای کړي دي دغه جعلتوب ما په خپل یوه اثر کې په مستند ډول شرح کړی دی [۴۸]

د ۱۸۹۴ کال په پیل کې د برتانوي هند او افغانستان

په موافقه د همدغه توافق لیک له مخې د دواړو خواوو د نفوذي سیمو ترمینځ د کرښې یا پولې د په نښه کولو په مقصد درې کمیسیونونو په کار پیل وکړ لومړی کمیسیون له خیبر نه، دویم کمیسیون له کرمې نه او درییم کمیسیون د بلوچستان ایجنسی له سیمې نه ځلورم کمیسیون وروسته جوړ شو او په کار یې پیل وکړ

د کرښې د په نښه کېدلو وخت کې د بر تانوي هند ماموراِنو د توافق لیک له نقشې نه کار اخیسته او افغان ماموراِنو به د هغو نقشو له مخې عمل کاوه، چې امیر ور ته ورکړې وې خو دغه نقشې سره متفاوتې وې او ددغه تفاوت پایلې لانجې او د کار ځنډېدل و، چې درې کاله وخت یې ونیوه. په داسې حال کې چې اول فکر کېده، چې هغه به د ځلورو میاشتو کار وي. ډېر مهم د خیبر کمیسیون و، چې د نقشو د اختلاف له امله اول څه باندې درې میاشتې وځنډېده او بیا د ۱۸۹۴ کال په دسمبر کې د کمیسیون افغان غړي، سپاه سالار غلام حیدر څرخي او برتانوي افسر اودني (Udny) له خوا له سره ونیول شو سپاه سالار خپل سیال اودني ته څرګنده کړه، چې له امیر نه یې سمه نقشه ترلاسه کړې ده، خو دغه کمیسیون د باشګل درې او داسې هم د مومندو په اړه د برتانوي هند له نظره په مقصد ونه رسېد لکه چې دمخه ویل شوي وایسرای له باشګل درې نه پوره تېر شو او د

مومندو په وېشلو کې هم پاتې راغی، ځکه چې امیر تر پایه پورې ټینګ و، چې ټول مومند د افغانستان خاوره ده او له همدې امله و، چې وایسرای ایلګین بیا وغوښتل چې دغه کرښه له مومندو نه په یو اړخیز ډول تېره کړي، خو د خپل لوی درستیز او د خپلې شورا د غړیو د مخالفت په وجه چې امیر ممکن بیا ټول پروګرام لغو کړي، له دغه کار نه لاس واخیست هغه امیر ته اخطار ورکړی و، چې که د میتایي (Mitai) پوسته لغو نه کړي او له پارونو نه لاس وانخلي، په افغانستان باندې به مواجب ودرول شي او له هند نه به د وسلو ازاد انتقال نه مخنیوی وشي هغه و، چې د امیر په هدایت د میتایي نظامي پوسته د ۱۸۹۷ کال د اپریل په ۲۴مه له افغان سرتېرو نه خالي شوه پر دې برسېره بر تانوي هند د خپل مامور مرک (Merk) له لارې د کوز مومند یو څو خېلونه د پېښو له لارې تر خپل نفوذ لاندې راوستي وو، چې وروسته د "ډاډوړ" خېلونه په نامه یاد شول سره له دې هم دغو خېلونو ته د افغانستان له خوا د لالپورې د خان له لارې، چې د ټول مومندو عنعنوي خان و، مواجب ورکول کېدل امیر تر اخره د مومندو په اړه د میتایي پوستې له خوشې کولو نه غیر بر تانوي هند ته کوم امتیاز ونه منه[۴۹] په خیبر کې یوه وړه برخه هم بې نښې پاتې شوه او نور ټول له سپین غره نه تر چترال پورې په نښه شول

د بلوچستان کميسيون، چې وظيفه يې د ايران تر سرحد ياني د ملک سياه غرونو پورې د کرښې ايستل او په نښه کول و، هم له فکر نه کېدونکيو ستونزو سره مخ شو، که څه هم ددغې اته سوه ميلي کرښې اوږده برخه له وچې بېديا، شګلنو سيمو او سپېرو غونډيو څخه تېرېده، فکر کېده چې دغه کميسيون به خپله دنده په څلورو مياشتو کې سرته ورسوي، خو دغه کار څه باندې دوه کاله ونيول لومړی دا چې انګليس کمشنر کفتان مک مه هون Mac Mahon د ۱۸۹۴ کال د اپريل په پينځمه او سيال يې سردار ګل محمد يوه مياشت وروسته له هغه د مې د مياشتې په اخر کې ډومنډۍ Domandi ته ورسېد عجبه دا ده، چې د دوی ترمېنځ خبرې د خليفه نور محمد له لارې پيل شوې ويل کېده چې امير خپل استازي سردار ګل محمد ته ويلي وو، چې له خپل انګليس سيال سره په نېغه ونه ګوري پر دې برسېره د دواړو نقشې سره متفاوتې وې د معمول په شان له انګليس استازي سره د توافق ليک نقشه او له سردار سره د امير په لاس جوړه شوې نقشه وه د ميک مه هون ټول هغه کوښښونه شنډ شول، چې غوښتل يې له سردار ګل محمد سره په خپله خبرې وکړي، يا دغه سردار هغه کرښه ومني چې د توافق ليک په نقشه کې په نښه شوې وه په پای کې هغه خپل وايسرای له دغسې ستونزې نه خبر کړ او هغه له امير نه د

یوه لیک له لارې وغوښتل چې خپل استازی یوه کړي، چې کرښه د توافق لیک د نقشې له مخې په نښه کړي هغه و، چې بیا دوی دواړو د اګست په اتلسمه د درې ګړیو په موده کې ولیدل او خبرې وکړې، خو بیا هم موافقې ته ونه رسېدل او میک مه هون خپل حکومت ته ولیکل، چې زموږ د خبرو نتیجه په څرګند ډول ښیي چې تر څو امیر سردار ته سمه نقشه او نوي هدایتونه ورنه کړي، زما لپاره به بې ګټې وي چې له سردار ګل محمد سره د پولې په اړه بیا وګورم حقیقت دا دی، چې د تواقف لیک نقشې چې ۱۸۹۳ کې په بېړه کښل شوې وه، تېروتنې لرلې له بلې خوا امیر عبدالرحمن د افغانستان له ختیځو سیمو سره ښه بلد و د هغه مور او نیا او دوه مېرمنې د همدغو سیمو له قومونو نه وې وایسرای بیا امیر ته ولیکل، چې دا ټولې ستونزې له دې امله دي چې هغه امیر خپلو استازیو ته سمې نقشې نه دي ورکړي بیا یې ورته خبرداری ورکړ، چې که هغو ته یې سمې نقشې ورنکړې ددغه کار پایلې به ناوړې وي هغه و چې امیر بیا د خپل بلوچستان کمیسیون استازي ته د توافق لیک د نقشې نقل ورواستوه او په نتیجه کې ددغې برخې پولې د ټاکلو کار پر مخ ولاړ، خو هغه سره له دې هم بې ستونزو نه و بر تانوي هند ددې لپاره چې د کمیسیون کار پرمخ ولاړ شي د په هه کوتل

ACKU

(Kotal) افغانستان تـه پرېښـود کـه څـه هـم هغـه پـه توافـق لیک کې د هند په نفوذي سیمې کې ښوول شوی و.

پـه دغـې نـوې فضـا کـې د بـل کـال (۱۸۹۵) د فبـروری تـر شپاړسـمې پـورې لـه ډومنـډي (Domandi) نـه تـر چمـن پـورې د پـولې د پـه نښـه کولـو کـار د دواړو خـواوو پـه موافقـه سر تـه ورسېد، خـو لـه چمـن نـه د ایـران تـر سـرحد پـورې د کرښې د پـه نښـه کولـو کـار کې ځنډ پېښ شو. یو خـو دا چې نـوی افغـان اسـتازی محمـد عمـر خـان چمـن تـه ښايسـته ځنډ وروسـته ورسېد. پـر هغـه برسـېره د خواجـه عمـران او چمـن تـرمېنځ کرښـې پـه سـر د دواړو تـرمېنځ اخـتلاف پـېښ شـو. دوی لـه چمـن نـه تـر غوښـې پـورې د پـولې د پـه نښـه کولـو کـار پیـل کـړ، خـو کلـه چې محمـد عمـر خـان دغـه برخـه د افغانسـتان خـاوره وبللـه، میـک مـه هـون هغـه رد کـړه پـه دغـه دلیـل چې د هغـه پـه قـول دا د پښـین علاقـه ده او پښـین او سبي خـو د ګنـدمک د تـړون لـه مخـې د هنـد شـوي وو او د کابل پـه توافـق لیـک کې د هند پـه نفوذي سیمه کې نیولی شوی و. لانجه پـه پـای کې بیـا وایسـرای او امیـر تـه ورسېده او وایسـرای ددې لپـاره، چې لـه چمـن نـه د ایـران تـر سـرحد پـورې د لیکې د پـه نښـه کولـو ار پـرمخ ولاړ شي، افغانسـتان تـه د ایلتـاز کـاریز (Iltaz karez) پرېښود. څنګـه چې میـک مـه هـون د ۱۸۹۵ کـال پـه جـون کې هنـد تـه غوښـتل شـوی و، نـور انګلـیس مـاموران د ۱۸۹۶ کـال پـه جنوری کې سره

ټول شول او له افغانانو سره يې په ګډه د ليکې د په نښه کولو کار له سره ونيوه او دغه کار بيا بې له کوم خنډ نه پرمخ ولاړ او د همدغه کال په جون کې ددغې اوږدې ليکې وروستی پايه د ملک سياه غره د پاسه ودرول شوه.[50]

د کرمې کميسيون دمخه له سيکارام (Sikaram) نه تر لارام ( Laram لرم؟) پورې د کرښې د په نښه کولو کار سر ته رسولی و. دغه کرښه د ډانلډ (Donald) او شيرينډل خان په ګډ کوښښ لږ و ډېر د ډيورنډ توافق ليک له مخې ايستل شوې او په نښه شوې وه، چې زياتره يې د افغانستان په ګټه وه. په نښه کولو کې يې طبيعي ځانګړ تياوې او اوبه په نظر کې نيول شوې وې. افغان خوا که څه هم سمه نقشه په لاس نه لرله د کرښې د په نښه کولو کار د ۱۸۹۵ په مېنځ کې سر ته ورسېد او د دواړو خواوو له خوا ومنل شو.

د وزيرستان کميسيون د ۱۸۹۵ کال په جنوری کې د پولې د په نښه کولو کار شروع کړ، خو دغه کميسيون يوازې له انګليس افسرانو نه جوړ و. د هند د وايسرای په وينا امير هغه ته ښکاره کړې وه، چې دغه کار دې دوی په خپله ترسره کړي، بې له دې چې افغان ماموران پکې برخه ولري. د عظمت خان په وينا دغه کميسيون د وزيرو ملک ته د درې زره سرتېرو په زور ننوت او د ګومل له

سین نه لس میله پورته په وانه کې یې په یوه کامپ کې واړول تر دې دمخه په وانه کې افغان نظامي پوسته پرته وه، خو انګرېزان په وانه کې له وسله وال پاڅون سره مخ شول په وزیرو کې دغه فکر زر خپور شو، چې د انګرېزانو په شته والي سره به دوی خپلواکي چې ډېر پرې ویاړېدل له لاسه ورکړي او باجونه به هم پرې حواله شي، نو د ۱۸۹۴ په نومبر کې یې په انګرېزانو برید وکړ او یو شمېر یې د دوو افسرانو په ګډون ټپي کړل، خو په پای کې یې دغه پوځ د جنرال لاکهارت په قومندانۍ دغه پاڅون وځپه او له هغه وروسته د کرښې د په نښه کولو کار له ډومنډي نه پیل شو او د درې پوځي واحدونو په ملګرتوب له خوجه خضر نه د برمل او شوال له درې نه په سختو حالاتو کې په دغه کار موفق شو له ډومنډي نه تر لارام پورې د کرښې د ټاکلو نقشې او یادښتونه امیر ته د هغه د منلو لپاره واستول شول، خو هغه پرې اعتراض وکړ او ویې غوښتل چې یو شمېر ځایونه د یو څو کوتلونو په ګډون باید د افغانستان وي، خو د هغه دغه غوښتنه ونه منل شوه او ور ته څرګنده شوه، چې کومه هغه کرښه چې ښاغلي کنګ او ښاغلي اندرسن ټاکلې، اخري ده او بدلېدلی نه شي [۵۱]

په دغه ډول د بدخشان له بروغیل کوتل نه د ایران د ملک سیاه غرو پورې د یو نیم زر میل په اوږدو کې د

بر تانوي هند د علمي سرحد په تقاضا دغسې کرښه په نښه شوه، چې مقصد يې د کابل توافق ليک له مخې د بر تانوي هند او افغانستان د نفوذي سيمو سره بېلول و. دغه کرښه وروسته د ډيورنډ کرښې په نامه ياده شوه، خو د نفوذي سيمو په دغه ډول سره بېلول د دوو هېوادونو ترمېنځ د پولې مانا لرلی نه شي. په دغې ليکې سره د پښتنو او بلوڅو مهم قومونه لکه ترکلاني، وزير، شينواري، نورزي، اڅکزي، بلوڅ او وروسته مومند سره وېشل شوي وښودل شول چې په اصل کې سره وېشل کېدلی نه شي. دوی په خپلو کې دغسې ټينګ قومي، اجتماعي او اقتصادي اړيکي لري، چې د ليکې د دواړو خواوو حکومتونه هم د هغوی د تګ راتګ مخه نيولی نه شي، نو دوی د پخوا په شان په خپلو کې په تګ راتګ کې آزاد وو. په واقع کې دغه په نامه پوله دوی ته هېڅ وخت د پولې حيثيت نه لاره، په تېره په هغو سيمو کې چې فزيکي او طبيعي خنډ يې نه لاره. دا سمه ده، چې يوځای بل ځای غرونه او له چمن نه تر ايران پورې شګلنې دښتې په لار کې پرتې وې، خو له دغې ډېرې اوږدې کرښې نه د اوښتلو او رااوښتلو لارې دغومره ډېرې وې، چې ددغو قومونو د خلکو لپاره هېڅ خنډ نه و. دا يوازې د زبرځواک بر تانيې زور و، چې د خپلې طلايي مستعمرې يانې هند د خوندي ساتلو لپاره يې د نړۍ په

دغـې سیمې کـې یـو غیـر طبیعـي حـال رامـنځ تـه کـړ او د افغانسـتان سیاسي لاس یې لـه خپلـو سیمو نـه لنډ کـړ، نو دا پـه واقـع کـې د حکومتونـو تـرمینځ د کاغـذ د پاسـه رسـمي پولـه وه، نـه د کرښـې دواړه خـواوو خلکـو تـه او چـې د کرښـې د ختیځـې سـیمې ولسـونه پـوه شـول چـې ملکونـه یـې د برتـانیې پـه نفوذي سـیمه کـې نیـول شوي او خپلـواکي تـه یـې د نامسـلمانو برتانویـانو او هنـدوانو لـه خـوا خطـر پـېښ شـوی دی، د ۱۸۹۷ پـه جـون کـې یـې ددغـې کرښـې پـرخلاف پـه یـوه لـوی سراسـري پـاڅون لاس پـورې کـړ پـه دغـه پـاڅون کـې لـه شـیعه توریـو نـه پر تـه حتـی د کـوز مومنـدو د ډاډه ور ځـانګو پـه ګـډون (د مومنـدو لـه تـرک زي څـانګې نـه پرتـه) ټولـو قومونـو ګـډون لاره او غازیـان یـې د خپلـو قـومي او روحـاني مشـرانو پـه مشـرۍ تـر شـبقدر پـورې ورانـدې لاړل، خـو انګریزانـو د هغـو د غلـي کولـو لپـاره لـږ او ډېر اویـا زره منظم پـوځ پـه بېلـو واحـدونو کـې پـه کـار واچـوه، چـې پـه هغـو کـې یـو هـم د برتـانیې وروسـتی صـدراعظم سـر ونسـتن چرچـل و مهمـه دا ده، چـې دغـو قومونـو پـه دغـه لـوی او بېسـاري پـاڅون سـره د ډیورنـډ کرښـه پـه غوڅـه توګـه رد کـړه[۵۲] لـه همـدې املـه بـه هـم و، چـې انګریزانـو کوښـښ ونـه کـړ چـې د خپلـې هنـدي مسـتعمرې اداري طـرز پـه دغـو قومونـو تطبیـق کـړي د دوی کوښـښ دا و، چـې دغـه قومونـه پـه سیاسـي لحـاظ تـر نفـوذ لانـدې ولـري، چـې دا یـو بېـل

بحث دی او ما ددغې موضوع او د ډیورنډ توافق لیک اړوندې موضوع ګانې په خپلو یاد شویو اثرونو کې په اوږد ډول تر بحث لاندې نیولي دي

دلته به دغومره ووېل شي، چې د ډیورنډ کرښې په نښه کولو سره د افغانستان د ټول حدود ټاکنه پای ته ورسېدله او افغانستان په دغه کار سره نه یوازې تر پخوا نه کوچنی شو، اصلي افغانستان یې هم له لاسه ورکړ

په پای کې بنايي یو ځل بیا ووېل شي، چې د افغانستان د پولو ټاکل کېدلو حرکت چې د امیر شېر علي په وخت کې پیل شوی و، د امیر عبدالرحمن په وخت کې پوره شو د امیر شېر علي په وخت کې د آمو سین د بخارا او افغانستان ترمنځ پوله په لندن کې د برتانیې حکومت او په پیټرسبرګ کې د روسي حکومت له خوا ومنل شوه او سیستان د ایران او افغانستان ترمنځ ووېشل شو د امیر عبدالرحمن په وخت کې د پنجده په کشاله کې له خمیاب نه تر ایران پورې لیکه او په شمال-ختیځ کې د پنجه نهر د بخارا او افغانستان ترمنځ د پولې په شان ومنل شوه په همدغې دورې کې ډېره لانجمنه او ډېره مهمه د ډیورنډ کرښه وه، چې په نښه کولو سره یې اصلي افغانستان له اوسني افغانستان څخه بېل وګڼل شو په دغو ټولو ټاکنو کې د افغانستان رول فرعي یا هیڅ و او افغانستان تر پخوا نه کوچنی شو، خو له بلې خوا په

همدغو پولو ټاکنو سره و، چې افغانستان د دوه اروپايي قوي امپراتوريو ترمينځ د يوه هېواد په توګه پرځای پاتې شو

په واقع کې دا د برتانيې نېغ فشار او زور او په شمال ختيځ کې د تزاري روسيې خطر و، چې امير عبدالرحمن يې د ډيورنډ کرښې منلو ته مجبور کړ له هغه نه پرته هېڅ فکر نه کېده، چې دی به دغه کرښه ومني په داسې حال کې چې ده دمخه پر دې پيل کړی و، چې د افغانستان له لاسه تللې سيمې بېرته ترلاسه کړي او له افغانستان نه لږ تر لږه د امير دوست محمد د وخت افغانستان جوړ کړي د افغانستان په واکمنو کې يوازې ده د برتانوي نفوذ سيمې له خلکو سره ډېر علايق لرل او هغه تر زياتې اندازې شخصي او فاميلي وو دده مور، نيا او دوه مېرمنې له همدغو خلکو ښځې وې او ده هم د نورو افغان واکمنو په شان تر اباسين پورې ملکونه دافغانستان ګڼل پر دې برسېره ده ته به دا هم ډېره دردناکه وه، چې دی چې خپلو خلکو ته يو زور واک واکمن او "اوسپنيز امير" و، د ډيورنډ کرښې په موضوع کې يو بېچاره امير شوی و.

سره له دې ټولو خبرو د وخت په نظر کې نيولو سره د امير عبدالرحمن ونډه د اوسني افغانستان په جوړولو کې مهمه وه. ده تر هر بل افغان واکمن نه ډېر خپل ويښ

ACKU

ژونـد د دولتـي نظـام تنظيمولـو او پيـاوړي كولـو او د هېـواد د خونـدي سـاتلو لپـاره وقـف كـړی و ، چـې نتيجـه يـې دغـه اوسـنی افغانســتان دی. پــه دې حســاب دی د اوســني نــوي افغانســتان مؤسـس كېـږي ، پـه داسـې حـال كـې چـې سـتر احمد شاه د معاصر افغانستان سر مؤسس و.

پای

ACKU

# د ډیورنډ توافق لیک یا د ۱۸۹۳ کال کابل کانونشن

په داسې حال کې چې د هندوستان په خوا کې د افغانستان د سرحدي سیمې په اړه ځینې مسئلې پیدا شوي دي او په داسې حال کې چې دواړه والاحضرت امیر او د هندوستان حکومت هیله من دي، چې دغه مسئلې د دوستي په پوهاوي او د دواړو د نفوذ د ساحو د حد په ټاکلو سره حل شي، ترڅو په راتلونکې کې ددغو متحدو حکومتونو ترمنځ ددغې موضوع په سر د اختلاف نظر نه وي په دې وسیله په لاندې ډول سره موافقه وشوه:

۱_د والا حضرت د ختیځې او سهیلې سرحد توابع دې له واخان نه د پارس تر پولې پورې هغه لیکه تعقیب کړي، چې په هغې نقشې باندې ښوول شوې ده، چې له دغه توافق لیک سره مله ده.

۲_د هندوستان حکومت به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له دغې لیکې نه اخوا د افغانستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي او والاحضرت امیر به هیڅکله په هغو سیمو کې چې له لیکې نه اخوا د هندوستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي.

۳_د برتانیې حکومت په دې ډول موافقه کوي، چې والاحضرت امیر دې اسمار او تر هغه پورته دره تر چاناک

پورې وساتي. له بلې خوا والاحضرت موافقه کوي، چې دی به هیڅ وخت په سوات، باجوړ یا په چترال کې د باشګل یا ارنوايي درې په ګډون مداخله نه کوي. داسې هم د برتانیې حکومت موافقه کوي، چې د برمل سیمه والاحضرت ته پرېږدي، کومه چې په هغې مفصلې نقشې کې ښوول شوې، چې والاحضرت ته دمخه سپارل شوې ده او والاحضرت د پاتې وزیري ملک او داور په هکله له خپلې ادعا نه تېرېږي. په همدې ډول والاحضرت د چاغه په اړه له خپلې ادعا څخه تېرېږي.

۴_ د سرحدي سیمې لیکه به د افغان او برتانوي کمشرانو له خوا له دې وروسته په تفصیل سره وکاږله شي او حدبندي به شي په کوم ځای کې چې د تطبیق وړ او مطلوب وي. ددغو کمشنرانو مقصد به دا وي، چې د سرحد په ټاکلو کې متقابلې پوهاوي ته سره ورسېږي. داسې چې دغه لیکه دې تر نهايي امکان پورې د هغې نقشې له مخې وي، چې له دغه توافق لیک سره مله ده، په داسې حال کې چې ددغې سرحدي سیمې د ګاونډیو کلیو د موجودو محلي حقوقو رعایت پوره شي.

۵_د چمن د موضوع په اړه والاحضرت د برتانوي نوې قشلې په هکله له خپل اعتراض نه تېرېږي او برتانوي حکومت ته هغه حقوق پرېږدي، چې د سرکې تیلرای (Sirkai Tilerai) په اوبو کې يې په بیه اخیستي وو. د سرحد سیمې له دغه ټکي نه به لیکه په لاندې ډول وکاږله شي:

*دغه لیکه به پښه کوتل ته نږدې د خوجه امران غروله سر نه، چې د برتانیې په سیمه کې به پاتې کېږي، په هغه لور کښله کېږي چې مرغه چمن او شاروبو چینه به افغانستان ته پاتې کیږي او د نوي چمن چوڼۍ او د افغان پوسته، چې د لښکر ډنډ په نامه یادېږي، تر نیمایي پورې رسیږي او په داسې حال کې چې (لیکه) به د جنوب په لور روانه وي، د خوجه امران د غرو سره به بیا یوځای کېږي. په دې ډول چې د غوښې پوسته به د برتانیې په علاقه کې او د غوښې په جنوب او لویدیځ کې د شوراوک سړک به افغانستان ته پرېږدي. د برتانیې حکومت به ددغه سړک تر نیم میلي پورې په هیڅ ډول مداخله نه کوي.*

۶_ ددغه توافق لیک دغه پورته فقرې د هندوستان د حکومت او د افغانستان د والاحضرت له خوا د نظر ټول عمده اختلافات، چې د سرحدي سیمې په اړه د دوی ترمنځ پیدا شوي وو، د پوره او قناعت کوونکې فیصلې په ډول ګڼل کېږي او دواړه د هندوستان حکومت او والاحضرت په ذمه اخلي، چې د جزئیاتو په هکله ټول اختلافات لکه هغه چې وروسته به د هغه منصبدارانو له خوا پرې غور کېږي، چې د سرحدي لیکې د حدبندۍ لپاره ټاکل کېږي، د دوستۍ په روحیې سره به فیصله کېږي. ددې لپاره چې تر هغو چې ممکنه وي د دواړو حکومتونو ترمنځ د شکونو او ناسم

پوهاوي سببونه له مېنځه ولاړ شي.

۷_ د هندوستان حکومت ، چې د والاحضرت له روغ نیتی نه د برتانیې حکومت په اړه پوره ډاډمن شوی او غواړي افغانستان پیاوړی او خپلواک ویني ، د والاحضرت له خوا د جنګي لوازمو په رانیولو او واردولو باندې به اعتراض ونه کړي او دوی به په دغه هکله په خپله څه مرسته ورسره وکړي. پرهغه سربېره ددې لپاره چې د والاحضرت د هغې دوستی روحیې نښه وساتله شي ، چې په دغو مذاکرو کې یې ښوولې ده ، د هندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغو دولسو لکو کې شپږ لکه روپۍ زیاتې راوستل شي ، چې والاحضرت ته هر کال د مالي مرستې په ډول ورکول کېږي.

هنري ماتمر ډیورنډ د هندوستان د حکومت د باندنیو چارو وزیر

امیر عبدالرحمن خان ، د افغانستان او د هغه د توابعو امیر

کابل ، ۱۲ نومبر ۱۸۹۳

* * *

# یادښتونه

## لومړی څپرکی

## پښتون

۱ ډېوډ کرستین، دغه ګړندی تلونکې نړی، د بشریت لنډ تاریخ، بارک شر خپرونکي دله،مساچوست، امریکا، ۲۰۰۸، پیلامه، لیکونکی د کلیفورنیا د سان دیګو پوهنتون استاد دی

۲ ج پ مالوري، د هندو اریایانو په پلټنه کې، تیمز او هډسن، ۱۹۸۹، ۲۶۶-۲۷۰ ګورډن چایلډ، اریایان، بارنز او نوبل، نیویارک، ۱۹۹۳

۳ احمد علي کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، لومړی جلد، پښتو کوونکي یو شمېر لیکوال، د افغانستان د تاریخ ټولنه، ۱۳۳۴ ۱۹۵۵، کابل، ۴۴

۴ چایلډ، اریایان، ۲۰۴

۵ جېني ډي وس کمبال، جنګیالی ښځې، ټایم وارنر کمپنی، نیویارک، ۲۲۰۲، Xiii

ACKU

۶ ویلیم مک ګورن، د منځنۍ اسیا لرغوني امپراتوري ګانې، شمالي کارولانیا پوهنتون، ۱۹۳۹، ۲۷
۷ ر ګرشمن، ایران، له لرغوني زماني نه تر اسلامي فتوحاتو پورې، د پنګون خپرونه، ۱۹۶۱، ۶۱
۸ پورتنی اثر، ۱۱ مخ
۹ پورتنی اثر، ۶۳
۱۰ کهزاد، یاد شوی اثر، ۱۱۴-۱۱۵
۱۱ نیکولاس ریاسونافسکي، د روسیې تاریخ، دریم چاپ، د اکسفورډ پوهنتون خپرونه، ۱۹۷۷، ۱۴-۲۷
۱۲ مک ګورن، یاد شوی اثر، ۲۸ چایلد، یاد شوی اثر، ۱۰۴
۱۳ مک ګورن، یاد شوی اثر، ۲۸ چایلد، یاد شوی اثر، ۱۰۹
۱۴ الیکزاندر بیلینیتسکي، منځنۍ اسیا، ژباړونکی جیمز هوګارت، نړۍ وال خپرونکی شرکت، نیویارک، ۹۶۸_۲۶
۱۵ اې اولسمټډ، د پارس امپراتوري تاریخ، شیکاګو پوهنتون، ۱۹۴۸، ۳۴-۶۶
۱۶ هیرودوت، تاریخ، ژباړونکی د ګرین، شیکاګو پوهنتون، ۱۹۸۷، ۱۲۹_۱۳۰
۱۷ کهزاد، یاد شوی اثر، ۸۵_۱۳۲
۱۸ ستینلي ولپرټ، د هند نوی تاریخ، څلوم چاپ، ۱۹۹۳، اکسفورډ پوهنتون، ۲۴_۲۶ ر ج م رابرټس، د نړۍ تاریخ، د پنګون خپرونه، ۱۹۸۸، ۱۱۵ ۱۲۸

۱۹ کهزاد، یاد شوی اثر، ۱۰۹
۲۰ پورتنی اثر، ۱۱۰
۲۱ هېرودوت، تاریخ، ۱۰۲
۲۲ چ و بیلو، د افغانستان نژادونه، سنګ میل خپرونه، لاهور، ۱۱۸۰، ۵۸_۶۰
۲۳ کهزاد، یاد شوی اثر، ۱۱۲
۲۴ کم بال، یاد شوی اثر، ۵۲
۲۵ رچرډ فرای، د منځنۍ اسیا میراث، له لرغوني زماني نه د ترکانو تر خپرېدو پورې، مارکوس وای نر خپرونکی، پرنسټن، ۲۰۰۱، ۹۲
۲۶ کهزاد، یاد شوی اثر، ۱۲۰_۱۲۲، بیلو، یاد شوی اثر، ۵۸_۹۶
۲۷ هېرودوت، ۴۹۳
۲۸ د رنجیو-ان معبد، کیوټو، جاپان، د لیکونکي کتنه، سپتمبر ۲۰۱۰
۲۹ بیلو، یاد شوی اثر، ۶۱. قاضي عطاء الله، د پښتنو تاریخ، عام پریس پېښور، ۱۹۴۷، ۱۲.
۳۰ کهزاد، یاد شوی اثر، ۱۲۲
۳۱ بیلو، یاد شوی اثر، ۸۵
۳۲ میر غلام محمد غبار، جغرافیای تاریخی افغانستان، مرکز نشراتی میوند، ۱۳۷۸ ۱۹۹۹، پشاور، ۷۱
۳۳ کهزاد، یاد شوی اثر، ۱۲۴
۳۴ بیلو، یاد شوی اثر، ۹۰
۳۵ غبار، جغرافیای تاریخی افغانستان، ۷۱

۳۶ غبار، افغانستان و نگاهی به تاریخ آن مجله کابل، سال اول، شماره ۹، ۱۳۱۰ ۱۹۳۱، ۸۴ محمد حسن کاکړ، افغان، افغانستان و مختصری از کوشش های افغان ها برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان، پوهنتون کابل، ۱۳۵۷ ۱۹۷۸، ۳۷

۳۷ صدرالدین عینی، معنای کلمه تاجیک، در تاجیکان در مسیر تاریخ، ترتیب کنندگان، میرزا شکورزاده و بلال عمار، ناشر کتابفروشی فضل، پشاور، ۱۳۷۸ ۱۹۹۹، ۴۱

۳۸ فرای، یاد شوی اثر، ۲۱۴

۳۹ عینی، معنای کلمه تاجیک، یاد شوی اثر، ۴۱

۴۰ فرای، منځنی اسیا یاد شوی اثر، ۱۱۴

۴۱ محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، ۱۸۶۳_۱۹۰۱، برل خپرونکی مؤسسه، لیدن، ۲۰۰۶، ۱۱۰

۴۲ کاکړ، افغان او افغانستان، یاد شوی اثر، ۳۸

۴۳ پور تنی اثر، ۳۵

۴۴ د قول نقل، کاکړ، پور تنی اثر، ۳۵

۴۵ جارج مارگن سټرن، افغانستان، نوی اسلامي دائرة المعارف، ۲۱۷

۴۶ مجاور احمد یار، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز پېښور، ۱۹۷۹ ۲۰۰۱، ۱۱۴، ۱۲۸، ۱۹۴ له پوهاند زیار نه په دې وسیله مننه کوم، چې خپل دغه اثر یې له انګلستان

ACKU

ځخه ماته استولی دی
۴۷ هېرودت، ۴۹۳
۴۸ کم بال، یاد شوی اثر، ۵۱
۴۹ چایلد، اریایان، یاد شوی اثر، ۳۹ کم بال، یاد شوی اثر، ۵۱
۵۰ سټرابو، جغرافیه، لومړی او دویم کتاب، ژباړونکی هوراس جونز، هارورډ پوهنتون خپرونه، کیمبرج، لندن، ۱۹۹۷، ۲۳۵، ۴۴۱
۵۱ چایلد، اریایان، ۳۸
۵۲ کم بال، یاد شوی اثر، ۹، ۹۹، ۲۴۶
۵۳ رنه ګروسې، د هوارو دښتو امپراتوري، د منځنۍ اسیا تاریخ، ژباړونکی وال فورډ رتګرز پوهنتون خپرونه، لندن، ۱۹۷۰، ۲۸، ۲۹
۵۴ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۳۴
۵۵ کم بال، یاد شوی اثر، ۹۹ فرای، منځنۍ اسیا، ۸۲ هېرودوت، ۱۲۶
۵۶ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۸۱ کهزاد، د پخواني افغانستان تاریخ، دویم ټوک، ۱۳۹۹، ۱۳۸_۱۶۴
۵۷ هېرودوت، ۱۲۹_۱۳۰
۵۸ فرای، منځنۍ اسیا، ۸۳_۸۵
۵۹ ګرشمن، یاد شوی اثر، ۲۰۶_۲۱۴
۶۰ کوئنټس روفوس، د سکندر تاریخ، ژباړونکی جان یاډلي، د BCA خپرونه، د پنګون په همکارۍ، ۲۰۰، ۱۶۰

۶۱ پیټر ګرین، د مقدونيې سکندر ژوند لیکنه، د کلیفورنیا پوهنتون خپرونه، برکلي، لندن، ۱۹۹۱، ۳۰۷

۶۲ روفوس، د سکندر تاریخ، یاد شوی اثر، ۱۶۲

۶۳ پورتني اثر، ۱۶۴

۶۴ روفوس، د سکندر تاریخ، یاد شوی اثر، ۱۶۷

۶۵ پورتني اثر، ۱۶۸_۱۷۰

۶۶ پورتني اثر، ۱۷۱

۶۷ پورتني اثر، ۱۷۲

۶۸ پورتني اثر، ۱۷۷_۱۸۱

۶۹ پیټر ګرین، سکندر ژوند لیک، یاد شوی اثر، ۳۶۲

۷۰ روفوس، یاد شوی اثر، ۱۸۱

۷۱ آرین، د سکندر یرغلونه، د سیلنکورت ژباړه، د پنګون خپرونه، ۱۹۵۸، ۲۳۲

۷۲ لیوس کمنګز، لوی سکندر، ګرو خپرونه، نیویارک، ۱۹۴۰، ۲۹۰

۷۳ روفوس، د سکندر تاریخ، ۱۸۳

۷۴ پیټر ګرین، د سکندر ژوندلیک، یاد شوی اثر، ۳۶۸ ارین، د سکندر یرغلونه، یاد شوی اثر، ۲۳۲

۷۵ پورتني اثر، ۳۶۷_۳۷۱

۷۶ تیودور ډاج، سکندر، ده کاپو خپرونه، دغه اثر اول په ۱۸۹۰ کې چاپ شوی و. د ډاج (۱۹۰۹-۱۸۴۲) دغه پنځه ټوکه کم اوه سوه مخونو کې، له سره چاپ شوی اثر د چاپ نېټه نه لري ۵۱۲-۵۱۵

۷۷ پیټر ګرین، د سکندر ژوند لیک، یاد شوی اثر، ۳۸۲

ACKU

۷۸ کمنگز، لوی سکندر، یاد شوی اثر، ۳۲۳

۷۹ ارین، د سکندر یرغلونه، ۲۴۷

۸۰ بل ینی، لوی سکندر، د تاریخ د نه مغلوب شوي جنرال نه درسونه، پال گریو، میکیلن خپرونه، ۲۰۱۰، ۱۴۱_۱۴۳

۸۱ پیټر گرین، د سکندر ژوندلیک، یاد شوی اثر، ۳۸۳

۸۲ ارین، د سکندر یرغلونه، یاد شوی اثر، ۲۸۱

۸۳ گندا سنگهـ، احمد شاه بابا، طارق خپرونې، لاهور، دوهم چاپ، ۱۹۸۱، ۱۱۷

۸۴ ارین، د سکندر یرغلونه، یاد شوی اثر، ۳۶۰_۳۶۳

۸۵ کمنگز، سکندر، یاد شوی اثر، ۴۱۸_۴۳۰

۸۶ روفوس، د سکندر تاریخ، یاد شوی اثر، ۲۴۵

۸۷ رومیلا ده تپر، پخوانی هند، له پیل نه تر ۱۳۰۰م پورې پنگون، ۲۲۰۲، ۱۷۴ پرسیول سپیر، هند، عصري تاریخ، د مشیگن پوهنتون خپرونه، ۱۹۶۱، ۵۴

۸۸ پال برنارد، په ای خانم کې د یونان کالوني او یونانیت په منځنۍ اسیا کې، دغه مقاله په دغه کتاب کې خپره شوې ده افغانستان، د کابل موزیم پټې خزانې، تنظیم کوونکي ف های برت او پ کمبون، د ملي جغرافیایي ټولنې خپرونه، د چین چاپ، ۲۰۰۸، ۸۱_۱۳۱

۸۹ مک گورن، د منځنۍ اسیا پخوانۍ امپراتوري گانې، یاد شوی اثر، ۷۰

۹۰ فرینک هولټ، تندر اچونکی زیوس، د یونان شوې باختر جوړول، د کلیفورنیا پوهنتون خپرونه، لاس انجلس،

ACKU

لندن، ۱۹۹۹، ۱۲

۹۱ کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، اول ټوک، یاد شوی اثر، ۱۲۰

۹۲ مک گورن، یاد شوی اثر، ۶۷ ۶۸ گرشمن، ایران، یاد شوی اثر، ۲۴۳

۹۳ گرشمن، ایران، یاد شوی اثر، ۲۴۲ ۲۴۴

۹۴ پورتني اثر، ۲۴۹ جارج رالنسن، لرغونی تاریخ، لوی مدنیتونه له مخز پېړدي ۳۰۰۰ نه د روم تر پرزېدلو پورې، بارنز او نوبل خپرونه، نیویارک، ۱۹۹۳، ۴۸۸

۹۵ س و وج ود، د زماني غنیمتونه، له لرغوني زماني نه تر شپاړسمې پېړۍ پورې د نړۍ تاریخ، فینکس خپرونه، لندن، ۱۹۸۸، ۱۱۷،

۹۶ رنه گروسي، یاد شوی اثر، ۱۹

۹۷ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۱۲۲

۹۸ پال برنارد، یاده شوې مقاله، ۱۰۴

۹۹ رنه گروسي، ۳۰ ولسن، لرغونی تاریخ، یاد شوی اثر، ۱۳۹ کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، دویم ټوک، د تاریخ ټولنې خپرونه، کابل، ۱۳۳۹، ۱۴۵ فرای، منځنۍ اسیا، ۱۲۷

۱۰۰ بیلو، د افغانستان نژادونه، یاد شوی اثر، ۱۸

۱۰۱ رنه گروسه، یاد شوی اثر، ۳۲

۱۰۲ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۱۳۵ کهزاد، د کوشاني امپراتورۍ اوږد بیان کړی دویم ټوک، ۲۰۰

۱۰۳ مک گورن، یاد شوی اثر، ۴۰۷، ۴۰۸، رنه گروسه ۶۹

ACKU

۱۰۳ الف گرشمن، ۲۸۹-۳۰۹
۱۰۴ چارلز ډورن، د پوهې تاریخ، بالنټاین کتابونه، نیویارک، ۱۹۹۱، ۶۷-۸۹
۱۰۵ گرشمن، ایران، یاد شوی اثر، ۳۰۰-۳۰۲
۱۰۶ روفوس، یاد شوی اثر، ۱۸۱ نیویارک ټایمز، جولای ۱۷، ۴
۱۰۷ رومیلا ده پر (یا پیر)، د پخواني هند تاریخ، یاد شوی اثر، ۲۱۷-۲۱۸
۱۰۸ رالنسن، پخوانی تاریخ، یاد شوی اثر، ۴۸
۱۰۹ تیودور ډاج، سکندر، یاد شوی اثر، ۵۱۶
۱۱۰ روفوس، د سکندر تاریخ، یاد شوی اثر، ۱۲۲
۱۱۱ مک گورن، د منځنی اسیا لرغونې امپراتوري گانې، یاد شوی اثر، ۷-۸
۱۱۲ رالف گرفت (مدون، مترجم او مبصر)، د ریگویدا مذهبي سندرې، خپرونکی موتي لال نبرسېداس، دهلي، ۱۹۷۳ دغه اثر اول په ۱۸۸۹ او بیا په ۱۸۹۹ کې خپور شوی و ۳۴۲، ۵۷۴ له ډاکټر عبدالرحمن زماني نه ډېره مننه کوم، چې دغه مهم اثر او داسې هم د مک گورن اثر په نامه د منځنی اسیا لرغوني امپر توري گانې یې د کلفورنیا پوهنتون له کتابتون نه ماته په امانت راوړي وو
۱۱۳ رالف گرفت، د ریگویدا مذهبي سندرې، پورتنی اثر، ۴۱۲، ۵۷۴
۱۱۴ فرای، منځنی اسیا، یاد شوی اثر، ۱۲۴
۱۱۵ ارین، یاد شوی اثر، ۲۵۵

۱۱۶ کمنګـز ، لـوی سـکندر ، یـاد شـوی اثـر ، ۳۲۸، ۳۲۹
کهزاد ، افغانستان درپر تو تاریخ ، کابل ، ۱۳۴۶ ، ۱۶۰
۱۱۷ مـک ګـورن ، د منځنـی اسـیا لرغـوني امپراتـوري ګـانې ،
یاد شوی اثر ، ۴۷۹
۱۱۸ دوسـت محمـد دوسـت ، د افغانسـتان ژبـې او توکومونـه ،
پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۵۴ ، ۱۰۶
۱۱۹ مک ګورن ، یاد شوی اثر ، ۴۷۸
۱۲۰ پورتنی اثر ، ۴۰۱
۱۲۱ پورتنی اثرپ ، ۲۰
۱۲۲ چ چ ولسـن ، لرغـونې اریانـه ، اسـیایي پـوهنیز
سرویسونه ، نوي دهلي ، ۱۹۹۸ ، ۱۲۱
۱۲۳ پورتنی اثر ، ۱۲۱
۱۲۴ احمـد علـي کهـزاد ، افغانسـتان در شـاهنامه ، بیهقـي
کتـاب خپرولـو مؤسسـه کابـل ، ۱۳۵۵ ۱۹۷۶ ، ۷۴، ۷۵
کهزاد ، د افغانستان پخوانی تاریخ ، لومړی ټوک ، ۲۳۰
۱۲۵ ولسن ، لرغونې اریانه ، یاد شوی اثر ، ۱۴۰
۱۲۶ چایلد ، اریایان ، یاد شوی اثر ، ۸۳
۱۲۷ صـدیق الله رښـتین ، لرغـونې پښـتو ، یونیورسـټي بـوک
ایجنسي ، پېښور ، ۱۳۷۳ ۱۹۹۴ ، ۱۱۳_۱۱۵
۱۲۸ رچردفـرای ، د پـارس طلایـي دوره ، بـارنز او نوبـل
خپرونه ، نیویارک ، ۱۹۷۵ ، ۹۲
۱۲۹ مارګن سټرن
۱۳۰ د قـول نقـل ، زیـار ، پښـتو او پښـتانه د ژبپـوهنې پـه رڼـا
کـې ، د سـاپي پښـتو څېړنـو او پراختیـا مرکـز ، پېښـور ،

۲۰۰۱، ۱۷۴

۱۳۱ کم بال، ځنګیالی ښځې، یاد شوی اثر، ۴۴

۱۳۲ دوست، د افغانستان ژبې، یاد شوی اثر، ۱۱۲ هېرودوت، ۱۲۹

۱۳۳ الیکزاندر بیلینستکي، منځنۍ اسیا یاد شوی اثر، ۷۷، ۷۶، ۵۵، ۱۰۲، ۱۱۶

۱۳۴ محمد حسن کاکړ، ټولنه او حکومت د امیر عبدالرحمن په امارت کې، د ټکساس پوهنتون خپرونه، استن، ۱۹۷۸، ۱۲۳ ۱۲۴

۱۳۵ جوسف داهموس، د منځنیو پېړیو تاریخ، بارنز او نوبل خپرونه، ۱۹۶۸، ۱۶۱

۱۳۶ دوست، د افغانستان ژبې، یاد شوی اثر، ۳۹، ۱۱۴ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۱۹۱ محمد هوتک، پټه خزانه، دوهم چاپ، ۱۳۳۹، ۳۲

۱۳۷ محمد هوتک، یاد شوی اثر، ۳۰

۱۳۸ د افغانستان ژبې، یاد شوی اثر، ۱۱۴ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۱۹۱

۱۳۹ عبدالعظیم رضایي، تاریخ ده هزاره ساله ایران، از پیدایش اریاها تا انقراض پارت ها، ج ا، نشر کرده اقبال، تهران، ۱۳۷۲، ۹۰ په دې وسیله له محترم عبدالواحد فراهي نه مننه کوم، چې ددغه اثر ځلور ټوکونه یې ماته د خپل ورور محترم عبدالغفار فراهي په لاس استولي وو

۱۴۰ کلنټن، د سهراب او رستم تراجیدي، واشګټن

پوهنتون خپرونه، سسیاټل، ۱۹۹۶، مقدمه
۱۴۱ کهزاد، افغانستان در شاهنامه، یاد شوی اثر، ۲۱
۱۴۲ رضایي، تاریخ ده هزار ساله ایران، یاد شوی اثر، ۸۸ کلنټن، د سهراب او رستم تراجیدي، یاد شوی اثر، ۱۸۸
۱۴۳ رضایي، تاریخ ده هزار ساله ایران، یاد شوی اثر، ۴۰
۱۴۴ دوست، د افغانستان ژبې، یاد شوی اثر، ۱۱۵
۱۴۵ رضایي، تاریخ ده هزار ساله ایران، یاد شوی اثر، ۸۹
۱۴۶ احمد علي کهزاد، غرغښت یا گرشاسب، انتشارات دانش، پشاور، ۱۳۷۸ ۱۹۹۹، ۴۵
۱۴۷ پور تني اثر، ۴۶
۱۴۸ محمد حیات خان، حیات افغاني، ژباړونکي فرهاد ظریفي او عبداللطیف طالبي، دانش خپرندویه ټولنه، دویم چاپ، ۱۳۸۶ ۲۲۰۷، ۵۱ له محترم محمد حسن شېرزاد نه په دې وسیله مننه کوم، چې دغه اثر یې راکړی دی
۱۴۹ چایلډ، اریایان، یاد شوی اثر، ۱۳
۱۵۰ د پښتنو شجرې په ډېرو اثرونو کې ثبت شوي دي په دې اړه نوي او مهم اثرونه دا دي شهسوار سنگروال، د افغانستان قومونه، خپرندوی شمله، پېښورو ۲۰۰۷ م ج سیال مومند، د پښتنو قبیلو شجرې، یونیورسټي بوک ایجنسي، پېښور، ۱۹۸۸ مارگن سټرن، خلک، د پښتو ژبه، پښتو ادبیات، اسلامي دایرة المعارف، لومړی

ټوک، ۱۹۶، ۲۱۶ ۲۲۱ محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډيپلوماتيکي تاريخ، برل خپرونکې مؤسسه، ليدن، ۲۰۰۶، ۱-۳

۱۵۱ نعمت الله، د افغانانو تاريخ، ژباړونکی برنارډ ډورن، وآن ګارډ بوکس، لاهور، ۱۹۹۹، دويم ټوک، ۶۴، ۷۲

۱۵۲ کهزاد، غرغښت يا ګرشاسب، ياد شوی آثر، ۵۶

۱۵۳ محمد حيات خان، حيات افغاني، ۱۲۳

۱۵۴ هنري پريسټلي، حيات افغاني (انګرېزي متن) ياد شوی اثر، ۵۳

۱۵۵ م الف شابان، اسلامي تاريخ، نوی تعبير، له ۶۰۰ نه تر ۷۵۰م پورې کمبرج پوهنتون خپرونه، لندن، نيويارک، ۱۹۷۱، ۲۳

۱۵۶ برنارډ لويس، عربان په تاريخ کې، اکسفورډ پوهنتون خپرونه، اکسفورډ نيويارک، ۱۹۹۳، ۴۳

***

# دويم څپرکی

## افغان

۱ مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، مؤسسه چاپ کتب، کابل، ۱۳۴۶ ۱۹۶۷، ۳۰۸_۳۰۹

۲ ج بوزورت، د غزنويانو امپراتوري، اډنبره پوهنتون، ۱۹۶۳، ۱۱۳

۳ سير ګلاسي، نوی اسلامي دايرة المعارف، التمه ميرا پريس، ۲۰۰۲، ۸۹

۴ ویل ډیورانټ، زموږ د ختیځ میراث، ساین او شوستر، نیویارک، ۱۹۵۴، ۵۶۱
۵ کهزاد، افغانستان در شاهنامه، یاد شوی اثر، ۲۸۸
۶ د قول نقل، وارتن ګریګوریان، د معاصر افغانستان هسکېدنه، ستېیفورډ پوهنتون، ۱۹۶۹، ۲۹
۷ د قول نقل، محمد حسن کاکړ، افغان، افغانستان ، یاد شوی اثر، ۱۸
۸ اولاف که رو، پټانان، میکمیلن خپرونه، ۱۹۶۵، ۷۹
۹ ګریګوریان، د معاصر افغانستان هسکېدنه، یاد شوی اثر، ۲۹
۱۰ بري هت سمهتیا، د مدورا ژباړه، ۱۸۸۴، دویم فصل، لمبر ۱۶، فصل ۱۶، لمبر ۳۸
۱۱ پرسي سایکس، د افغانستان تاریخ، لندن، لومړی ټوک، ۱۵۴
۱۲ شون چونګ، د لویدیځې نړۍ بودایي سندونه، یاد شوی اثر، ټوک ۱، ۴۹، ۵۱
۱۳ کنګهم، د پخواني هند جغرافیه، لندن، ۱۸۷۱، ۸۷
۱۴ پورتنی اثر، ۸۹
۱۵ غلام جیلاني ځواک، اصالت و هویت تاریخي افغان و افغانستان، افغان ملت اونیزه خپرونه، سلواغه ۱۳۸۲، فبروري ۲۰۰۴
۱۶ عبدالحی حبیبي، افغان و افغانستان، دغه کتابګوټی د حبیب الله رفیع په پښتو ژبه ساپې د موقوفاتو اداري له خوا په ۱۹۹۸ کې هم چاپ شوی دی

۱۷ کهزاد، افغنستان در شاهنامه، یاد شوی اثر، ۲۸۷ ۳۰۷
۱۸ کاکړ، افغان، افغنستان، یاد شوی اثر، ۲۱
۱۹ نامه احمد شاه به سلطان عثماني د غلام جیلاني جلالي په مقدمه، کابل مجله، ۱۳۴۶ ۱۹۶۷، ۹
۲۰ ج پ فریه، د افغانستان تاریخ، ژباړن ولیم جیسي، ۲۰۰۲، سنګ میل خپرونه، لاهور، ۱۱
۲۱ فلورنټیا سیل، په افغانستان کې د مصیبتونو جورنال، ټاټاټالون پریس، ټني سي، ۲۰۰۲، ۵۳
۲۲ جان کې، په افغانستان کې د جنګ تاریخ، لومړی ټوک، شوبي خپرونه، دهلي، ۱۹۹۹، ۳۴۲ دغه اثر اول ځل په ۱۸۵۱ یانې د افغان انګلیس له لومړي جنګ نه وروسته خپور شی و
۲۳ د قول نقل، جان کې، په افغانستان کې د جنګ تاریخ، یاد شوی اثر، ۳۶۳
۲۴ امان الله، حاکمیت قانون در افغانستان، د حبیب الله رفیع په مقدمه او سمون، امان کتاب خپرولو مؤسسه پېښور، ۱۹۹۹، ۱۱۷، ۲۱۱ په دې وسیله له محترم رفیع صاحب نه مننه کوم، چې دغه مهم کتاب یې راکړی دی

***

# درېیم څپرکی

## افغانستان

۱ کهزاد، اریانا، یاد شوی اثر، ۷ ۸
۲ د ختیځ سپېڅلي کتابونه، د ویدي مذهبي سندرو، زند اوستا، د ماپادا، او پانیشاد، قرآن او د بودا د ژوند څخه

ځینې برخې، کولونیل پرس، ۱۹۰۰، ۶۷ ۶۹ د لیکونکي شخصي کتابتون
۳ غبار، افغانستان بیک نظر، کابل، ۱۳۶۷ ۱۹۸۸، باهتمام امین الله بشر دوست، ۳۰
۴ کهزاد، افغانستان در پرتو تاریخ، د کتاب چاپولو مؤسسه، کابل، ۱۳۴۶ ۱۹۶۷، ۲۵، کهزاد، اریانا، یاد شوی اثر، ۴۴
۵ چایلډ، اریایان، یاد شوی اثر، ۱۰۹
۶ فرای، منځنۍ اسیا، یاد شوی اثر، ۸۹
۷ کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، یاد شوی اثر، ۹۴ غبار، افغانستان بیک نظر، یاد شوی اثر، ۲۰
۸ کهزاد، اریانا، یاد شوی اثر، ۹۵
۹ غبار، افغانستان بیک نظر، یاد شوی اثر، ۶۵
۱۰ کهزاد، افغانستان در شاهنامه، ۱۷۴
۱۱ پورتنی اثر، ۱۷۴
۱۲ کهزاد، اریانا، یاد شوی اثر، ۴۶
۱۳ ولسن، لرغوني اريانه، یاد شوی اثر، ۱۲۰
۱۴ ولسن، لرغوني اريانه، یاد شوی اثر، ۱۲۱ کهزاد، اریانا، یاد شوی اثر، ۵۷_۵۹
۱۵ کهزاد، اریانا، یاد شوی اثر، ۴۷_۵۰
۱۶ رومیلا تپر، لرغونی هند، یاد شوی اثر، ۳۹
۱۷ الیساندرو باساني، پارسیان، سان مارتیني پرس، نیویارک، ۱۹۷۱، ۱۱
۱۸ هیوکنیدي، د عربو ستر فتوحات، ده کاپو پریس، د

ACKU

امريکې چاپ ۲۰۰۷، ۱۸۷
۱۹ پورتنی اثر ، ۱۸۸
۲۰ فرای ، د پارس طلايي دوره ، بارنزاونوبل پرس ، ۱۹۹۶، ۱۳
۲۱ فرای ، پورتنی اثر ، ۱۳ فرای ، د منځنی اسيا ميراث ، ياد شوی اثر ، ۱۴۸ ۱۴۹
۲۲ غبار ، خراسان ، ناشر محمد ظاهر یونسي ، چاپ دوم ، کابل ، ۱۹۹۸، ۳۲
۲۳ کنيدي ، د عربو ستر فتوحات ، ياد شوی اثر ، ۲۸۹
۲۴ پورتنی اثر ، ۱۹۶_۱۹۷
۲۵ پورتنی اثر ، ۱۹۸
۲۶ غبار ، خراسان ، ياد شوی اثر ، ۲۴
۲۷ سيف بن محمد ، تاريخ نامه هرات ، مقدمه از محمد زبير صديقي ، ناشر کتابفروشی خيام ، کلکته ، ۱۹۴۳، مقدمه ، ۱۳ محمد حسن کاکړ ، زما غوره ليکنې ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ، ۲۰۱۰، ۲۳۸ د معاصر افغانستان تاريخپوهان ، مقاله
۲۸ سيف بن محمد ياسيفي ، تاريخنامه هرات ، پورتنی اثر ، ۷۶
۲۹ د قول نقل ، کاکړ ، افغان و افغانستان ، ياد شوی اثر ، ۹
۳۰ سيفي ، تاريخنامه هرات ، ياد شوی اثر ، ۲۲۴
۳۰- الف پورتنی اثر ، ۲۶۳
۳۱ حبيب الله تږی ، پښتانه ، د پښتني فرهنګ د ودې ټولنه جرمني ، پېښور ، ۱۹۹۹، ۲۱۰ ۲۳۰

ACKU

۳۲ کاکړ، افغان، افغانستان، یاد شوی اثر، ۵۳_۶۴
۳۳ کاکړ، زما غوره لیکنې، یاد شوی اثر، ۵۴_۶۳
۳۴ سلطان محمد، تاریخ سلطاني، بمبی، ۱۲۹۸ هجري قمري، ۱۲۲ کاکړ، غوره لیکنې، یاد شوی اثر، ۶۵_۸۶
۳۵ کاکړ، افغان، افغانستان، یاد شوی اثر، ۹۷-۹۸
۳۶ کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، یاد شوی اثر، ۱۶۳ ډ پ سنگهل، هند او افغانستان، ۱۸۷۶-۱۹۰۷، د دیپلوماتیکي اړیکو مطالعه، کوینزلیند پوهنتون خپرونه، استرالیا، ۱۹۶۳، ۱۰ ج الدر، د برتانوي هند شمالي سرحد، د امپراتوری سیاست په اړه مطالعه، ۱۸۹۵-۱۸۹۵_ لندن، ۱۹۶۳، ۱۷۵
۳۷ سنگهل، افغانستان او هند، یاد شوی اثر، ۱۰-۱۲
۳۸ پور تنی اثر، ۱۶۸
۳۹ کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، یاد شوی اثر، ۲۰۵
۴۰ پور تنی اثر، ۲۰۰_۲۰۷ سنگهل، افغانستان او هند، یاد شوی اثر، ۱۰۷-۱۲۹
۴۱ کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، یاد شوی اثر، ۱۷۷-۱۹۲ کاکړ، زما غوره لیکنې، یاد شوی اثر، ۹۹_۱۸۶ سنگهل، هند او افغانستان، یاد شوی اثر، ۱۳۳_۱۶۱
۴۲ سنگهل، افغانستان او هند، ۱۴۴
۴۳ پور تنی اثر، ۱۴۴
۴۴ کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، یاد

شوی اثر ، ۱۷۷-۱۹۲ کاکړ ، زما غوره لیکنې ، یاد شوی اثر ، ۹۹ ۱۸۶ ډیورند ، د واحد ملت د بېلتون کرښه ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ، ۱۳۸۶ ۲۰۰۷

۴۵ کاکړ ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیکي تاریخ ، یاد شوی اثر ، ۱۸۶

۴۶ پورتنی اثر ، ۱۸۳

۴۷ عظمت حیات خان ، د ډیورند کرښه ، د هغې جیوستراتیجکي اهمیت ، د پېښور پوهنتون ، ۲۰۰۰ ، ۱۰۹ ۱۶۱

۴۸ کاکړ ، د افغانستان حکومت او جامعه د امیر عبدالرحمن په امارت کې ، د تیکساس پوهنتون خپرونه ، ۱۹۷۹ ، استین ، لندن ، ۲۴۸

۴۹ سنګهل ، افغانستان او هند ، یاد شوی اثر ، ۱۵۷

۵۰ سنګهل ، افغانستان او هند ، ۱۵۴ ددغې اوږدې کرښې د په نښه کولو بیان کې د عظمت حیات خان بیان یو څه متفاوت دی او دده په وینا میک ماهون تر پایه پورې د بلوچستان د کمیسیون کار پرمخ بیوه عظمت حیات خان ، د ډیورنډ کرښه ، ۱۶۶-۱۶۸

۵۱ عظمت حیات خان ، د ډیورند کرښه ، ۱۶۲ ۱۶۶ سنګهل ، ۱۵۵

۵۲ کاکړ ، د افغنستان سیاسي او ډیپلوماتیکي تاریخ ، ۱۸۹

# د پوهاند کاکړ نور خپاره شوي آثار

## په پښتو کې:

د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې (۲۰۱۰)
زما غوره لیکنې (۲۰۱۰)
د سرطان کودتا (۲۰۰۹)
د پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه (۲۰۰۴)
وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامي ینسټ پالنه (۲۰۰۴)
رڼا او دفاع (لیکونکی، د مقالو تنظیم کوونکی) (۱۹۹۹)
افغانان د شپږ شپېتم کال په پسرلي کې له شورویانو سره د جنګ په حال کې (۱۹۹۰)
د افغانستان په اړه د ژنیو جوړه (۱۹۸۸)

## په فارسي کې:

افغان، افغانستان و مختصری از کوشش های افغان برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان (۱۹۷۸)
جنگ دوم افغان _ انگلیس (۱۹۸۹)
مسئله افغان (۱۹۹۰)

## ژبـــاړې:

د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر ښه انسان د بالابانس لیکنه (۲۰۱۰)

ACKU

خاطرې، د یوې دورې لنډ تاریخ، د محمود طرزي لیکنه (۲۰۰۷)
د پوهنې فلسفي بنسټونه، د جارج نیلر لیکنه (۲۰۰۲)
د کابل سلطنت بیان، لومړی او دویم ټوک، د الفنسټن لیکنه،
نصرالله سوبمن د مقدمې ژباړونکی، (۱۹۸۲)
دموکراسي در جهان امروز، د میکفیرسن لیکنه (۱۹۷۱)
تاریخ څه ته وایي؟ د ای.اچ.کار لیکنه (۱۹٦۸)
ماکسم گورکي د ابیاتو په اړه (۱۹٦۱)

## په انگرېزي کې:

د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ (۲۰۰٦)
افغانستان، د شوروي یرغل او د افغانانو ځواب (۱۹۹۵)
د افغانستان حکومت او ټولنه، د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ
کې (۱۹۷۹)
افغانستان، د داخلي سیاسي انکشافاتو مطالعه (۱۹۷۱)

PROPERTY OF ACKU
32319

Download from; aghalibrary.com

# Pokhtoon, Afghan, Afghanistan

Download from; aghalibrary.com

**By:**
**Prof.Dr.M.Hassan Kakar**

(یوویشتمه پېړۍ، افغانستان او راتلونکي لرلیدونه)
سیمینار په ویاړ

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۱۲۵)